
# ویاړلي څېرې



Ketabton.com

نورالله زهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وياړلي څېرې

نورالله زهير

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د چاپ حق خوندي دی.

کتاب نوم:: ویاړلي څېرې
لیـکنـه او راټولونـه:: نورالله زهیر
کمپوز او ډیزاین:: پسرلی ادبي بهیر
پښتی:: صفي الله بهـار
کال:: ۱۳۹۹ل/۲۰۲۰م
پر نیټ خپرندوی:: پسرلی ادبي بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـيـکـلـړ


- سید جمال الدین افغان.............................................................۱
- ابن خلدون.............................................................................۹
- سقراط.................................................................................۱۵
- رابندر ناتهـ ټاګور...................................................................۲۱
- محمد ګل خان مومند..................................................................۲۵
- ګل پاچا الفت.........................................................................۳۲
- قیام الدین خادم.......................................................................۳۹
- عبدالرؤف بېنوا......................................................................۴۴
- عبدالکلام ازاد.........................................................................۴۷
- جبران خلیل جبران....................................................................۵۰
- ویلیام شکسپیر.........................................................................۵۵
- وکټور هوګو...........................................................................٦۴
- فرانسوا ماري ولټر...................................................................۷۱
- اسدالله غضنفر........................................................................۷۷
- ژان پل سارتر........................................................................۸٦
- مهماتما ګاندي.........................................................................۹٦
- ارسطو.................................................................................۱۰۲
- اجمل ښکلی...........................................................................۱۰۷
- عبدالغفور لېوال.......................................................................۱۱۵
- لیف تولستوی.........................................................................۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـۍ

## د پـښتـو

## ژبـي او ادب

## مینـه والو تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څو خبرې

د پوهنتون د څلور کلنې تحصیلي دورې په ازاده او خوره وره مطالعه کې چې ما له بېلابېلو کتابونو، مجلو، ورځپاڼو او ویبپاڼو، د بېلابیلو فیلسوفانو، ادبي سیاسي او ملي څېرو ځینې ویناوې یاداښت کړې وې؛ دلته مې د هر یوه ویناوې رابیلې او یو ځای کړې. زیاتونه او سمونه مې پکې وکړه. ځینې نورې څېرې مې هم ورسره یو ځای کړې. د هرې څېرې لنډه پېژندنه مې ورسره راواخیسته او کتابي بڼه مې ورکړه.

په دې کتاب کې یوازې نړیوالې او سیمه ایزې مشهورې څېرې نه، بلکې د خپل هیواد پښتنې، ملي، سیاسي او ادبي څېرو پېژندنه او د هغوی مختلفې ویناوې، چې د دوی له اثارو ما اخیستې وې ورسره یو ځای کړې.

دلته د راغلو څېرو ویناوې د ژوند، مینې، ژبې، ادب، سیاست، علم، ټولنې او نورو اړخونو په اړه دي. هره وینا پر خپل ځای ارزښت لري. ارزښت ئې دا دی چې ډېر څه ویل په لږو کلماتو کې بیان شوي دي. له یوې وینا مونږ پوهېدای شو، چې تر شا ئې څومره خبرې شته او څومره لوی مفهوم په څومره لږو کلمو کې ځای شوی دی. هره وینا په خپل اړخ کې یو لارښود دی.

له کومو اثارو چې مې مستقیم اخذ کړی دی په ماخذونو کې مې ښودلې دي.

خدای دې وکړي، چې د مینه والو لپاره یو څه شي او دا وړه هڅه یو ځای ونیسي.

نور تاسو او کتاب.

ښه مو غواړم.

درنښت

نورالله زهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید جمال الدین افغان



سید جمال الدین د سید صفدر زوی دی. په افغانستان کې د یوې لویې کورنۍ څخه دی. د نسب سلسله یې سید علي ترمذي ته رسیږي.

په ۱۲۵۴هـ.ق کال چې د ۱۸۳۹ میلادي کال سره برابر دی د کونړ په اسعد اباد کې زیږېدلی دی.( ۳، ۲۱ مخ)

علامه سیدجمال الدین افغان په افغانستان او سیمه کې د یوې منظمې او منسجمې اسلامي او مترقي مبارزې بنسټ ایښودونکی او مخکښ دی.

د علامه د مبارزې موخه دا وه چې اسلامي قلمرو او حتی ټول ختیځ له کورنۍ زورواکۍ او بهرني ښکېلاک څخه ازاد کړي او اسلامي هیوادونه د نوي تمدن له ټولو وسایلو نه په استفادې سره د مترقي او پرمختللي ژوند پر لور گامونه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه سید جمال الدین افغان، افغان و، د افغانستان و، د افغانستان په کونړ کې زیږېدلی و، دلته یې د ماشومتوب دوره تېره کړې وه بیا یې د زده کړو لپاره هندوستان، ایران او ځینو نورو هیوادونو ته سفرونه کړي او د امیرمحمد اعظم خان د واکمنۍ پر وخت یې د لومړي وزیر په توګه کار کاوه او پاچا ته یې سالمي او صالحي مشورې ورکولې... په ټولو اسلامي هیوادونو او ختیځ کې یې د ازادۍ ځانګو وځنګوله او غورځنګونه او نهضتونه یې راولاړ کړل کتابونه یې ولیکل، خپرونې یې راوایستې او خپله اسلامي او د ازادۍ غوښتني دنده یې تر سره کړه. ۳،۳ـ۴ مخونه

سید جمال الدین افغان په ۱۸۹۷م کال د مارچ پر ۹ مه نېټه په استنبول کې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او هلته خاورو ته وسپارل شو. په ۱۹۴۴م کال په وروستیو کې د افغان دولت په غوښتنه یې جسد افغانستان ته راوړل شو او د کابل پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شو.

- ازداي اخیستل کېږي، ورکول کېږي نه.
- زه د ظالم او مظلوم سره یو شان دښمني لرم، ظالم د هغه د ظلم او مظلوم د دې لپاره چې ظلم یې قبول کړی دی.
- زه دې ته احتیاج نه لرم چې ځان کوم بل ملت ته منسوب کړم زه افغان یم افغان (افغانستان) لومړنۍ هغه ځمکه ده چې زما وجود یې خاوره لمس کړې ده.
- د هغه حق فایده نشته چې قوت او طاقت ورسره مرسته ونه کړي.
- بې له اسلام نه بل هیڅ غرض نه لرم، نن اسلام ته خدمت په دې منحصر ګڼم چې ټولو مسلمانانو ته په دغه علم کې هدایت وغواړم.
- هغه ملت چې مرګ ته په خندا او موسکا ښه راغلی ونه وایي ژوندی به پاتې نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- عاجزي د فضيلت دښمن دی او شتمني د رذالت سره مرسته کوي.
- اديب په شرق کې د ژوندانه پر وخت مړ، خو د مړينې نه وروسته ژوندی کېږي.
- د نيت د خاوند له منځه وړل د هغه نيت له منځه وړای نشي.
- دا ساده توب او بې عقلي ده چې يو انسان پر بل باندې د عمر او زړښت په اساس عقيده او باور لري مشرتوب زياتره د فضيلت او بهترۍ موجب نه ګرځي.
- د عملي او سمدستي اقدام ارزښت او قدر يوازې د تشي وينا افتخار محوه کوي ( يعنې د وينا څخه عملي حرکت او اقدام ته زيات ضرورت دی او خلک د عقل تر اغېزې لاندې راتلی شي.
- بد او پست انسان هغه دی چې د خپل ژوند لپاره د خلکو مرګ غواړي او په انسانانو کې د لوی شخصيت خاوند هغه دی چې د خلکو د ژوند لپاره که څه هم د يوه تن ژوند برابر کړي ايثار او قرباني ورکولو ته حاضر وي.
- ذلت او صحيح علم سره يو تر بله ضديت او مخالفت لري دواړه سره نه يو ځای کېږي.
- د مقدماتو اوږدوالی د نتايجو په ضعف باندې دلالت کوي.
- څوک چې د پاچاهانو او د قدرت د خاوندانو څخه بې له کوم جرات کولو ډارېږي دا ګدايګر دی.
- يو انسان په تواضع سره ښه کېدای نشي مګر چې څه علم هم ولري.
- په تواضع کې افراط (يعنې چې که يو سړی له اندازې نه زياته خپله عاجزي ښکاره کړي) دا يې په دې دلالت کوي چې ادعا لري (يعنې د کوم مطلب لپاره يې چل جوړ کړی دی.)
- ناپوه مه وژنئ، ناپوهي ئې ووژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چا تـه چې دروازه خلاصـه شي او دا خل نشي د دې ورځ دی چې وشړل شي.
- حق ډېر ځلې بې له زحمت گاللـو څخه نه حاصليـږي.
- هيـڅوک د خـپل ملــت په مينـه کې نـه دی مړ شـوی مگر چې ملت يې بيرتـه ژونـدی کړي.
- کـه څوک لـه ژونـد سره مينـه لري نــو د خــپل ملت د ژونـد پـه ليـاره کې دي مړ شي.
- هيڅ يـو ملــت بې لـه اخلاقو پـاتي کېدای نشي او اخلاق بې له عقيدې ځان نـه نيسي او عقيده بې له پوهي نـه پـيـدا کېږي.
- د ملتـونو او ولــسونو بهتر اټکل او اندازه معلومول پـه اخلاقو کېدای شي بهتر د اخلاقو څخه هغه خـلق حسابېدای شي چې سړی د ځان څخه تېر شي او د ځان څخه د تېرېدو دليل په کار او عمل باندې اقدام دی.
- د زرو ويناوو درونـدوالی پـه تـرازو کې د يـوه کار د دروندوالي پـه اندازه وزن نــه لري.
- بهتر هـغه چې شرق او ختيځ ورته احتياج او ضرورت لري قوي او عادل پاچاهان او د قدرت خــاوندان دي، خو په ضعيف عادل کې کومه فايده نشته لکـه چې پـه قوي ظالم کې خير نـه ليدل کيږي.
- د استـقلال هيلـه د کار او عمل لپـاره ده.
- کله چې ميدان د پــوهانو او عالمانو څخه خالي شي جاهلان ورتـه دانگي او يـو پـه بل سبقت کوي.
- فـقـير عالــم پـخـپل عـلـم بـاندې غني وي او جاهل غني د خپل جهل له کبلـه ضعيف دی.
- اخبار د هر ولس ژبه ده.
- استـقلال او ازادي تـه پـه تشو ويـنـاوو څوک نشي رسېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که څوک عقیده ولري چې بې له دې فاني ژوند نشته نو هغه په دنیا او اخرت کې نقصان او تاوان وکړ اول او دویم یې دواړه له لاسه ورکړل.
- که څوک د وطن د خدمت په لیاره کې مرګ غواړي یعنې چې په مرګ ډیل نشي یا به مجاهد سرباز او شهید مري او یا به د عزت او سرلوړۍ ژوند کوي.
- څوک چې ژوند کې متانت وکړي او د تنګسو په تجربو برلاسی او بریالی شي د ده لپاره غوره دا ده چې له خپلو تجربو څخه عبرت واخلي.
- ستونځې او مشکلات همت لوړوي.
- د جاهل په مخ کې چې عاقل ماته وخوري دا بهتره ده له دې څخه چې ورباندې غالبه شي.
- صالح هغه دی چې د الله تعالی عبادت کوي دا د دې لپاره نه چې له دوږخه یې ډاریږي او یا د جنت لپاره امید او تمه لري بلکې له دې سببه چې الله په ټولو کمالیه اوصافو او صفاتو موصوف او له ټولو نواقصو څخه پاک د عبادت او تقدیس وړ دی.
- د ځینو پګړۍ وهونکو جمود او ناپوهې اسلام او مسلمانانو ته زیات تاوان رسوي.
- یو ملت چې د خپل حق اخیستلو په لیاره کې یو ساعت جهاد وکړي دا ورته تر قیامته پورې ذلت او د پستۍ له ژوند نه ښه ده.
- یو ملت چې بې خبرو ظالمانو په مقابل کې ځان مسلح نه کړي نو ورباندې دا حکم وکړه چې د څارویو او بې عقله حیواناتو څخه هم بدتر دی.
- یو ملت چې له خپلو حاکمانو څخه له ورایه شکایت کوي او په ښکاره د هغو عبادت کوي یعنې پوره اطاعت ورته لري داسې ملت د ژوند کولو حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ایمان او یقین دا معنی نه ده چې د دین د مشرانو او روحانیونو عبادت وشي.
- بده زمانه او وخت هغه دی چې جاهل بری ومومي(لاربسوونه یې په لاس وي) او عاقل چوپ وي.
- کومه وېره چې د حاکم له کرسي څخه د عدالت او فضیلت په اساس نه وي هغه د احترام په ځای کې د مسخرو کولو وړ وي.
- په کومه اندازه چې د قدرت خاوندان او پاچاهان د خلکو څخه پټ وي په هماغه اندازه دوی د حقایقو څخه هم لیري پاتې کېږي.
- څوک چې بد او خبیث شي نو د هغه ظاهري وضع نرمه وي چل او فرېب به یې ډېر وي.
- ځوانان د لېونتوب یعنې د احساساتو پلونه دي پوهان او عاقلان مجبور دي په دې پله تېر شي.
- سیاسي احزاب ډېره ښه اجتماعي دوا ده، خو په شرق کې اکثره د بدي دوا خاصیت پیدا کوي.
- غرب په علم پورته شو او شرق په جهل او سستۍ ښکته پاتې شو.
- د فکرونو مېوه یواځې په دې لاس ته راځي چې فکرونه د اوهامو له قیدونو خلاص شي.
- په اوهامو باندې د افکارو تړلو او قیدولو څخه د ځنځیر تړل او قیدول اسانه دي.
- څوک چې تقلید او خپلې خوښې په اساس وایي چې دین په سختۍ امر کوي نه په اسانتیا، په ضرر امر کوي نه په فایدې دا شخص ډېر زیات دروغجن دی.
- څوک چې باور لري چې په ناروا یې خلکو ته فریب ورکړی دی هغه دې پوه شي چې نورو څخه اول ده فریب خوړلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ظاهري کړو خلکو ضرر د هغو خلکو له ضرر څخه لږ دی چې په استقامت يې ځان ملبس کړی وي يعنې په واقع او حقيقت کې بې لياري وي.
- د پاچا او مقتدر ضرورت او حاجت خلکو ته د خلکو د ضرورت او حاجت نه چې پاچا او مقتدرينو ته يې لري زيات دی.
- د علومو په مقدمو کې مبتدي گومان کوي چې ده په علومو کې تبحر لاس ته راوړی دی او اخر ته ورسېد خو شوک چې بيا په علومو محقق شي او تجربه او رسوخ پيدا کړي هغه په دې عقيده او باور پيدا کوي چې لا تر اوسه دی په لومړني پړاو کې دی.
- چا ته چې نوی د مال نعمت په لاس ورغلی وي هغه يې په هر ځای کې ښکاره کوي او چا ته چې نوی د علم نعمت حاصل شوی وي هغه يې هر چا ته وايي.
- انسان څنگه چې نور محاسبه او تفتيش کوي هم دارنگه خپل ځان هم محاسبه کړي نو خطا به يې لږه او کمال ته به نژدې شي.
- عقل اشرف او بهتر د مخلوقاتو څخه دی د دې په واسطه انسان د صنعت او مدني پيدايښت په رمز پوهېږي بې زړه توب تالوي (ځنډوي) او همدا وېره او بې زړه توب دی چې انسان ته ورک شوي، موجود او نژدې ورته ليري ښکاره کوي.
- د کور د ښځو د جگړې فيصله کول د سړي ژوند تريخوي.
- قوي ونه ځغرده او ژر مېوه نه نيسي.
- د شرق خلک د خپلو حاکمانو په کوړوالي کاره کېږي او کله چې يې حاکم سم وي دوی هم ورسره سمېږي.
- ښه اخلاقو د يوه ملت جوړېدل، ښه دينه اخلاق کول او ښه پوهي ديندارې کول، دا هيڅ امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وجود ټول عناصر په دې فاني نړۍ کې د انسان اصلي عقل ته تابع دي نو هر هغه چې نن طب او صنعت کې نه کېدونکی او محال ښکاري هغه نـژدې دی چې سبا ته ممکن شي او د عمل جامه واغوندي.
- پوه او هوښيار پلار هغه دی چې د خپلو اولادو سره د واده څخه يو ځای ونه اوسيږي او په چل سره يې د نژدېوالي څخه ځان خلاص کړي.
- ډېر لږ خلک ليدل کيږي چې دوی له ښځو څخه د خوښۍ احساس وکړي پوه او ډېر لږ خلک دي چې ښځو ته د شقاوت او بدبختۍ نسبت نه کوي.
- په شرقيانو باندې دا وينا «څنګه چې تاسې ياستئ هغه شان ستاسې واليان هم دي» نه تطبيقيږي يعنې واليان د خلکو په مزاج کار نه کوي بلکې د دوی په هکله دا وينا مصداق کوي چې وايي څنګه چې مو واليان دي تاسې هم هغه شانته اوسئ يعنې خلک بايد د واليانو د ښو اطاعت وکړي.
- ای لويه خدايه زموږ له سترګو د وهم پردې پورته کړې چې حقايق هغسې ووينو لکه څنګه چې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابـن خـلـدون



«علامه عبدالرحمن ابن خلدون پخپل ليکل شوي کتاب «کتاب العبر» کې ليکلي، چې هغه د ۷۳۲هـ کال د روژې په لومړۍ نېټه، چې د ۱۳۳۲ ل کال د مى مياشتي د۲۷ نېټې سره سمون خوري، د تونس په يوه کلي قراون کې وزيږېد.

لومړنۍ ښوونه يې د خپل پلار نه تر لاسه کړه. د هغه پلار د خپل وخت وتلى عالم او فقيه و. د هغه نوم محمد بن خلدون دی. کله چې تونس ته راغی نو سياسي ژوند يې پرېښود او د لغاتو د علم تدريس يې پيل کړ. ابن خلدون د خپل پلار څخه فقه، تفسير او د حديثو علم زده کړ. سربېره پر دې يې قرائت کتابت، د نحوې اصول او د ادب تدريس يې هم ورکړ، څکه نو مورږ ويلای شو چې د ابن خلدون لومړنی استاد د هغه خپل پلار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۷۴۹هـ یا ۱۳۴۹ز کال کې په تونس او شاوخوا سیمو کې د طاعون ناروغي رامنځته شوه، چې زیات خلک یې ووژل. د ابن خلدون مور او پلار او نور زیات خپلوان یې د دې ناروغۍ په وجه مړه شول. د مور، پلار او نورو خپلوانو د مرگ په وجه د یو څه وخت لپاره غمجن و. د وبا په ورځو کې د هغه زیاتره خپلوان او دوستان د تونس نه موریتانیا ته ولاړل، خو ابن خلدون د خپل ورور په مشوره په تونس کې پاتې شو.»(۷)

علامه ابن خلدون بېلابیلو سیمو لکه بیت المقدس، اندلس، تلمسان... ته سفرونه وکړل او له بېلابیلو اشخاصو سره ئې هم ولیدل. د قاضي القضات، سفیر او مدرس دندي ئې تر سره کړي دي. دا ستره هستي تاریخپوه، ټولنپوه مفکر، سیاسي څېره او لوی لیکوال و.

«ابن خلدون په مصر کې ۲۳کاله تېر کړل.هغه ژوند چې ابن خلدون په شمالي افریقا کې تېر کړی و، هغه ډېر خطرناک او له ستونزو ډک و. د هغه ځای ژوند به کله د غربت سره مخ کړ او کله به یې لوړو پوړیو ته ورساوه. په مصر کې ابن خلدون د یوه عادي فرد په څېر ژوند کاوه. سیاسي چارو سره یې هیڅ تړاو نه و. مگر په شمالي افریقا کې په سیاست کې برخه اخیسته. په مصر کې یې سیاسي کالي وغورځول او د یوه عالم، فاضل او محقق شخص کالي یې په تن کړل. په مصر کې د دوو سترو کارونو سره مخ شو. یو یې د کورنۍ له منځه تلل او بل د ستر فاتح امیر تېمور سره لیدل.

علامه ابن خلدون د هغو سترو علماؤ څخه دی، چې په علومو کې ډېرې لاسته راوړنې لري. هغه د ټولنپوهنې د علم د لومړنیو پوهانو څخه شمېرل کېږي. هغه په لومړي ځل د تاریخ د فلسفې اساس کېښود. د تاریخ د علم په اړه یې زیاتې څرگندونې وکړې، چې «مقدمه» یې یو شهکار اثر گڼل کیږي. په داسې حال کې چې د ده څخه مخکې هیڅ عالم د تاریخ په اړه څرگندونې نه درلودې. ابن خلدون په لومړي ځل د قومونو د عروج او زوال عوامل وڅېړل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونې او روزنې، جغرافیایي، حکومت کولو او نورو موضوعاتو په اړه یې لیکل وکړل.» (۷)

- ◊ تاریخ داسې علم دی، چې باید په بې طرفۍ ولوستل شي.
- ◊ تاریخ یو دلچسپ علم دی.
- ◊ کله چې ټولنه رامنځته شي، نو موږ ته د سیاست ضرورت دی.
- ◊ انسان لکه حیوان دی، ځکه د ژوند اساسي اړتیاوې لکه غذا غوښتل ، د ځای پیدا کول او یا نور صفات په دواړو کې یو شان دي، هغه څه چې انسان ته یې پر حیوان برتري ورکړې ده، هغه فکر دی.
- ◊ فکر دی، چې انسان د انبیاوو د علم نه خبروي او د اخرت درسته لاره ورته ښیي. د دې پایله دا شي، چې د علماوو یوه ټولنه رامنځته شي او هغوی دا علم نورو ته رسوي.
- ◊ د فکر قوت انسان ته بدي او نېکي ښیي. د همدې فکر پواسطه انسان علم او فن زده کوي او د دې فکر پواسطه انسان خپل راتلونکی روښانه کوي.
- ◊ د حیواني ټولنې عادت طبیعي وي، خو د انساني ټولنې طبیعت د عقل فکر او غور نتیجه وي.
- ◊ د قومونو زوال درې عوامله لري.۱ د اشرافو کمزوري. ۲ د فوځ تشدد.۳ عیش و عشرت
- ◊ مرکز د حکومت لپاره د زړه مثال لري، که چیرې مرکز قوي وي نو ټول حکومت ورسره قوي وي. که مرکز کمزوری وي، نو ټول حکومت (مرکزي او غیر مرکزي) ورسره کمزوری وي.
- ◊ که واکمن د سیاسي قوانینو په نافذولو کې ناکام شو هغه نشي کولای چې حکومت کنټرول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- فکر د علم د حرکت پایله ده.
- ضروري علوم باید لومړی پخپله ژبه ولوستل شي، ځکه په پردۍ ژبه لوستل د نیمايي علم لاسته راوړل دي.
- علوم باید په تدریجي ډول زده کړل شي. له اسانه د مشکل په طرف ولاړ شو او په یوه وخت کې یو فن زده شي.
- انسان فطرتاً ازاد پیدا شوی دی.
- وهم نیمه ناروغي، اطمینان نیمه شفا او صبر د شفا لومړی قدم دی.
- انسان په وینا تلل کیږي او په عمل قیمت کیږي.
- په ټولنه کې د انصاف او پرمختګ لپاره دا اړینه ده، چې په ټولنه کې ازادي او د بشریت احترام رامنځته شي. دا هغه برتري ده، چې خدای تعالی انسان ته ورکړې ده او انسان یې پر ځمکه خپل خلیفه ګرځولی دی.
- کله چې تاریخ په ژور ډول مطالعه، تجزیه او مشاهده کړو، موږ به د غلطیو څخه لیري پاته شو او حقایق به لاسته راوړو.
- موږ له تاریخه هغه وخت درسته ګټه اخیستای شو، چې ځان د ریښتیاوو اساس ته ورسوو.
- تاریخ په حقیقت کې د انساني ټولنې په اړه د معلوماتو علم دی، چې د نړۍ کلتور او ثقافت بلل کیږي.
- زاړه رواجونه ژوندي کول دا معنا نه ده، چې مړه ژوندي دي؛ بلکې دا معنا چې ژوندي مړه دي.
- تمدن د یوه انسان د ژوند په څېر دی. لومړی ماشوم وي او بې شماره هیلې لري. بیا ځوان شي هر څه لاسته راوړي. بیا زوړ شي، بېسېکه شي او وروسته مړ شي. له ځوانۍ څخه زوړوالي او مرګ ته یې استراحت طلبي بیایي.
- علم د عرفان او عرفان د ژوند سرچینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ◊ تاریخ د اصلي پیښنو پورې تړلی علم دی. تاریخ د پیښنو مثبت یا منفي شکل دی.
- ◊ د ښوونکي شخصیت باید د زده کوونکو لپاره یوه نمونه وي.
- ◊ علم او تدبر د انسان ذهن، ټولنیز ژوند او روحي ژوند کې یووالی راولي.
- ◊ علوم د ټولنیز او کلتوري پرمختګ ښکارندوی دي. برعکس علمي جمود د ټولنې د انتشار او بربادۍ سبب ګرځي.
- ◊ د قوي اقتصاد نه بغیر د حکومت پښې سستې وي.
- ◊ تېر، حال او راتلونکی یو مثلث دی. که یوه زاویه ترې لیرې کړو هندسي شکل خپل اهمیت بایلي.
- ◊ سیاست او حکومت د بندګانو د ساتني او د هغوی د ګټو د ساتني او کفالت او په بشري ټولنه کي د الله تعالی د احکامو د تطبیق لپاره استازیتوب دی.
- ◊ کله چې داسي خلک ووینې، چې د بدو پیښنو او سختو حالاتو پر مهال په ټوکو او خندا خبري کوي؛ پوه شه چې فقر ځپلي دي. دوی کې غفلت دی. دوی د سپکاوي احساس کوي. لکه څوک چې د نشې په حالت کې مرګ ته بېول کیږي.
- ◊ انسان او ټولنه په داخلي او خارجي ډول له یو بل سره اړیکه لري. په داخل کې انسان پخپل جسماني قوت تکیه کوي او په بیرون کې پخپل جغرافیایي محیط، اب و هوا تکیه کوي.
- ◊ د زده کړي موخې د ټولنې د موخو تابع وي. د زده کړې موخې:
  - د داسي کسانو روزل، چې ژوند په ښه ډول تیر کړي.
  - د نویو پیدا شویو او بالغانو کلتوري خلاء ډکول.
  - فرد ته په درست ډول د فکر کولو عادت ورکول، تر څو ټولنیز مسائل په صحیح ډول حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- زده کوونکو ته د قواعدو او ضوابطو مطابق د ژوند تیرولو تربیت ورکول.
- په زده کوونکو کې تمدني خصوصیات رامنځته کول، تر څو ټولنه په صحیحو لیکو باندې روانه کړي.
- د مسلمان د زده کړې اصلي موخه د الهي معرفت پېژندل دي، کوم چې د پېغمبرانو د پیروۍ نه تر لاسه کیږي.
- ◊ د مذهبي، کلتوري، ساینسي او فلسفي علومو زده کړه د ټولنې د هر وګړي لپاره ضروري ده، چې ټولنه د جمود ښکار نشي او ټولنیز پرمختګ لا ګړندی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سقـراط



سـقـراط پـه (۴۶۹) ق.م د اتن ښـار پـه ایـلوپـیک نومي کوخـه کې زیـږېـدلی دی. پلار ئې مجسمـه جوړوونـکی او مور ئـې د کوچنیانو پـالـنـه کـوله. سقراط ښکلی نـه و، لـه رنګـه تور او بـدرنګـه څېره ئې وه. د کرایـټو پـه وینا« سقراط د اتن ښار تر ټولو بـدرنـګ هلک ګـڼل کېده، غټې پړسېدلي شونـډې، پـلن تـندی او بې ډولـه سترګې ئې وې.»

سقراط پـوځي زده کړې هم کړې وې، پـه ځینو جګـړو کې ئې برخه هم اخیستـې ده او د یوه اتـل سرتـېري په توګـه ئې ځان ثابـت کړی دی، سیـاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت هم و. د سقراط فلسفه پر انصاف، نېکۍ او ځان پېژندني ولاړه وه ، له خلکو سره ئې تل بحثونه کول او نېکۍ ته ئې رابلل. سقراط دوه ودونه کړي وو د لومړۍ مېرمني تر مرگ وروسته ئې دویم واده وکړ او له دې مېرمني ئې درې زامن وزیږېدل.

سقراط په ۳۹۹ ق.م په زندان کي د زهرو جام وڅیښ، له اتن او دې نړۍ نه د تل لپاره ولاړ ،خو نوم ئې د یونان ویاړ او دی د خپلي فلسفې قرباني شو.

- پر کومه پوهه چي انسان نازیږي هغه یوازي تشي او بې معنا خبري دي.
- ښه اخلاق یوازي امن، سوکالي او سلامتي نه راوړي بلکي په زړونو کي ماڼۍ هم جوړوي.
- خپله ټوله مینه خپل دوست ته هم مه ښکاره کوه،کله چي لږ بدلون هم ووینې، تا خپل دښمن بولي.
- کوم انسان چي له نړۍ څخه ولاړ شي هلته به هغه رېښتني قاضیان وموميي، چي په هکله ئې ویل کیږي دوی هلته عدل کوي.
- په یوه هیواد کي استبداد او افراطیت هغه وخت رامنځته کیږي چي تر اندازې زیاته ازادي ولري.
- تر ټولو نژدې مرگ او تر ټولو لیري هیله ده.
- مرگ څــه شی دی؟ ښایي مرگ د انسان لپاره یو ستر نعمت وي خو خلک له مرگه داسي ویریږي لکه ستر ناورین چي وي.
- له مرگه مه وېرېږئ ځکه تر مرگ ئې وېره ترخه ده.
- د یو چا د شخصیت پر ځای د هغه له بدن سره مینه کول د ځارویو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د فکر ازادي يو لازمي شی دی.
- هغه دولت هيڅکله نه پاتيږي، چي مجرم ته سزا واورول شي او پرې پلې نشي.
- واده کول او نه کول دواړه پښېماني لري.
- پوهه يوازي له استادانو نه، بلکي له هر تجربه ناکه کس څخه هم تر لاسه کېدای شي.
- هر سړی که غلام هم وي يو ډول وړتيا لري.
- مرگ يو ژور خوب دی يا له يو ځای څخه بل ځای ته د تللو نوم دی.
- اروا هم په نېکۍ او ښه والي سره وده کوي په بديو بربادېږي.
- نېکي پوهه ده، پوهه يوه ښکلا ده او د انسان په کړو- وړو مخامخ اغېزه کوي.
- نا ازمويل شوی ژوند د پاتي کېدو ارزښت نه لري.
- له هر کار سره چي مينه لرې تر سره ئې کړه؛ که ئې تر سره نه کړې بيا به پښېمانه شې.
- ای خدايه ما ته پوهه را او دومره پوهه چي زه ئې وزغملای شم.
- خدايه داسي ساده او يو مخيزه ژوند را کړې چي پټ او ښکاره هر چا ته په يو ډول ورڅرگند شم.
- جگړه په حقيقت کي ځانوژنه ده.
- ټولنه هغه وخت نېکمرغه کېدای شي چي مطالعه ئې ورځنی کار شي.
- چي په دې پوه شې چي نه پوهېږم دا رښتينې پوهه ده.
- يوازي په يوه شي پوهېږم، چي نه پوهېږم.
- نېکمرغه هغه دی، چي له خپلي هري خطا نوې تجربه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که زده کړه غواړې هره تېروتنه یو درس دی.
- نېکمرغي یعني په تېر وخت ویاړ، اوس وخت هلي- ځلي او راتلونکي ته امید.
- ښه خبره که د بد سړي له خولې هم راوزي عمل پرې کوه ځکه سره زر د بدرنگي ښځي پر غاړه هم قیمت نه بایلي.
- کومه خبره چي له دښمنه پټه ساتې هغه له دوسته هم پټه ساته.
- د غوسې غوره علاج خاموشي ده.
- رښتینولي هغه لاره ده، چي نېغ دي تر خدایه رسوي.
- ښکلا د لږ وخت ظلم دی.
- فلسفه له کتابه نه، له ژوندانه راټوکیږي.
- د خپلو ټولو دښمنانو تر څنگ خپل ډېر نژدې دښمن ته چي ستا ژبه ده، ډېر پام ساته.
- زړه زر سترگي لري، خو چي مین شي د شهی یو عیب هم نهویني.
- پوهه دوه ډوله ده رښتینې او نا رښتینې، د رښتیني پوهي بنسټ د پوهي لټون دی او د نارښتیني پوهي بنسټ بې ځایه خیالونه دي.
- واده خامخا وکړئ که دي ښه ښځه په نصیب شوه نېکمرغه به یې او که نه وه فیلسوف به شې.
- پاکه پوهه په ناپاکو زړونو کي نه ځاییږي.
- ژوند لنډ او فاني دی، خو هنر اوږد او تلپاتي دی.
- د یوه ملت د له منځه وړلو لومړی گام د هغه د حافظې پاکول دي.
- ستاسو تر زړه هیڅوک هم تاسو ته نژدې او رښتینی نه دی له هغه چا لیري اوسئ چي ستاسو زړه ئې نه غواړي.
- وخوره چي ژوندی اوسې، خو نه دا چي ژوند د خوراک لپاره وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- عـاقل کم ږغیـږي او ډېـر اوري.
- وېـره ده، چې مـرګ تـریخـوي.
- د کوم کار پـه کولو چې شرمـېږې نـوم ئې هم مـه اخلـه.
- تـوده مینـه سـړه ختـمیـږي.
- کـار د نـېکمرغـۍ او خوښـۍ سرمـایـه ده.
- خــوب د انسان د وجـدان ږغ دی، بـایـد پـه هـغـه ښـه پـوه شو او هـغـه تـه غاړه کښېـږدو.
- د یوې بریـا خونـد د سلو نـاکامیـو پـه خونـد ارزي.
- غریب هغه نـه دی، چې پیسې نـه لري غریـب هغه دی چې هیلي نـه لري.
- له خپل مور و پـلار سره داسې چلنـد وکړه، چې له خپلو اولادونـو ئې تمـه لرې.
- سیـاست یو هنر او جمهوریـت یو ټاکل شوې او منل شـوې نـاپـوهـې ده.
- پوهه او عقل پـه انساني نفس کې لـه ټولو ښېګڼو لوړ او تـر ټولو ښه دی.
- د نفس د تزکیې بنسټ له خدایـه وېره او پر اخرت بـاور دی.
- پـه کوم شي چې نـه پوهېږې هـغـه مـه وایـه، څه تـه چې اړتیـا نـه لـرې هغه مـه لټـوه او کومـه لاره چې درتـه معلومـه نـه وي پر هغې مـه ځـه.
- پـه انـساني ژونـد کې تر ټولـو بـده زمـــانـه هغه ده چې خلک لـه دلیل نـه نفـرت کوي.
- کـار د سعـادت ذخیـره او کـامیـابي ده.
- څوک چې د ښه او بد توپیر نشي کولای هغه کس پـه مړو کې شمېر دی.
- د چا چې مـعـامله د ریښتیا پر بنسټ ولاړه وي هغه شخص پـه لویـه او نوې وسلـه سمبـال دی.
- تعلیم د حقیقـت پـر لور د لارښـود نـوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- هره نېکـي علم دی او هره بدي جهل او نـاپـوهي.
- د دنیـا عزت په دې کي نغښتی دی چي موږ پـه ظاهر څه ډول یـو بـاطن مو هم بایـد هغه ډول وي.
- وسله یـوازي د جنـګ پـه وخت کي د زرو څخه زیات ارزښت لري مګر عقل هر وخت او پـه هر ځای کي.
- د هوښیار سړي ازموینـه د غصې پـه حالت کي کېدای شي.
- ژونـد لـه مـرګ څخه سخـت او مـشـکـل دی.
- مرګ پـه حقیقـت کي د نوي ژونـد پـیـلامـه ده.
- دوستي د بشر له اړتیاوو څخه ده.
- ناپوه دوستان مو وېرو‌ونکي دښمنان دي.
- که انسان بدي پېژندلی، نو بدي يې نه کوله.
- ښکـلا یـوه منطقي قـضیـه ده چي صغری ئې سترګي دي، کـبـری ئې زړه دی او نتیجـه ئې عـشق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابندر ناتھ ټاګور



رابندر ناتھ ټاګور نړیواله مشهوره څېره او نړیوال ادبي شهرت لري. په ۱۸۶۱م کال د می میاشتي په اوومه نېټه د هندوستان په کلکته ښار کي په داسي کورنۍ زیږېدلی دی، چي په ادب، هنر او موسیقۍ کي ئې شهرت درلود. ټاګور یوازي ادبیات نه بلکي په تمثیل او موسیقۍ کي ئې هم خپل نوم ځلولی دی. زده کړي ئې په کورنۍ کي پیل بیا ښوونځي، د بنګال اکاډمي او بیا تر انګلستان پوهنتونه ورسېد. په ژوند او تر مرګ وروسته ئې بېلابېل ویاړونه او لقبونه ګټلي دي بېلابیلو هیوادونو ته ئې سفرونه کړي او په نړیواله کچه مینه وال لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاګور يو پراخ نظره او بې تعصبه شخصيت و. د نړيوال انساني او بشري فکر خاوند و، همدا سبب دی چي په نړيواله کچه يادېږي. د ده د منظومو او منثورو اثارو شمېر ګران، خو ډيري ډرامې، ناولونه، ليکونه، نندارليکونه داستانونه، بېلابېل مضامين او بېلابيلي ښوونيزي- روزنيزي ، مذهبي او سياسي ويناوي ئې په اثارو کي راځي. دلته ئې د ځينو ډرامو، ناولونو او شعري ټولګو نومونه يادوو.

د ځنګله ګل، مات زړه، د ماښام سندري، د سهار سندري، تصويرونه او سندري، توپان، قرباني، پاچا او ملکه، د فطرت انتقام، زرينه کښتۍ، باغوان،خوږمني سترګي او داسي نور.

ګيتانجلي ئې مشهور اثر دی، چي نړيوال شهرت لري او د نوبل جايزه ئې ګټلې ده. دا اثر ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا پښتو ته ژباړلی دی.

دا نړيوال مشهور شاعر، ليکوال او د انساني او بشري فکر پالونکی په ۱۹۴۱م کال د اتيا کلونو په عمر مړ او خپل نوم ئې د هندوستان لپاره ستر وياړ پرېښود.

- که له چا څخه د څه تمه ونه لرې ټول ستا دوستان دي.
- که د ټولو تېروتنو پر مخ دروازه وتړې نو حقيقت ښايي د دروازې شاته پاته شي.
- عشق د لويې راز دی چي مرګ او ژوند ته تړاو ورکوي.
- عشق حرکت او سکون دواړه په ځان کي نغښتي دي، زمـــوږ زړونه چي هره شېبه بدلېدونکي دي په عشق کي ارام، ډاډه او سکون ته رسيږي.
- ښکلا د حقيقت موسکا ده کله چي زموږ په وجود کي غزوني وکړي په يوه بشپړه هينداره بدليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د لوښي په منځ کي اوبه رڼې دي، خو د سمندر اوبه پيکه وي کوچني حقيقتونه رڼې کلمې لري، خو ستر حقايق په ستره چوپتيا کي ډوب وي.
- زمونږ لپاره د دې نړۍ تر ټولو ستره موخه دا نه ده چي يوازي ژوند پکي وکړو بلکي دا ده چي هغه وپېژنو او ګټه ترې واخلو.
- پتنګان شپې شمېري، نه مياشتي ځکه خو پوره وخت لري.
- له خپل خدايه مه بې پرواکېږۍ، پر هغه تلپاتي تکيه ولرۍ، ځکه چي هغه مو هيڅکله يوازي نه پرېږدي او ستاسي په څنګ کي دی.
- د خلکو زړونه خوشحالول نه خرڅ لري، نه زحمت يوازي موسکا بسنه کوي.
- چي زړونه پکي له ډاره په امان وي، چي سرونه پکي هسک وي، چي په علم هيڅ ډول بنديزونه نه وي، چي په نړۍ کي د ځايي ټاکل شويو پولو په دېوالونو وېشلي نه وي، چي توري پکي د صدق له ژورو راوزي، چي د عقل رڼه سرچينه د عادتونو په دښتو کي لاره ورکه نه کړي... باداره، د ازادۍ په داسي جنت کي زما وطن ويښ وساته.
- نصيحت کول اسان، عمل کول ګران دي.
- ډېر فکر کول، لږ خبري کول او ډېر اورېدل د هوښيار انسان عمل دی.
- د ويري او اميد په وخت کي ريښتيا ويل مشکل کار دی.
- دروغجن اخر رسوا کيږي.
- شپه په لوږه تېره کړۍ، خو سهار پوروړي مه پورته کېږۍ.
- خوږه ژبه د الله ج غوره نعمت دی.
- پردی شهرت له مصيبته کم نه دی.
- کاميابي يو ځل دروازه ټکوي مګر مصيبت او مشکل سهار او ماښام.
- د ژوند ټول توان او طاقت دومره دی لکه د ډېري پر سر د شبنم څاڅکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- انسانان ظالمان دي، خو انسان مهربانه دی.
- مینه د ژوند ډېوه ده.
- مینه یو بې پایه راز دی، نو بل هیڅ شی نشي کولای چي تشریح ئې کړي.
- د ښځو غوسه د الماسو په څېر ده؛ ځلیږي مگر سوځل نه کوي.
- د چینجي په فکر، ډېر عجبه او احمقانه کار دی، چي انسان خپل کتابونه نه خوري.
- سیند ته په کتو او دربېدو هیڅکله له سینده نشې اوښتلای.
- ماښام مهال لمر د ډوبېدو په حال کي وپوښتل: داسي څوک شته، چي زما ځای ونیسي؟ کوچنۍ شمعي وویل: زه به هڅه وکړم.
- اوسنۍ نړۍ په کرکه او وحشت کي د جنون له بریده هم ورواوښته جگړه د ظلم، تېریو او پر له پسې اضطراب سمبول گرځېدلې ده. د تلو راتلو ټولي لاري کړې- وړې شوي دي، زړونه ټول د تمي او حرص نه ډک دي. ټول مخلوقات بیا راژوندي کېدو ته سترگي پر لاره دي. ای د لا محدود ښښتنه! ای سپینه اسمانه! ای خپلواکه! پخپلي بې اندازې مهربانۍ او لطف سره د ځمکي له زړه نه د کرکي دا توري لکې لیري کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد گل خان مومند



«ښاغلی محمد گل خان د محمد خورشید زوی، د مومن خان لمسی، د عبدالکریم کړوسی په قوم حسین خېل مومند دی. د ۱۳۰۳هجري قمري کال د روژې میاشتې پر ۱۳ورځ د کابل د اندرابیو په کوځه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړه او دود علوم یې په خصوصي ډول له پوهانو څخه لوستي دي.» پر ۱۳۲۷ هـ. ق کال د حربي ښوونځي په دویم ټولگي کې د زده کوونکي په توگه شامل او تر پنځه کلنې تعلیمي دورې نه وروسته بریالی فارغ شو او د اردلانو په غونډ کې د توپچي ځانگې د قوماندان په حیث وټاکل شو. په دغه شاهي ټولگي کې له یوې خوا کنډک ته درس ورکاوه، له بلې خوا یې د حربي ښوونځي د سرښوونکي په توگه وظیفه اجرا کوله او د دغه بریالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت په نتیجه کې د سپه سالار صالح محمد خان د یاور په حیث مقرر شو او د شاهي گارډ د قوماندانۍ چارې هم وروسپارلې شوې. (۹، ٦مخ)

محمد گل خان مومند لکه د نورو پښتنو مشرانو په څېر نه یوازې د تورې خاوند و، بلکې د قلم او ادب د دنیا لویه شتمني هم ور په برخه وه او په دې برخه کې هم زیات خدمتونه کړي دي... پر پښتني فرهنگ باندې د محمد گل خان مومند د هلو ځلو اغېزې او تاثیرات په لاندې ډول په گوته کوو:

۱ په ژورنالیستکه او خپرنۍ برخه کي ۲ د ادبي ټولنو په جوړونه کې ۳ د روزنې او پالنې په برخه کې.(۹، ۸مخ)

ځیني اثار او لیکني ئې په دې ډول دي:

پښتو سیند، د پښتو ژبي لیاره، لنډکۍ پښتو او پښتنواله، روزنه، پخلی، پښتني تربیه او پخواني ملي او ادبي اصطلاحات.

« مرحوم محمد گل خان مومند په دري ژبه کې هم د ښه قلم خاوند ، پر ترکي او روسي ژبو هم ښه پوهېده.» (۹، ۷مخ)

«... د لومړي ځل لپاره یې پر ۱۳۱۱ ل کال، په کندهار کې د (طلوع افغان) اوونیزه په پښتو کړه، دا په افغانستان کې لومړنۍ اوونیزه ده، چې په پښتو ژبه خپریږي، د دې اوونیزي مسؤل چلوونکی لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي و... د ۱۳۱۱ل کال د قوس پر ۹نېټه یې په کندهار کې «پښتو ادبي انجمن» تاسیس کړ. (۹، ۸ مخ)

« محمد گل خان مومند چې پښتانه یې د بابا او دادا په نوم یادوي پر ۱۳۴۳ل کال د اسد میاشتې پر ۲۷مه ورځ د سهار پر ۸ بجو د ۸۰ کالو په عمر د زړه د دریدو په اثر، د کابل په بریکوټ کې وفات شو او په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو. د مرحوم محمد گل خان مومند د جنازې په مراسمو کې د هغه وخت د دولت ډېرو لوړو دولتي اشخاصو برخه اخیستې وه.»

(۹، ۷مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له «لنډکۍ پښتو او پښتونوالي» نه د پښتو په اړه د محمد گل خان مومند ځيني ويناوي د نمونې په توگه را اخلو، چي له پښتو سره د ده اورنۍ مينه ښيي. د ده د پښتني احساساتو او جذباتو ښکارندويي کوي. پښتو يوازي ژبه نه گڼي، بلکي پت، مېړانه، سرښندنه، پښتني ټولنيز ژوند، دود و دستور چلند او کړه وړه او هغه پښتني صفات پکي انځوروي، چي پښتو ترې جوړه ده او پښتون پرې پښتون بلل کيږي.

ارواښاد مومند په خپلو لاندي ويناوو کي چي هره يوه ملغلره ده، واقعاً پښتو تعريف کړې ده. موږ ترې پوهېداى شو، چي پښتو څه ده؟ پښتو څه ته وايي؟ او څنگه پالل کيږي؟

- ✦ پښتو، پښتو منل، پښتو ويل، پښتو کول او پښتو چلول دي.
- ✦ پښتو د پښتنو په ولس او جامعې کښې لکه روح په کالبد کښې ده. څنگه چې په کالبد کښې روح نه وي کالبد خوشي شی دی همدغسې که د پښتنو په ټولۍ کښې پښتو نه وه نو د پښتنو ټولۍ به خوشي شی وي.
- ✦ د پښتنو خوږه مرکه په پښتو کيږي. پښتانه د پښتو نه خوند اخلي. تر ټولو مرکو خوندوره مرکه د پښتو ده.
- ✦ د پښتانه سره د پښتو د لیارې سره سم روغه کول پښتو ده، د پښتو د لیارې سره سم پښتانه ته ننواتې کول پښتو ده. د پښتو د لیارې سره سم د پښتانه ننواتې منل پښتو ده، پړه منل او تړه ورکول پښتو ده.
- ✦ پښتون رېښتيا وايي، هر چيري يې وايي، هر چا ته يې وايي او هر کله يې وايي.
- ✦ پښتانه په پښتو سره پښتانه وه، ان په پښتو به سره پښتانه وي.
- ✦ پښتو خورا خوږه وروري ده. پښتو د پښتنو سره خواخوږي ده.
- ✦ د پښتنو رنگ په پښتو ښه کيږي.
- ✦ پښتو له دښمن سره گالنه ده. پښتو انتقام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پښتنو خپلوي په پښتو سره ده، خپل او پردی په پښتو سره څرګندیږي او بیلیږي.
- له عزیز سره عزیزولي، له خپله سره خپلوي، د مشرانو احترام، د کشرانو قدر او عزت، پر وړو مهرباني او شفقت، د هغوی روزنه، پر هغوی د هر پښتانه پاملرنه دا ټول په پښتو سره کیږي.
- پښتو ده، چې له پښتونه یو کور، یوه کورنۍ، یو ټبر، یوه کوړمه، یو کهول او یو ولس جوړوي.
- پښتو د پښتنو تفکرات، تخیلات، ذوق او هر څه یې چې سره یو شانته او یو کوي.
- پښتو صله رحمي ده. پښتو شفقت دی.پښتو مرحمت دی. پښتو مهرباني ده. پښتو مروت دی. پښتو ښېګڼه ده.
- کونډې، رنډې، یتیمان، بېوزلي او مسکینان، ړانده او ګوډ په پښتو ساتله کیږي.
- د ضرورت په وخت کښې د هر مسلمان ورور سره په تېره بیا د هر پښتون سره هر ډول مرسته په پښتو سره کیږي.
- پښتو پښتانه په غم او ښادي کښې سره شریک کړي او شریکوي یې. پښتو پالنه ده.
- که پښتو نه وه، ته به زما د سر خوږ یې، زه به ستا د سر خوږ یم.
- پښتو اصیلتوب دی پښتو سیالوالی دی پښتو نجات دی پښتو عالیجنابي ده.
- پښتو کښې سپکه نشته، نو ځکه سپک پښتون نه دی.
- پښتو عزت دی. پښتو کښې بې پتي، د ککتوب نشته، ځکه پښتانه یې نشي زغملای.
- پښتو کښې لویي نشته. پښتو د لویجن سړي سر په تیره ټکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پښتو ساووتوب او باداري ده. پښتو دروندوالی دی. پښتو د پښتنو درنول دي. پښتو کښې ټيټپال او تملق نشته.
- پښتو شرافت دی. پښتو ښه نيت دی. پښتو د پښتون او مسلمانانو د خير غوښتنه ده. پښتو ښه اخلاق دي.
- پښتو سپېڅلتوب دی. پښتو پاکوالی دی. پښتو فضيلت دی. پښتو د پښتنو معنويت دی.
- پښتو د پښتنو د روح او ژوندانه ښکارندوی ده. پښتو سړيتوب دی او سړيتوب پښتو ده. پښتو انسانيت ته خدمت دی.
- پښتو کښې ظلم نشته. د لږ زورور او بې زورو سره زور پښتو نه ده.
- پښتو په خبره درېدل، خپله خبره تر سره کول او په عهد وفا ده.
- پښتو غنا ده. پښتو استغنا ده. پښتو کښې سوال نشته او سوال کول پښتو نه ده.
- پښتو قناعت دی. پښتو په حق درېدل دي. پښتو کښې ناروا نشته او ناروا پښتو نه ده.
- پښتو صبر دی. پښتو حوصله ده. پښتو زغم دی. پښتو کار کول دي. پښتو هاند او کوښښ دی.
- پښتو دين، وطن او د پښتانه ولس ته خدمت دی. پښتو ايثار دی. پښتو فداکاري ده.
- پښتو د اسلام، د پښتو او د پښتنو د شته والي لپاره ځان نشت کول دي.
- پښتو رېښتيا ده. پښتو کښې خيانت نشته. پښتو کښې دروه نشته. پښتو کښې ټګي نشته. ټګ پښتون نه دی. پښتو صداقت دی.
- پښتو پاک زړه دی. پښتو سليم وجدان دی. پښتو ده، چې پښتانه له بدو چارو ساتي. ښو ته مخه په پښتو کيږي.
- پښتو دوا ده. پښتو شفا ده. پښتو د پښتنو ګاڼه ده. پښتو حيا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پښتو د پښتنو زلمو ښکلا او د پېغلو ښایست دی.
- پښتو د پښتنو جامه ده او حیا یې پرې ساتلې ده.
- پښتو د پښتنو نارینه وو پګړۍ او د ښځو ټیکری او پوړنی دی. پښتو د پښتنو ښځو ستر دی.
- پښتو عفت دی. پښتو عصمت دی.
- پښتو سمه عقیده ده. پښتو ایمانداري ده. پښتو پر مسلمانۍ ټینګېدل دي.
- پښتو سعادت ته ورغلې سمه سیخه لاره ده.
- ورکړه او سخاوت، د بې وزلو سره مرسته لویه پښتو ده.
- پښتو ډاډ دی. پښتو توکل دی. پښتو په پښتنو اعتماد دی. پښتو پر ځان باور دی. د مېلمنو پالنه د پښتو ځیني ده. پښتو ډوډۍ ماري ده.
- پښتو د علماوو مننه او احترام دی.
- له سیالانو سره سیالي او له نړۍ سره برابري په پښتو کیږي.
- د وطن مینه پښتو ده.
- پښتو د پښتنو د بري او لوړوالي ضامنه ده.
- پښتو د پښتنو د لوړوالي وسیله ده.
- پښتو ازادي ده. پښتو قوت دی. پښتو مقاومت دی. پښتو اقتدار دی.
- پښتو حاکمیت دی. پښتو عظمت دی. پښتو شوکت دی.
- پښتو د پښتنو لوی ناموس دی. پښتو د پښتنو د ټولني روح دی.
- پښتو د پښتنو د ژوندو ساه او د مړو کفن دی.
- پښتو پښتنو ته د پښتني ژوندانه لاره ورښیي.
- پښتو د پښتنو د دواړو نړیو د سعادت ضامنه ده. د زلمو، د زړو قوت او خوشحالي ده. د زړو لکړه او امسا ده.
- پښتو اراده ده. پښتو ننګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پښتو متانت، ثبات او استقامت دی.
- پښتو توره ده. پښتو مېړانه ده.
- پښتو د پښتنو نه چاپېره خورا کلکه کلا ده.
- د ژوندانه په تیارو کښې پښتانه یواځې د پښتو په رڼا لاره میندلای او سیخولای شي.
- پښتو نظام دی. پښتو انتظام دی. پښتو نیاو او انصاف دی. خواخوږي په پښتو کښې ده.
- پښتو د پښتنو هغه حق دی، چې یو ځای ورسره زیږېدلی دی.
- پښتو د پښتانه د ناموس ساتنه پر هر پښتانه لازمه ګرځولې ده.
- پښتو خو نو پښتو ده او پښتو پښتونواله ده.
- پښتانه په پښتو نازیږي. پښتانه په پښتو سرلوینه کوي.
- پښتانه په پښتو ولاړ دي. که پښتو نه وي پښتانه غورځیږي، پرزیږي، ستړه یې خیژي او ورکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گـل پاچـا الـفت



**گل پاچا الفت د میر سید پاچا زوی د سید فقیر پاچا لمسی په ۱۲۸۸ هـ . ش کال لغمان ولایت، عزیز خان کڅ په منصور کلي کي دې نړۍ ته سترګي پرانیستې.**

**ګل پاچا الفت د لغمان، ننګرهار او کابل له علماوو څخه زده کړې وکړې. د خپلي مورنۍ ژبي تر څنګ ئې په پارسي او عربي هم لیکل کول. ښاغلي الفت رسمي ملازمتونه، پارلماني او صحافي مصروفیتونه او د تدریس چاري تر سره کړي دي. په بین المللي سیمینارونو کي ئې هم ګډون کړی دی. د کلتوري او ادبي هیئت په توګه ئې بېلابېلو هیوادونو ته سفرونه او هلته ئې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنفرانسونه کړي دي. استاد الفت د خپلو فعالیتونو، نوښت او جدیت له امله نمانځل شوی دی. بېلابیلي ادبي او علمي جایزې، نښانونه او ستاینلیکونه ورکول شوي دي.

د استاد الفت په اثارو کي تخلیقي، تحقیقي، تحلیلي، ژباړي او په نورو ژبو لیکني شاملي دي. د ځینو منظومو او منثورو اثارو نومونه ئې دا دي.

د پسرلي نغمه، عالي افکار، د ازادۍ نغمه، د زړه وینا، غوره اشعار، بله ډېوه، غوره نثرونه، املا او انشاء، ادبي څېړني، پښتو سندري او نور اثار.

د استاد ګل پاچا الفت نثري کلیات د ښاغلي محمد اسماعیل یون په زیار او شعري کلیات ئې د شهرت ننګیال په زیار راټول او چاپ شوي دي.

استاد الفت نژدې تر څلوېښت کلن ادبي، ملي او ټولنیزو خدماتو وروسته د ۱۳۵٦هـ . ش کال د لیندۍ میاشتي پر ۲۸مه نېټه له دې نړۍ سترګي پټې کړې. د عزیز خان کڅ د منصور کلي په هدیره کي د کابل ـ ننګرهار د لوی واټ پر غاړه خاورو ته وسپارل شو.

روح ئې ښاد.

- ✍ د مینې تر اغـېز لاندې خلک په سترګو لیـدل او په خوله ویل نشي کولای.
- ✍ مینه او محبـت سړی ړونـد او ګـونـګ کـړي چې پـه سترګو عیب لیدلای او په خوله یې ویلای نشي.
- ✍ له خپل کار سره مینه لرل د بري ستر راز دی.
- ✍ هر څومره چې په زړه کې لـه کار سره مینه زیاته شي د انسان پـه کوښـښ کې زیاتوالی راځي او کار ښه کیږي.
- ✍ چیري چې مینه نه وي هلته ژوند نه وي.
- ✍ یـوازي مینه ده چې لـه پاچاهانو خدمتګاران جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افلاطون په پوهه او مجنون په مینه مشهور شوی دی.
- د یو ښه او ټولنیز ژوند لپاره اړینه ده چې له خلکو سره ښې اړیکې، مینه او قرابت ولرو او د اخلاقو پواسطه په زړونو کې مینه وزېږوو.
- هغه مشران او رهبران چې له پیسو سره مینه لري هیڅکله له خپل ملت سره مینه نشي کولای.
- هغه چې په زړونو کې د خیر مینه نه لري هغوی هیڅکله سمه لار نشي موندلای.
- د انسانانو په زړونو کې مینه او محبت یو شان نه وي د ځینو خلکو په زړونو کې ډېره، د ځینو لږه وي. د ځینو په زړونو کي تر ډېره دوام کوي او د ځینو له زړونو ژر له منځه ځي.
- که هغه مقام غواړئ چې یوازي د خدای ج د دوستانو په نصیب رسیږي نو په زړونو کې مو مینه او محبت پیدا کړئ.
- هر انسان هر وخت د میني او محبت تږی وي.
- دروغ نه دي که ووایو چې هر انسان پر ځان مین دی او له ځان سره مینه لري. د انسان هره مینه چې له هر چا او هر شي سره وي په هغه کې د ځان مینه پټه ده ځکه له ځان سره مینه د انسان په غرایزو کې شمېرل کیږي هیڅوک ترې خلاص نه دی.
- که تاسي یو څوک وینئ چې له یوه بل سره ډېره مینه کوي دا مینه هم په اصل کې له ځان سره مینه ده.
- یوازې د مور او پلار مینه ده چې لمن یې له هر راز تومتونو پاکه ده.
- دا یوازي عقیده ده چې په انسان کې عقل، مینه، صداقت، زړورتیا غښتلی عزم او حرکت پیدا کوي.
- په هغه مینه کې چې د عدالت ملا ماتیږي لویه گناه ده.
- څوک چې پر ازادۍ مین وي هغه هیڅکله ځان نشي مقید کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✍ که مو د ازادۍ په لار کې سر او مال ولاړ شي بیا مو هم له زړونو د ازادۍ مینه نه وزي.
- ✍ که د سبا ورځې مینه زموږ له زړونو ووزي موږ بیا ژوند نشو کولای ځکه چې زړونه سړیږي او ارزو ګاني مري.
- ✍ ښه عقل هغه دی چې د مینې او محبت په غېږ کې وده وکړي.
- ✍ هره ښکلا پرته له مینې ارزښت نه لري.
- ✍ عاطفه، مینه او محبت د انسان د ډیرو ناروغیو غوره درمل دي.
- ✍ د مینې او محبت په نړۍ کې ضعیف او کوچني د لوی او قوي تر څپیړو لاندې نه دي.
- ✍ په ډیرو مینو کې ډیرې کینې او په ډیرو احسانونو کې ډېر زیانونه پټ وي.
- ✍ د سترګو کار له ښایست سره دی، د زړه کار له مینې سره.
- ✍ که دوه مینان سره بېل شي پروا نشته ځکه چې مینه نوره هم زیاتیږي او د وصال ارزو قوي کیږي.
- ✍ د مینې خبرې چې څومره ساده او بې ساخته وي هغومره ښې وي.
- ✍ مینه کله د ښایست په اثر کې راپیدا شي او کله د مینې په سبب سړي ته یو شی ښایسته ښکاري.
- ✍ مینه او محبت زموږ سترګې داسې تړي چې د خپل محبوب معایب له محاسنو نشو بېلولای.
- ✍ څوک چې د مینې او محبت تر اغېز لاندې راشي هغه لکه بلبل او بورا د ګل په یوه پاڼه خوښ او خوشحاله وي او ټول باغ په همدغه یوه پاڼه کېویني.
- ✍ مینه او محبتونه ټول یو راز نه دي او نه یې اغېزه د انسان په زړه کې یو ډول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مینه، عاطفه او محبت د انسان د ډیرو ناروغیو درمل دي.
- تر څو چې د دنیا پر مخ د حُسن او جمال مظاهر لیدل کیږي او د انسان په سترګو کې د لیدلو او کتلو احساس وي هرو مرو به د انسان په زړه کې یو ډول مینه او د یو شي محبت وي.
- که مینه په منځ کې نه وای نو د دېب او ښاپېری زور هیڅکله برابر نه دی.
- ځیني میني او محبتونه وي چې ډېر ژر د انسان له زړه محوه کیږي او هیڅ اثر یې نه پاتیږي.
- هر سړی په هر وخت کې د میني او محبت وړی دی او لوی خدای ج هم د مومنانو شدید محبت او مینه ستایي.
- هغه شی چې خلک یې سعادت او خوشحالي بولي هغه خوند چې سړی یې په سرو او سپینو یا خوندوره خوراکونو کې نشي موندلای په یوه شي کې پیدا کیږي چې ځینې خلک ورته مینه او محبت وایي او په اسمانونو کې د ژوندانه روح بلل کیږي.
- مینه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې ماشومان دي ځکه زور او قوت پخوا پیدا شوي مینه، عاطفه، رحم او شفقت وروسته.
- کله څوک د سولې غوښتونکی وي نو یوې داسې اختراع ته اړتیا ده چې د میني او عشق له عناصرو پکې استفاده شوې وي.
- د استقلال ساتنه د ملت قوي جذبې ته ډېر شدید ضرورت لري.
- د ښکلو مینه له ګل او بلبله اخیستل کیږي چې بهار او خزان پکې لوی دخل لري او فریادونه، اغزي، د غوټۍ دلتنګي هر- هر څه پکې شته او د شکایت هنګامه ورځیني جوړیږي.
- سیند هر تږي ته اوبه ورکوي او د هر چا خیرنې جامې پاکوي.
- کوم ملت چې شاعر نه لري، سترګې او زړه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✍ د انسان غرایز او خویونه د انسان اصلي حقیقت دی چې ډېرې پردې یې پر مخ پرتې دي.
- ✍ موږ باید خپل ملي امتیازات، ملي شعور او ملي احساس ډېر ټینګ وساتو.
- ✍ ژوند د تحول او تکامل نوم دی.
- ✍ حقایق اکثره تراخه وي او حق په تریخوالي ستایل کیږي.
- ✍ دنیا په حقیقت کې یو نندارتون دی چې انسان ته هر راز ښکلي شیان ورښیي هر څوک د خپل ذوق او خواهش سره سم یو شي ته ځان رسوي.
- ✍ ژوند هغه حرکت دی چې د خپل مطلب او مقصد لپاره وي.
- ✍ هر ځای کې چې ښو ته ښه او بدو ته بد نه ویل کیږي عدالت مري.
- ✍ د یو ملت اخلاق چې فاسد او خراب شي هرو-مرو د انحطاط لور ته ځي.
- ✍ چیري چې شعر و ادب کمزوری او خیالات مړه وي هغه ملت مړ بلل کیږي.
- ✍ د ناپوهۍ تیاره له شپې کمه نه ده.
- ✍ انتقاد د بشریت ډېر لوی مصلح او صحیح رهنما دی.
- ✍ شاعر باید د فکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي.
- ✍ هغه قام چې د حالاتو په بدلون قادر نه وي، خپل زوړ فکر، زوړ خیال زوړ عادت، زړه پوهه په نوي نشي بدلولای مترقي ژوند نه لري.
- ✍ د یوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر و ادب ساتل کیږي.
- ✍ د یوه لوړېدل او د بل ټیټېدل له یو بل سره تړلي دي.
- ✍ شپې لکه د خوبانو زلفې چې څومره اوږدې وي هغومره ښې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- ✍ د ژوندانه ټول خوږوالی په همدغه سبا کې پټ دی، که دغه سبا ته امید ونه لرو د ژوندانه تحمل هیڅکله نشو کولای.
- ✍ کله چې یو شی په سترګو ښه ښکاره شي په زړه کې ځای نیسي.
- ✍ کوم قدر او قیمت چې د انسان په بدن کې زړه لري په یوه جامعه کې یې شعر او شاعر لري.
- ✍ په یوازې ګلتوب او ګلالیتوب هیڅوک قدر او منزلت نه مومي او نه په تش ښایست دلبري او دلربایي کیږي.
- ✍ د ویدو قومونو کارونه لکه د ویده خوب چې په سینه کې لامبي خو لاس به یې لوند نه وي او هماغه به شان به تږی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قیـام الدیـن خادم



د پښتو ادب ځلانده ستوری، لیکـوال، شاعر، ادیـب، ژورنالیست، مفکر او ستـر شخصیت استاد قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی، د ملا علـي ګل لـمسی د ننګرهار ولایت، کامې ولسوالۍ کي په ۱۲۸٦ هـ. ل / ۱۹۰۷م کال کي زیږیدلی دی.

لومړنۍ زده کړي ئې کـورنۍ کي او د نورو دیـني زده کړو لپاره ئې د هیواد دننه او له هیواده بهر سفرونه کړي دي.

استاد خادم د ښوونکي، د ځینو ورځپاڼو او جریدو د مسؤل مدیر په توګه او هم ئې نوري مطبوعاتي او دولتي دندي تر سره کړي دي.

هغه یو سیاستپوه ، د مشرانو جرګې سناتور، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد، ژورنالیست، پیاوړی لیکوال، ویښ شاعر، ادیب او د فلسفي اندونو یو پوه عالم و. نوموړی پښتو ادب کي ځانګړی ځای لري. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبي او ادب له پنځو ځلاندو ستورو څخه یو ستوری دی. د ادبي ډګر تر څنګ ئې سیاست کي هم ونډه درلوده.

استاد قیام الدین خادم منثور او منظوم اثار لري لکه: بیدار شه پښتونه، د مرغلرو امېل، پښتونولي، خیالي دنیا، د مور مینه، نبوغ او عبقریت، څاروان، نوې رڼا، نوی ژوندون، مکارم الاخلاق، د خوشحال او رحمان موازنه، روهي ګلونه بایزید روښان، کره پښتو، بلهکا، د پښتو ننی لیکوال د کوچنیانو اخلاقي پالنه او داسي نور.

استاد قیام الدین خادم د ۱۹۷۹م/ ۱۳۵۸هـ.ل کال د وري د میاشتي پر ۵ مه نېټه وفات او د ننګرهار ولایت، کامې ولسوالۍ کي په خپله پلرنۍ هدیره کي خاورو ته وسپارل شو.

اروا ئې ښاده

- د ورځي رڼا د شپې له تیارې څخه ده.
- د ژوند ناکامي هغه څوک غواړي چي د کامیابۍ وړ وي.
- هغه ژوند کامیاب ژوند نه دی، چي تل کامراني لري.
- هغه خوشحالي سړی نه خوشحالوي چي د درد او خوږ په بیه نه وي اخیستل شوې.
- د لیدو خوند د بېلتانه په غم کي او د ژوندانه فتحه د ژوند په ماتې کي ده.
- هر څومره چي یوه خوشحالي شانداره وي هغومره هغه لیاري هم سختي وي چي د هغې د حصول لپاره لنډېږي.
- تر څو چي ژوند ژوند دی ، نو په دې کي برکت له حرکت څخه دی. ځکه کامل سکون کټ مټ مرګ دی.
- ګټه د زیار د باغ مېوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ حقيقي خوشحالي د استغنـا، موړ سترګي او د خوشحال زړګي نوم دی او دا شی په دغو شيانو کي پټ او مضمر دی.
- ❖ خوشحالي د خواهشاتو د محدود کېدلو نوم دی.
- ❖ خوشحالي د قناعت او د خپل زړه څخه د حرص د ايستلو نوم دی.
- ❖ د حيات خوند ازادي ده.
- ❖ د عاشقانو زړه په داسي همېشه جنت کي چي هلته د درد د اواز، غم او غمګسار نه وي، مري.
- ❖ کېدای شي چي نور کارونه په زور وچليږي، مګر قلم نازکه شی دی پر ده چي زور راشي مـاتـيږي.
- ❖ هيڅوک په زور باندي خپل ځان په چا لوی نشي منلای.
- ❖ توره په خپل ځای کي دکتاتوره ده او قـلـم پـه خپـل ځای کي، وړاندي والی هغه وخت کيږي چي دا دواړه احترامانه اتفاق وکړي.
- ❖ زندګي يـوه سرسبـزه او ښېرازه ونـه ده. علم ئې ببخ، شعر ئې تنه او سياست ئې مېوه ده.
- ❖ علم اکتشاف، شعر احساس او سياست کول دي.
- ❖ د ژوند سعادت او خوښي د ماديـاتو په زياتوالي او ډېروالي دومره اړه نه لري، لکه د ضمير په ازادۍ او د روح په خوشحالۍ پوري.
- ❖ ريښتنې ارزو هغه وي چي تل د تکميل په تلاش کي وي.
- ❖ ريښتنی محبت هم هغه دی چي د محبت د مدعا لپاره پرله پسې جد وجهد وکړي او دغه جد و جهد د ژوندانه مال وګڼي.
- ❖ بې دردي پـه يوه قوم او جامعـه کي داسي يـو مـرض دی چي پـه عـلاج ئې يوازي پېغمبران پوه شوي دي.
- ❖ د زړه د درد علاج پخپله د زړه درد دی او بس.
- ❖ هر ويده، ويده نه پاتي کيږي او هر کله چي وي ويښيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په دې خبره کې هيڅ شک نشته چې د يوه ملت يا د کل انسانيت سعادت خوشحالي او د اجتماعي ګذران سمون په علم دومره اړه نه لري لکه په اخلاقو ځکه چې علم پوهنه ده او اخلاق کړنه.
- اى ازادى، بې له تا ژوند يو لفظ دى، چې معنى نه لري. يا د رسام منه ده چې نه بوى لري او نه خوند.
- ترقي د هماغه قومونو په نصيب کيږي چې هغوى استعداد معلومولى شي او پس له معلومولو او پيژندلو څخه ئې روزلى او پاللى شي.
- انسان په خبرو انسان دى.
- که ته زړه لرې، نو د چا زړه مه ازاروه.
- زړه خو د همدې لپاره دى چې د عشق متاع پرې واخيستل شي.
- خداى يو دى مګر ده ته د رسېدو دومره لاري دي لکه څومره چې د انسانانو روحونه دي.
- ډيري ښې او طلايي خبري چې بې وخته او بې موقعې وشي هسي خوشي تيري شي او هيڅ فايده ونه ښندي.
- ژوندون بېشکه يو طلسم دى چې ماتيږي، خو د يو زړور انسان د پاره. څنګه ښکلى دى دا طلسم او څنګه خوندور دي دا ماتېده.
- خبرېده د هوښيار زړه د پاره لوى تسل دى او د حقيقي ژوند د پاره مرګ اډو څه مرګ نه دى.
- اخلاق هغه وخت د سعادت وسيله کيږي چې د فردي دايرې څخه ووځي او اجتماعي رنګ قبول کاندي.
- هلته چې زړه نه ويريږي؛ او سر نه ټيټوي. هلته چې علم ازاد دى. هلته چې دنيا د کورګيو په تنګو دېوالونو نه ده ماته او ټوکړې ټوکړې نه ده شوې. هلته چې الفاظ د ريښتينولى د عمق څخه راوځي. هلته چې سعي په استقلال سره خپل وزرونه د تکميل لپاره خپروي. هلته چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل صافه چینـه د بیکاره دودونو پـه وچ شگلن بـیابـان کښې خپلـه لاره نـه وي ورکـه کړې. هلته چي نفس د تل پراخېدونکي تخیل او عمل پسي ځي. ای څښتنه د آزادۍ په هغه جنت کښې زما ملک بیدار کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالرؤف بېنوا



استاد عبدالرؤف بېنوا د مفتي عبدالله زوی په ۱۲۹۳ هـ . ش کال په کندهار ښار کي زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړي ئې له خپلي کورنۍ او کندهاري عالمانو څخه کړي دي. وروسته ئې خصوصي زده کړي او مطالعې ته دوام ورکړ.

استاد بېنوا د پښتو ټولني مدير، په ډهلي او قاهره کي مطبوعاتي اتاشه، د کابل راډيو رئيس، په ولسي جرگه کي وکيل، په ليبيا کي سفير او د اطلاعاتو او کلتور وزير په توگه دندي تر سره کړي دي.

د اروانښاد استاد بېنوا مشهور اثار دا دي:

پښتني مېرمني، میرویس نیکه، ادبي فنون، هوتکي ها، پرېشانه افکار، د ټاگور (گیتانجلي) پښتو ژباړه، اوسني ليکوال، د هسک پېغله او ځيني نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرؤف بېنوا په ۱۳٦۳هـ . ش کال د سرطان ناروغۍ د علاج لپاره نیویارک ته ولاړ. هلته وفات او په نیو جرسي کي خاورو ته وسپارل شو.

☼ اوسنۍ دنیا یوازي ویلو ته ضرورت نه لري بلکي کار هم غواړي.

☼ زما و ستا رقابت باید د نورو لپاره په خدمت کولو کي وي نـه د موټرو په اوړدوالي، د کوټیو په لوړوالي او د لباس پـه ښکلا کي.

☼ را ځه چي د خپلو سپېڅلو زړونو مشعلونـه بل کړو او د هـغو پـه رڼـا کي پـه پاک نیت د خپل ژوندون لاره صافـه کړو.

☼ د رازونو په ځرګندولو کي ریښتیا خبري راځي او ریښتیا ویل ترخه وي.

☼ د ځینو رازونو پټول نه یوازي د یو بدبخته انسان پـه کمزورۍ دلالت کوي، بلکي د هغه بدبختي لا زیاتوي.

☼ څنګه چي په پټو سترګو له پـټي دنـیا څخه دې دنیا تـه راغلي یو همـداسي پــه پټو سترګو او پټه خوله دا نیمګړی ژوند پرېږدو نو زموږ د وجود او عدم تر منـځ به توپیر څه وي؟

☼ کوم کار چي د هوس او تظاهر له مخي شروع کیږي هغه به ضرور نیمګړی پاته وي او هغه کار چي نیمګړی پاته او سر ته نه رسیږي ښه دا ده چي شروع نه سي.

☼ طبیعي ښکلا یوازي د پسرلي د ګــلونو پـه بـرخه نه ده بلکي خزان وهلي پاڼي هم ځان ته یو ښکلی خزاني پسرلی لري.

☼ هیڅ انسان په یوازي سر، بې د نورو له مشورې او مرستي څخه حقیقي بریالیتوب ته رسېدلای نه سي.

☼ پرون مو د نن په تـمه ځانونه تېر ایستل، نن په سبا غولیږو او سبا خو به هیڅکله سبا نه سي.

☼ بې حرکته او یو نواخته ژوند تر مړیني بدتر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



☼ په خزان کي که د پسرلي هيله نه وای د بلبل په وزرو کي به دومره توان او شوق هم پاته نه و.

☼ د پوهي رڼا ليري نه ده خو چي زه او ته ځانونه ورځيني ليري ونه ساتو.

☼ افسوس دي وي د هغه چا پر حال چي کال نوی سي خو د ده ژوند زوړ وي، يا نوی کال د نوي ژوند نوي ارزوګاني راوړي خو د ده زړې ارزوګاني لا هم تر سره سوي نه وي.

☼ د زړه ناخوالي خرګندول د زړه د غم بار سپکوي او د سړي دماغ او وجدان لږ څه ارامويي.


☼ يو ګل چي څومره ډېر رنګونه ولري ښکلا يې هم هومره زياته وي او چي څومره مخونه ولري هغومره د ستايني وړ وي، خو يو انسان که دوه رنګه سو، يا يې ځان دوه مخی وښود نو نور يې مخ د کتو نه وي.

☼ که دوه مخي او دوه رنګي له منځه ليري سي د طبقاتو تر منځ مستقيمه رابطه او مفاهمه ډېره ژر د دوی منځ ته صميميت او يو رنګي راوستلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبـدالـکـلام ازاد



عبدالکلام ازاد (ابوالفقیر زین العابدین) د هندوستـان د جنوب له مسلمانانو څخه و، چي په یوه متدینه مسلمانه کورنۍ کي پـه ۱۹۳۱کال کي زیږېدلی دی. ده ساده ژوند درلود، کله چي په ۲۰۰۲ــ۲۰۰۷ کلونو کي د هندوستان ولسمشر شو، د ده د ژوند په ډول او چلند کي هیڅ توپیر رانغی، له زیاتو بوختیاوو سره ئې هم خپله اساسي دنده چي له ځوانانو سره تړاو، تدریس او ارتباط و کله هم له یاده ونه ایستله. ده د واحد او یو پیاوړي هندوستان لپاره د ژوند او پرمختګ نوي فورمول چي د هغه له عصر سره دغه هیواد د انسان عیارول و خپل ملت ته ورپه ګوته کړ. دی د هند د ملت پاله ګوند بي-جي- پي د واکمنۍ پر مهال د هندوستان ولسمشر و چي هیچا هم فکر نه کاوه دی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دنده تر ډېرو پر مخ بوزي خو ده خپله دوره په خورا متانت او د هند ملي گټو ته په خورا درنښت سره په بري پای ته ورسوله.

گرداب ورځپاڼه

- بریالیتوب له ناکامۍ څخه لاسته راځي.
- علم د پرمختگ او خوښۍ سبب دی.
- د نورو دروازې ټکول هیڅ گټه نه لري د خپلو خیالونو د ریښتیا کولو لپاره موږ حللاري ته اړتیا لرو.
- زه په دې عقیده چې که موږ پر خپلو موخو باور ولرو؛ نو هغه خوبونه چې موږ ئې وینو ضرور په حقیقت بدلیږي.
- دا خبره ښکاره ده، چې له زیار و زحمت پرته هیڅ کار هم نه تر سره کیږي او په زیار و زحمت سره هر ډول سخت کار تر سره کیږي.
- غوره خلک د انسان د ښه والي لپاره کار کوي خو انسانان د بربادۍ او تباهۍ وړتیا هم لري.
- ځان پېژندل هیله بښونکی نظر دی.
- موږ باید خپل ویده ځواک را بیدار کړو او له خپل تېر وخت نه درس واخلو.
- ځوانان د هیواد شتمني ده، ځوانانو ته باید د خپل ژوند د ښه والي لپاره لارښوونه وشي.
- د رغوونکو هلو- ځلو لپاره باید ملا وتړو.
- ذهنونه داسي روښانه کړو چې د ملت لپاره د سولي، خوښۍ، برکت او نېکبختۍ سبب شي.
- موږ باید د خپل ژوند لپاره موخي وټاکو څکه موخي ټاکل ذهنونه بیداروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- نور خلک نشي کولای چي موږ ناکام او بریالي کړي یوازي موږ یو، چي دا کار تر سره کولای شو.
- که هر څومره له ستونزو سره مخامخ کیږو باید زغم او حوصله له لاسه ورنه کړو.
- که موږ موخه ولرو نو پر مختګ هم کولای شو.
- د داسي سیاست پوهانو د رامنځته کېدو لپاره دعا وکړئ چي د هیواد د پرمختګ لپاره کار وکړي.
- زموږ تاریخ، دودونه او کلتور هم زموږ د پوهنتونونو په څېر د علم او پوهي سرچینې دي.
- ای خدایه، زما د هیوادوالو په ذهن کي فکر او عمل دواړه پیدا کړې او هغوی په اتفاق ولرې.
- زما د هیواد مذهبي مشرانو ته دا توفیق ورکړې، چي هغوی خلک له قومي او مذهبي جګړو وژغوري.
- مشرانو او عامو خلکو ته دا فکر وکړې چي د افرادو پر ځای د ټولو هیوادوالو خدمت وکړي.
- ای خدایه، زما خلکو ته همت ورکړې د هیواد د ابادۍ او د خلکو د خوښۍ لپاره کار وکړي.
- ای خدایه، ته زموږ خلکو ته دا ځواک ورکړې چي شر او نا امنۍ له منځه یوسي او زموږ هیواد او خلکو ته خوښي ور په بر خه کړي.
- موږ ټول یو شان استعداد نه لرو، مګر موږ ټول یو شان فرصت لرو چي خپل استعداد پر مخ بوزو.
- غوره هوښیار هغه دی، چي هر څه ته د عبرت په سترګه وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جـبـران خـلـیـل جـبـران



جبران خلیـل جبران نړیـوالـه نومـوتې، مشهوره ادبي څېـره ده، پـه ۱۸۸۳م کال د جنورۍ پر شپږمه د لبنان په شمالي غرنۍ او ښکلې سیمه «بشـره» کې زیږیـدلی دی. د هغه مور کامله رحمه نومېده. په هنر او انځورګرۍ کې ښه لاس درلود. دوو خاوندانو ئې لاره بېله کړې وه. د جبران پلار د هغې دریم خاوند و. د جبران ژوند له ډېرو لوړو ژورو او ستونزو ډک دی او په یوه اغزن چاپېریال کې رالوی شوی دی. پـه هـلکتـوب کي لـه خپلي کـورنۍ سره لـه خپل پلرني هیواده امریکا تـه ولاړ، هلتـه ئې ادبي فعالیـت پـیـل او ادبي ژونـد ئې جوړ کړ. جبـران د ځوانۍ له مهاله د شعر، هنر او لیکوالۍ ډګر ته راوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. د لیکوالۍ او شاعرۍ تر څنګ انځورګر هم و، په عربي او انګلیسي ژبو ئې اثار لیکلي، چي د نړۍ نورو ژبو ته هم ژباړل شوي دي. په فرانسه کي د نقاشۍ او انځورګرۍ له زده کړو وروسته چي دویم ځل امریکا ته ولاړ د نیویارک په ښار کي ئې دفتر پرانیست. د کلونو کلونو لپاره د لیکوالو، عرب هنرمن ملګرو او امریکایي مینه والو د راټولېدو او مجلس ځای و. ده په امریکا کي غوره نقاشۍ او غوره اثار وپنځول. ده دا وخت لا نړیوال شهرت نه و ګټلی، کله چي ئې «پېغمبر» نومی کتاب خپور کړ دا کتاب ده ته نړیوال شهرت او مقام ورکړ. له دې وروسته نړیواله ادبي او هنري څېره وپېژندل شوه. «پېغمبر» نومی کتاب ئې د نړۍ ۵۰ ژبو ته ژباړل شوی او د ډېرو پلورل شویو کتابونو په کتار کي ئې لومړی مقام خپل کړ.

ځیني اثار ئې په دې ډول دي.

مات وزرونه، لېونی، سرګردان، شګي او ځګ، د ځمکي خدایان، اوښکي او موسکا، د دښت ناوې، پېغمبر او نور...

لیکني ئې تر ننه په ټوله نړۍ کي د اوچت شعر، فلسفي، حکومت او هنر مینانو ته په میراث ورپاتي دي.

ده ته د اروپا او منځني ختیځ په ادبیاتو کي د اغېزمن لیکوال په سترګه کتل کیږي.

د ده لیکني د هغو ټګو مذهبي مشرانو له غندني ډکي دي چي خپل ناوړه کارونه د مذهبي مشرۍ تر چپنه لاندي پټوي.

جبران په ۱۹۳۱م کال د سرطان له ناروغۍ، په نیویارک کي د ۴۸کلونو په عمر له دې نړۍ ولاړ. جسد ئې په یوه بېړۍ کي د هغه له وصیت سره سم پلرني هیواد لبنان ته راوړل شو.

د خپل ښکلي او مینه ناک ټاټوبي «بشره کلي» په غونډیو کي خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و دي پوښتلم: ستا ژوند مهم دی که زما؟

ما وويل: زما. پرې دي ښودم ولاړې. پوه نشوې چي ته زما ژوند يې.

- ✓ باور د زړه د ننه علم دی.
- ✓ په ژوند کي هيڅ شی په مطلق ډول نه دي تضمين شوي.
- ✓ هغه نارينه چي د ښځي په عظمت نه پوهيږي هغه تر وحشي کم نه دی.
- ✓ د ښځو خبرو ته هغه وخت غوږ ونيسئ چي نورو ته ئې کوي نه هغه وخت چي تا ته ئې کوي.
- ✓ ويل کيږي چي چا ځان وپېژانده ټول خلک ئې وپېژندل زه وايم چي چا له خلکو سره مينه وکړه ځان ئې وپېژندہ.
- ✓ کوم کس چي کوښښ کوي په زور ځان غالب وښيي تر بل هر وخت د نفرت وړ گرځي.
- ✓ غوره خلک هغه دي که وستايل شي خجل شي او چي بد ئې وويل شي غلي شي.
- ✓ لوست او پوهه هغه پانگه ده چي زورواکان او ظالمان ئې له چا نشي اخيستلای.
- ✓ خوبونو ته عقيده ولرئ چي دا د ابديت کړکۍ ده.
- ✓ تاسي زړه يار ته وسپارئ خو نه د ساتلو لپاره ځکه يوازي د ژوند گرمي کولای شي زړونه وساتي.
- ✓ خوشحالي هغه پرېشاني ده، چي موږ ئې په لټه کي يو.
- ✓ د ونو ژوند په حاصل کي دی، وني حاصل ورکوي چي ژوندۍ پاتي شي، که حاصل ورنه کړي ژوند ئې ختم دی.
- ✓ زموږ د ژوند تر ټولو ترخې شېبې هغه دي چي تېر خواږه وختونه پکي يادوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ شتمني د میني په څېر ده که چا ورباندي بخیلي وکړه مړه کیږي خو ښښونکي ئې ژوندي پاتیږي.
- ✓ مینه تـر هـر شي واکمنه ده او لـوړتـیا ته ئې هیـڅ شی نـشي رسېدای.
- ✓ مینه او شک په زړه کي یو ځای نشي اوسېدلای.
- ✓ ژوند لـه میني پرتـه داسي دی لکه ونه چي گل او مېوه ونه لري او مینه پرته له ښکلا هغه گل دی چي وږمه ونه لري او هغه مېـوه چي زړی ونه لري.
- ✓ مینه تر هر څه کلکه او ستروالی ئې پـه تورو کي څـرگـندېدای نـشي.
- ✓ پـه ژونـدونـي د انسان لپـاره یو گل کافي دی نـه تر مرگ وروسته د هغه پر مـزار د گلـو گـېـډۍ.
- ✓ انسـانـان دوه ډولـه دي یو پـه تـیـاره کي ویـښ، بـل پـه رڼا کي ویـده.
- ✓ هغـه لاسونـه چي د ازغو تـاج جوړوي تر هغو لاسونو ښـه دي چي هیڅ نـه کوي.
- ✓ زه هیڅ ته بې خوابـه نه یم پاتـه شوی، پرتـه له هغه چي رانـه پوښتي ئې دي تـه څـوک یـې؟
- ✓ غم د دوو بـاغـونـو تر منـځ ولاړ دېـوال دی.
- ✓ روح اور او بـدن ئې ایـرې دي.
- ✓ د مقتـول لپـاره همدا ویـاړ بـس دی چي قـاتـل نـه دی.
- ✓ جهـالـت او نـاپـوهـې د بې فـکرۍ زانـگـو ده.
- ✓ ښکلا په مخ کي نه، په زړه کي د رڼا څرک دی.
- ✓ سترگي د روح دروازې او خبري ئې استازي دي.
- ✓ بـغـض او کینـه یو بې سـاه مـړی دی پـه تـاسو کي څـوک دا خوښوي چي د دې مړي لپـاره د خپل زړه نـه قبـر جوړ کړي.
- ✓ له هغې خوښۍ څخه ځان وژغورئ چي د نورو د غم سبـب گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دنـیا ښایسـته او غوره شی یـوازي مـور ده.
- د حقیقت او باطل تر منځ په نیمه لار کي مه درېږه.
- ژوند دوه مهم او قیمتي څیزه لري. ښایست او ریښتیا. لومړی مي د یوه مین په زړه کي پیدا کړ او دویم مي د یوه کاریګر په لاسونو کي.
- که ازادي ونه لرئ، اجتماعي عدالت نشئ کولای.
- ړوند دی، چي د جېب په زور زړه رانیسي.
- دا مهمه نه ده، چي له کومه راغلې. مهمه دا ده چي کوم ځای ته ځې؟
- که دي چوپتیا غوره کړه تر پایه چوپ شه.
- وینا لپاره چوپ مه کښېنه او چوپتیا لپاره وینا مه کوه.
- د رضایت پر مهال خپل رضایت څرګند کړه، نیم راضي او نیم ناراضه مه اوسه.
- نیم انکار مه کوه ځکه نیم انکار منل دي.
- په نیم ګیلاس تنده نه ماتیږي او په نیمه ډوډۍ لوږه نه ختمیږي.
- نیمه لاره دي منزل ته نه رسوي او نیمه مفکوره نتیجه نه لري.
- نیمه هیله او نیم ارمان مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ویلـیام شکـسپیـر



د نړۍ نامتو او مشهوره ادبي څېره، شکسپېر د برتانیا سټرانفورډ ښار کي په یوه بېوزله کورنۍ کي زیږېدلی دی. دی د لویو غنایي شاعرانو په ډله کي شمېرل کیږي. له انسانانو سره د ده ژوره عاطفه او بشري احساس د ده د ډرامو په اشخاصو کي لیدل کیږي.

ویلیام شکسپیر ډیري ډرامې لیکلي دي. تاریخي، کومیډي، تراژیدي او طنزي رنګ لري، چي ټولې ننداري ئې شهرت لري. مشهوري ئې مکبث، هملت، اتللو، رومیو او ژولیت دي. رومیو او ژولیت ئې مشهوره تراژیدي ده چي د یوې غمجنې میني بیان دی. په دوو دښمنو کورنیو کي د دوو مینو له میني بحث کوي، چي د مینو په مړینه پای ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شکسپير په نړۍ کي د لوی ډرامه ليکونکي نړيوال شهرت او مقام لري.**

**د ده د انګليسي ژبي اشعار په مشهورو شعرونو کي حسابيږي. «لينارټ پيټرسون» د بريتانيي ادبياتو په اثر کي د شکسپير په حق کي ليکلي، چي ده په خپلو پنځونو کي ډېرش زره لغاتونه کارولي دي.**

**«ويليام شکسپېر د انګلستان هغه نابغه ليکوال او متفکر دی چې په انګلستان کې به ډېر کم داسي کور وي چې د ده يو يا څو کتابونه دي پکې نـه وي او په نړۍ کې به ډېر کم داسي لوستي کسان وي چې د ده له نوم سره اشنـا نـه وي.**

**ويليام شکسپېر د نړۍ تر ټولو ستر او نامتو ډرامه ليکونکی بلل کېږي، د ده د ډرامو ښکلا په دې کې ده، چې هره ډرامه يې يو ځانګړی شاعرانه او فيلسوفانه رنګ لري او د بشر دوستۍ، تواضع، عبرت او نصيحت مسايل په خپله لمن کې رانـغاړي، همدا لامل دی چې د ده له اثارو څخه اوس فلمونه جوړ شوي دي او پـه نړۍ کې بې شمېره کتونکي او مينه وال لري.**

**د شکسپېر مړينه په ۱٦۱٦ م کال ښودل شوې ده. شکسپېر د «سټرانفورډ» ښار په يوه کليسا کې خاورو ته سـپارل شوی، چې اوس هم له ډېرو ليري ځايونو څخه خلک د ده د قبرليدو ته راځي او د دغه ستر ډرامه ليکونکي او شاعر درناوی کوي.»**

نړيوال ادبيات/ پوهنيار مصطفی صفا

- **مـينه تـلپاتې ده.**
- **له ميني وګړي نـه سترې کيږي او هــوس لـه مړتـيا څخه مري.**
- **که مينه ښکاره نه کړې ښايي خپله مينه ونه مومې.**
- **ناورين هغه دی چي د غرور له لاسه خپله مينه وبايلې.**
- **د ميني پسرلی تلپاتي وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښځه له هغه سړي سره مينه کوي چي راز ساتي، خو سړی له هغي ښځي سره مينه کوي چي ښايسته وي.
- هوښياره نجلۍ مينه د ميني لپاره نه کوي، بلکي مينه د واده لپاره کوي.
- هغه نجلۍ چي په لومړي ځل درته په ښکاره د ميني اظهار کوي هغه به دي بې خدای پامانۍ پرېږدي.
- ملګرتيا ډېر وخت په مينه پای ته رسيږي او مينه ډېر کم وخت په ملګرتيا پای ته رسيږي.
- ښځه اول مينه په سترګو کوي، بيا په زړه او اخر په عقل.
- مينه وګړي ته داسي هوسايي ورکوي لکه تر باران وربډو وروسته چي لمر راوخيږي.
- که مو له چا سره مينه لرله پرې ئې ږدئ که بيرته درته راوګرځېده نو ستا به شي کنه نو له اوله ستاسي نه و.
- سوچونه، خيالونه، اسوېلي او اوښکي له ميني څخه نه بېلېدونکي ملازمان دي.
- ښځه له خدايه يو مېړه غواړي، خو له مېړه بيا ټوله دنيا غواړي.
- سړی په اوښکو قانع کيږي، ښځه په ښکلولو.
- سره زر په اور معلوميږي، ښځه په سرو زرو او سړی بيا په ښځه امتحانيږي.
- ښځه سور ګل دی چي کله مړاوی شي ژر پاڼي- پاڼي شي.
- له دريو څيزونو ځان ساتئ: اور، اوبه او ښځه. اور دي سوځوي، اوبه دي ډوبوي، ښځه دي لېونی کوي.
- څه شی چي لاسته نه درځي هېر ئې کړه، که ئې هېرولای نشې نو تر لاسه ئې کړه.
- نړۍ يو دريځ دی او ټول نارينه او ښځينه يوازي لوبغاړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دنـیـا دومره سختـه ده چي څوک ئې د فلسفې پـه کتابـونو نشي پـېـژندای.
- سکې هر وخت شـور کوي خـو پیسـې همېشـه غلي وي، کـلـه چي دي ارزښـت لوړیـږي خامـوش اوسـه.
- ای فساد او فتـنـې، ولي دومـره ژر د انسـان پـه افکارو کي وده کوئ؟
- ای مغرور انسـانـه، تـه تـر اسمـان لانـدي د لږ قـدرت پیـدا کولو پـه خاطر داسي څـه کـوې چي پرښـتـې ژړوې.
- حقیـقـي ښـکـلا یـوازي پـه طبیـعـت کي مـونـدلای شـو.
- خـنـدان مـخـونـه پـه دې معنـا نـه چي دوی غـم نـه لري، مطلـب ئې دا دی چي دوی ئې د زغـم وړتـیـا لـري.
- کـتـابـونـه د بشـر لـویـه اختـراع ده.
- کتـاب مي هغه ملګری دی چي د یـوازیـتوب سختي شپې راسره تـجربـه کوي.
- هیڅکلـه د چا لـه احساسـاتو سره لوبـې مـه کوه، کېدای شي لوبه وګـټـې خو، هـغه شخـص بـه د تـل لپـاره وبـایـلـې.
- د ګـلو هـغـه ګـېډۍ چي تر مرګ وروسـتـه ئې راتـه راوړې، لـه هغې نـه یـو ګـل همـدا نـن راتـه راوړه.
- لـه یو ځل بـدګومـانۍ څخه سل ځلـه تـېـر ایسـتل غـوره دي.
- مینـه د دوو کسانـو تر منځ غلـط فهـمـي ده.
- نـاریـنـه طبیـعـي ښـکـلا لـري ځکـه ارایـش او سینـګـار تـه اړتـیـا نـه لـري.
- ما ژونـد هـمېشـه پـه خوښـۍ تـېـر کـړی دی، ایـا پوهـېږئ چي ولې؟ هغـه ځکـه چي لـه هیڅـا مي د څـه تـمـه نـه ده کـړې.
- لـېـونـی، مـین او شـاعر لـه یـوې ډلـې دي ځکـه درې واړه د خیـال بچـیـان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ژوند يوازي يو تېرېدونکی سيوری او بېوزله لوبغاړی دی، چي يوه شېبه د صحنې پر مخ راڅرګند شي، ځغلي، په شور، برم، پرتم ولولو، هيجان او احساساتو راځي او وروسته ئې هيڅ ږغ نه تر غوږو کيږي، يوه زړه راښکونکې او له زوږه ډکه افسانه ده چي يو بېړا او احمق ئې لولي هيڅ معنا نه لري.
- ملګرتيا لوی نعمت دی نېکمرغي ډېروي بدمرغي کموي.
- حُسن چي خبري شروع کړي نو د دنيا بهترين مقرر ګونګي پاته شي.
- د ژوند ترخې شېبې به له هغه چا تجربه کړې، چي تر ټولو خوږې شېبې دي ورسره تيري کړي وي.
- له ټولو سره مينه وکړه، پر لږو باور وکړه او له هيچا سره بد مه کوه.
- جدايي څومره خوږ غم دی.
- تا چي د کوم کار د بشپړولو اراده وکړه، له ناکامۍ سره- سره ئې نيمګړی مه پرېږده.
- وسوسې او شکونه زموږ هغه دښمنان دي چي د کاميابۍ په وخت کي زموږ د ناکامۍ سبب کيږي.
- ما د ښځي څېره نه بلکي د هغې مهرباني تسخيروي.
- معتقد يم د انسان سرنوشت يوازي محبت معلوموي او بس.
- دوستي يوازينۍ لاره ده چي سړی پرې رښتينی انسان پېژندلای شي.
- دوستي د يو دوست له خوا د يو دوست د کمزورتياوو رغونه ده.
- نارينه د هغي ښځي تر تاثير لاندي راځي چي اخلاق ولري نه ښکلا.
- يوه بې معنا او ناممکنه هيله له لاسه ورکول پخپله يو ستر برياليتوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که له ما سره مینه لرې ستا په زړه کې به یم او که نفرت رانه کوې په ذهن کې به دې یم، ما ته توپیر نه راکوي چې له ما نفرت کوې، یا له ما سره مینه.
- وخت پر هغو خلکو باندې چې منتظر دي ډېر ورو، پر هغو کسانو چې په وېره او ډار کې دي ډېر تریخ، پر هغو کسانو چې غمجن دي ډېر اوږد او پر هغو کسانو چې خوشحاله دي ډېر تېز تیرېږي، خو هغه کسان چې مین دي د هغو لپاره وخت پیل او پای نه لري.
- تا ویل چې زه له باران سره مینه لرم کله چې باران شو تا پر ځان چترۍ ونیوله، تا وېل له لمر سره مینه لرم کله چې لمر راوخوت ته د سیوري په لټه کې شوې، تا وېل له باد سره مینه لرم، خو کله چې باد لګېده تا د کوټې کړکۍ بندې کړې، ته چې له څه سره مینه لرې ترې تښتې دا هغه څه دي چې ما ډېر وېروي ځکه چې ته هر وخت راته وایې: زه له تا سره مینه لرم.
- که ټوله شپه د لمر له لاسه ورکولو لپاره وژاړې، د ستورو لیدلو خوند به هم له لاسه ورکړې.
- مور د ټولنې بنسټ دی.
- چې څه ونه لرې نو د له لاسه ورکولو لپاره هم څه نه لرې.
- څومره بدمرغه دي چې صبر او زغم نه لري مګر ټپونه بیرته رغیږي.
- خدای تا ته یوه څېره درکړې خو تا له هغې بل څه جوړ کړي دي.
- څوک چې قانع مسکین وي، شتمن دی.
- چاپلوسي د احمقانو خوراک دی، بې له دې خوږو ژوند نشي کولای.
- د ژوند سختي هیري کړه او په خلاصه غېږ ئې هر کلي ته ورشه.
- د ښځې اوښکه د هر غم دارو ده او خندا ئې د ټولو خوښیو لپاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ښځي پر ژبه د ټولي نړۍ شات او زهر پراته دي، چي هر يو وغواړي کارولای ئې شي.
- ښځه هغه وخت خاندي چي امکان ئې وي مګر ژړا په هر وخت او هر ګړی کولای شي.
- ښځه په دفاعي حالت کي ژاړي، د ناکامۍ په حال کي پټه خوله او د بحث پر مهال ئې وسله خندا ده.
- ښايسته مخ له ښه سيرته پرته لکه بې خوشبويۍ ګلاب.
- پوچ او بې کماله سړی، لکه تش لوښی ډېر شور ماشور کوي.
- خدای تا ته يو مخ درکړی، خو ته بل مخ غوره کوې.
- کاشکي توري او کلمات کم پيدا شوي وای تر څو ترې بېځايه استفاده نه کېدای.
- که چيري ټوله نړۍ له ترخو ډکه شي زه به ئې د خوږو په هيله وزغمم.
- له ژوند څخه د خوند اخيستلو لپاره پکار ده چي لږ ناپوه واوسې.
- تل د انسان کار دا دی چي سبا په نن او نن په پرون بدل کړي.
- څوک چي خوښي نه لري د هغه زړه مړ دی او د چا چي زړه مړ وي هغه ژوندی دی خو ژوند نه لري.
- لويه ګناه د افعي مار په څېر ده که هر څومره ئې له نورو څخه پټه کړې د مرګ پر مهال به دي تر لستوڼي راووزي او رسوا به دي کړي.
- څوک چي يو ځل باور ته زيان ورسوي، بيا پرې باور ونه کړې.
- ناوړه انسان ځي خو د هغه شر پاتي کيږي.
- که يو څوک زما مال پټ کړي، د يوه کم ارزښته شي غلا ئې وکړه، مګر که يو څوک زما ښه نوم له منځه يوسي، زما د ځان يوه برخه ئې وړې، په دي کار به دا غل ځان مالداره نه کړي مګر ما به غريب نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مورې په خپلو سينـو کي يوه اسماني وړانـګـه لرو چي نوم ئې وجدان دی.
- ژونـد د هـغـو کـسانو لـپاره چي احساس کوي تراژيـدي ده او د هغو کسانو لپـاره چي فکر کوي کومـيډي ده.
- څومره چي صبر زيات وي، دقت زيـاتيږي او څومره چي دقت زياتيږي، موفقيت زيـاتـيږي.
- کوم ويــاړونه او پېغورونـه چي پـه دې نړۍ کي زمونږ په برخه کيږي، د هغو دايرو پـه شـان دي چي د اوبـو پر مخ شـپـبـه پـه شپـبه لوييـږي او د لويېـدو پـه پـايلـه کي لـه منځـه ځي.
- هر څـوک چي قنـاعت نـه لري تـر ټـولـو غـريـب دی.
- تـبسـم د زړه پـاکوالي علامـه ده.
- ژوند هـر چــاتـه خوږ او د قـدر وړ دی ليکن مـېړني او بـهادر انسـان تـه عزت لـه هر څه زيـات ارزښـت لري.
- د ښځــي زړه د محبـت پـه اوبـو خړوب دی.
- د اولاد لپـاره پـه دنـيـا کي بهتـرين ځای د مور زړه دی.
- ژونـد د يـو متحرک او روان سيـوري پـه شـان دی.
- انسان بـايـد د مرګ تر وختـه خپلي هڅي ګړندی وساتي.
- لـه همت بغير د بريالیتـوب فکـر مـه کوه.
- کـه څـه هم د واوري پـه شان پاک يـاست خو له تومتـه نشې خلاصېدای.
- لويـی تـه مـه حيـرانـيږئ، ځيــني لوی نړی تـه راځي، ځيني پـه نـړی کي لويي لاستـه راوړي او ځيني پـه نړی کي لويي لـه لاسـه ورکوي.
- د دې لپاره چې سم او ستر کار تر سره کړې نو کوچنـی تېروتنه وکړه.
- ډېره عجيبه ده، چې د بشر غوږونه د نصيحت پر وړاندې کاڼه او د چاپلوسی پر وړاندې بيداره وي.
- لوښـی چې تش وي، نو غږ يې لوړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- ای، ځیرکتیا زما ملګرې شه.
- دوستي ارزښتمن نعمت دی، چې نېکمرغي دوه برابره کوي او بدمرغي راکموي.
- د بل چا په سترګو او خوښه واده کول د ځان لپاره د دوزخ د دروازې پرانیستل دي.
- شیطان هم خپلې موخې ته د رسېدو لپاره پر اسماني کتاب استناد کوي.
- که چیرې اوښکې لرې، نو تویولو ته یې چمتو شه.
- تا په دومره ځنډ ځواب راکړ، چي له ما اوس خپله پوښتنه هېره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وکټور هوګو



د نړۍ د مشهورو، نومیالیو شاعرانو او ادیبانو په قطار کې وکټور هوګو نړیواله مشهوره څېره ده. وکټور هوګو د (۱۹) مې پېړۍ نړیوال او مشهور فرانسوی شاعر، لیکوال او سیاستوال دی.

په (۱۸۰۲م) کال د فرانسې په بیزانسون کې نړۍ ته راغی. له ماشومتوبه ئې له هنر، ادب، شعر او لیکوالۍ سره مینه وه. همدغې مینې په ادبي ډګر کې نړیوال شهرت ورکړ.

په ۱۳ کلنۍ کې په ښه شعر لیکلو جایزه واخیسته او د فرانسې د هغه عصر نومیالي شاعر «شاتو بریان» د عالي ماشوم لقب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وکټور هوګو کوچنيوالی د ناپيليون د امپراتورۍ پر وخت په اروپا کي د جګړو په شور و ډب کي تېرېده. پلار ئې د ناپيليون وتلی جنرال و، چې د هسپانيې او ايټاليې په جګړو کي وکټور ورسره وخت تېر کړی ؤ.

له ټولنيز او سياسي چاپېريال زده کړه او له لويو ليکوالو سره ناستي د لا سترو برياوو پر لور وهڅاوه. هوګو په ښوونځي کي فعال او هڅاند زده کوونکی و.

په (۱۸۴۸م) کال د فرانسې په کورني اړ و دوړ کي ولس د بدمرغۍ په اور کي سوځېده. هوګو د خپل ولس د ژغورني او ګټي په خاطر سياست ته ورګډ شو.

وکټور هوګو د بېوزلو په پلوۍ کي شهرت پيدا کړ.

کله چي لوی ناپيليون په فرانسه کي پاچهۍ ته ورسېد؛ غوښتل ئې د خپل واک د ټينګښت لپاره قوي او ځواکمن ګوند جوړ کړي. دلته د هوګو او ناپيليون مخالفت پيل شو.

د ناپيليون تر بريا وروسته د هوګو په ګډون ۸۴ تنه ځيني نور سياسيون د فساد، تاوتريخوالي په پلمه او تور له فرانسې تبعيد کړل.

وکټور لومړی بلجيم بيا انګلستان او هلته ئې د کرنسي په جزيره کي د تبعيد ژوند تېراوه. د تبعيد په وخت کي ئې هم قلم روان ساته او اثار ئې ليکل.

رومانتيزم نړيوال ادبي مکتب دی. هوګو د رومانتيزم ادبي مکتب له بنسټ اېښودونکو ګڼل کيږي. زياتره ليکوال وکټور هوګو د رومانتيزم پلار ګڼي او په پرمختګ کي ئې د ده رول ښيي. د رومانتيزم له پيل او پای سره د هوګو نوم تړلی دی.

په فرانسوي ادب کي د وکټور هوګو نوم او ادبي کارنامې او هلي ځلي تلپاتي ارزښت لري، هوګو يوازي د فرانسې نه بلکي د اروپا او په ټوله کي نړيوال ادبي وياړ دی.

ځيني اثار ئې دا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېنوايان، دا اثر ئې نړيوال شهرت لري. پښتو ته علامه عبدالحي حبيبي صاحب ژباړلی دی. نور اثار ئې لکه: انتقام، بدمرغان، هغه سړی چې خاندي، د يوه محکوم سرگذشت، د خزان پاڼې او نور.**

**«وکټور هوگو تـه په ۱۸۸۵م ناروغي پيدا شوه او د ناروغۍ اوازه يې په هر ځای کې خپره شوه، ډيرو خلکو به د ده د ناروغۍ پوښتنه کوله، په پای کې په همدغه کال د می په ۲۲ مه نېټـه د جمعې په ورځ د ۸۳ کالو په عمر مړ شو او لاندې وصيت يې وکړ.**

**له خپلو شتو څخه ۵۰۰۰۰ فرانکه بېوزلانو ته بښم.**

**هيله من يم چې زما جسد د فقيرانو په تابوت کې هديرې ته يوسئ.**

**د کليسا له دعا او بښنې غوښتنو څخه بېزاره يم.**

**غواړم ټول خلک راته دعا وکړي.**

**پر خدای بشپړ ايمان لرم.**

**د فرانسې حکومت د وکټور هوگو په مړينه ملي ماتم اعلان کړ او خاورو ته يې د سپارنې په مراسمو کې تر دوو ميلونو زياتو کسانو گډون وکړ.»**

نړيوال ادبيات/ مصطفی صفا

- **بدمرغي د هوښـيارۍ زېـږنـده ده.**
- **که بدرنگي نه وای ښکلا به بې معنا وه.**
- **لـه سر نـه تـېرېـدل بـريـاليـتـوب تـه رسـېدل دي.**
- **ادبـيات د تـمدن پـټ راز دی او شعر د پـټـو هيلـو سرچيـنـه ده.**
- **شعر هغه پارونکی ساز دی چې د طبيـعت، بشر او پـيښو غږونـه يې سـره يو ځای کړي دي.**
- **هر ښوونـځی چې مو پرانـيست د زندان يو ور مو وتـاړه.**
- **هر څوک خپـل ارزښـت خپـلـه ټـاکي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بـایـد د ټـولـو لپـاره د علم دروازې پرانـیستل شي  هر چېرتـه چې کـرنـه ده او هر چیرې چې انسـان دی نو هلتـه بایـد کتـاب هم وي.
- هر سړی د خوشحالۍ دوې ورځې لري: یو  د واده ورځ او بـلـه هـغـه چـې مېرمن خاورو تـه وسـپـاري.
- هره زانـګـو یـو مـړسـتـون  دی.
- هغه څوک نـېکمرغه دی چې د نورو د عزت او درنـاوي لاري ورمعـلومـې وي او د نورو خوشحالي د خپلـو خوشحالیـو پـه انـدازه احساس کړي.
- د الوتـونکي پـه څېر شـه چې د ونې پـه یوه نري او کمزوري ښـاخ بـانـدې کینې سنـدرې وایي او دا احساسوي چې ښاخ ښوري مګر ډاډه دی چې وزرونـه لري.
- مخکې تـر دې چې منې راشي له پسرلي خوند واخلـه.
- د نـنـنـي هنـر موخـه ژونـد  ده نـه ښـکـلا.
- د پـوهـې ور دې د هـر چا پـر مخ پرانیستـی وي هر چیرتـه چې انسان دی هلتـه دې کتاب هم وي.
- لا مـا شـوم وم چې د لـویـوالي هـوډ راسـره و.
- د نـاپېژانـد تر منځ د ملګرتـیا څرګنــدېدل د ستـونزو ښـکـلا  ده.
- زما تـر ټولو ښـه ملګری هغـه دی چې وریـن تـنـدی لـري.
- لوړه او بـېوزلي؛ نـر جنـایت او ښـځـه  فحشـا تـه هڅـوي.
- ما د محراب مصلی وشکوله، ځکـه چې د هیوادنیو ټـپونو د تـړلو اړتـیـا وه.
- یوه کوچنۍ مرغۍچې تر پاڼو لاندې غاړه وهي د خـدای ج د شـتوالـــي ثبوت ته بس ده.
- چې مـرګ  دې ومـانـه بـرى بـه تـر لاسـه کړې.
- بـدمرغي اروا ، وړتیا عقـل او پـوهـه  روزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بې ښېګڼې ښکلا بې بويه ګل دی.
- واده يو پيوند دی يا به ښه مېوه نيسي يا بده.
- ښځه په نارينه او شيطان په ښځه لوبي کوي.
- مرګ څه خبره نه ده ژوند نه کېدل ډېر بد دي.
- هره پاک لمنې ښځه ښکلې او زړه وړونکې ده.
- مينه ښکلی او بدرنګ نه پېژني.
- الله ج بختور ته داسې زړه وربښي چې د مينې او زړه سوي ورو وي. هغه چې د ژوندانه پيښې او انساني زړه يې د مينې او درد په دوه مخې هينداره ليدلي نه وي رښتينولي يې نه ده ليدلې او له نړۍ نه ناخبره دی.
- تر مړينې بد څه دي؟ هغه څه چې تر راتلو وروسته يې مرګ غواړي.
- له هغه چا سره مينه وکړه چې ستا د مينې وړ وي نه د مينې تږی، د مينې تږی به يو ورځ نه يو ورځ خړوب شي.
- د وجدان عذاب په سوزنده سارا کې تر مړينې ډېر بد دی.
- هر هغه څه چې وايې، تر سره يې کړه او هر هغه څه چې تر سره کوې يې نو ويې وايه.
- که انسان وکولای شي چې خپل خپګان د يوه ښارپه څېر پرېږدي او لاړ شي نو کولای شي چې خپله نېکمرغي له سره پيل کړي.
- که چيرې نه غواړې چې تا وازمايي نو خپل کار په سمه توګه تر سره کړه.
- هغه قلم چې د خير په کار کې ونه چلول شي نو مات دي شي.
- ټول جهنم په يوه کلمه کې دی. يوازيتوب
- تر ټولو ستر ازموينه اخيستونکی الله ج دی او تر ټولو کوچنی ازموينه ورکوونکی د خدای ج بنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر ټولو نېکمرغه هغه څوک دی چې له دې دوه څیزونو څخه یوه ته لاسرسی ولري: لومړی ښه کتاب او بل داسې دوست چې د کتاب اهل وي.
- په ښکلا کې د کمې نشتوالی پخپله یوه نیمګړتیا ده.
- د ټولنې ښه والی او بدوالی زموږ د خپلو کړنو پایله ده د شکایت پر ځای باید بدمرغي له منځه یوسو.
- بشر ځان اشرف المخلوقات ګڼي په داسې حال کې چې له مخلوقاتو ډېر کمزوری دی.
- کله بېوزلي او مسکیني دې ته برید ته ورسیږي چې اړیکې او تړونونه شلوي دا هغه مرحله ده چې بدمرغه خلک هلته ورسیږي له هغو سره یو ځای کیږي او په یوه کلمه د بېوزلو په نامه سره ګډیږي.
- په هر ولس کې یو څراغ شته، چې ټولو خلکو ته رڼا ورکوي، هغه ښوونکی دی.
- د بشر لپاره په ژوند کې هیلې دومره ارزښت لري لکه مرغانو ته بڼکې او وزرې.
- تمه هغه ځنځیر دی چې د هر ازاد بنده لاسونه او پښې یې تړلي دي.
- لکه څنګه چې د ټولو لپاره ښادي شته، نو غم هم شته.
- مینه د ژوند ښکلا ده.
- ویل ئې سبا به له نن ښه وي، ایا نن د پرون سبا نه و؟
- مینه له زړه وکړئ، انتخاب له عقله.
- مینه ښه او بد نه پېژني.
- د ښه ملګري درلودل ستا غم نشي ورکولای، خو د غم پر وخت ډاډ درکولای شي. لکه چترۍ چې باران نشي درولای، خو ستا د راحت او ارام سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پوهي ور دي د هر چا پر مخ پرانيستی وي. چېرته چي انسان دی هلته دي کتاب هم وي.
- د ماشومـانو راتـلونکې د مور وپـلار پـه روزنـه پـورې تـړاو لـري.
- په پاريس کي چي يو کس ووژل شي دا جنايت دی، که په ختيځ کي زر کسه ووژل شي دا يوه پېښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرانسوا ماري ولټېر



«فرانسوا ولټېر د فرانسې نومیالی، متفکر، شاعر، طنز لیکونکی او فیلسوف و چې څېړونکو د خندان فیلسوف په نوم هم یاد کړی دی.

مشهور امریکایي مورخ«ویل ډورانټ» د ولټېر په هکله لیکلي:

«که ایټالیا د رنسانس دوره لري او المان د سمون عصر، همداسې فرانسه هم دا وخت تر دوی وروسته نه ده ځکه دوی ولټېر لري.»

د ولټېر له کورنۍ سره په ګاونډ کې یوه مشهوره ښځه د «دولانکو» په نامه اوسېدله؛ هغې چې کله ولټېر په کوچنیوالي ولید نو و یې ویل:

«دا هلک نابغه دی» په دې توګه یې وصیت وکړ چې زما له مرګ نه وروسته به دوه زره فرانکه زما له شتو څخه دغه هلک ته د دې لپاره ورکوئ چې ځان ته کتابونه ورباندې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولټر خپل لومړني معلومات له همدغو کتابونو، ښوونځي او له یوه کشیش څخه تر لاسه کړل.**

**په دې ترتیب د نورو مطالعاتو او د خپل پلار له پرلپسې ټینګار له امله د یوه اور ژبې، ټوکمار او هوښیار ځوان په بڼه راښکاره شو تر دې چې قلم ته یې لاس کړ او ویې ویل:**

**«تر څو چې د ادب قلم زما په لاس کې وي د بادشاهۍ د تاج پروا هم نه لرم.»**

**ولټر په خپل ژوند کې ۹۹ کتابونه ولیکل... د خپل سرشوخه ژوند تر څنګ یو زیات کاره انسان و او په دې اړه به یې ویل:**

**«کار نه کول، له ژوند نه کولو سره برابر دي.»**

**همدا سبب و چې د ۸۴کلونو په عمر مړ شو نو څېړونکو به ویل چې ولټر په خپلو کارونو دومره بوخت و چې د مړینې لپاره یې وخت نه درلود.**

**د ولټر د جنازې په مراسمو کې «یو لک» تنو ګډون درلود او «شپېټو لکو» نورو کسانو یې له کوڅو، واټونو او بامونو څخه ننداره کوله او پاریس ته یې د جسد د وړلو پر مهال تابوت لیکلي وو:**

**(دغه سړي د بشر ذهن ته ټکان ورکړ او زموږ لپاره یې ازادي جوړه کړه.)**

**د ده د قبر په تیږه یوازې دا درې کلمې لیکل شوي دي:»**

**(دلته ولټر ویده دی)**

نړیوال ادبیات/ مصطفی صفا

- **د توري ملا د قلم پر وړاندې ماته ده.**
- **هغه لاسونه بختور دي، چې د توري پر ځای پکې قلم نیول کیږي.**
- **ګټور کتابونه هغه دي، چې لوستونکی وهڅوي چې تر پایه ئې ولولي.**
- **د یوه کتاب پاڼې د وزرونو په څېر دي، چې زموږ روح له نور او روښنایي سره یو ځای الوزوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هر انسان له خپلو پوښتنو پېژندل کيږي، نه له ځوابونو.
- کتاب پر ټوله نړۍ او يا لږ تر لږه پر لوستو خلکو حکومت کوي؛ له دې حکومت نه وتي خلک کوم ارزښت نه لري.
- له رښتينولۍ سره مينه ولره او تېروتنه وبخښه.
- ژوند يو امتحان دی، چې هيڅکله پای نه مومي.
- انسان که د هوډ او تصميم نيوني پر وخت ازاد و، نو ازاد دی.
- په کومه ټولنه کې چې کار اهل کار ته ونه سپارل شي، په حقيقت کې ټول بېکار دي.
- تصادف يوه بې معنا خبره ده. په نړۍ کې هيڅ شی بې دليله نه دي رامنځته شوي.
- کار مو له دريو بلاګانو ژغوري: غلا، خفګان او اړتيا.
- کار نه کول، ژوند نه کول دي.
- چې هر څومره ډېر فکر کوم؛ ښه پوهېږم، چې نه پوهېږم.
- څومره چې کتاب مطالعه کړئ، هغومره به رښتينی خوند ومومئ.
- واده کول د خوندونو هغه ټولګه ده، چې تريخوالی، خوږوالی، ترېووالی او پيکه توب سرليکونه يې په لمن کې رانغښتي دي.
- څومره چې متاهل کسان ډېر شي، هغومره جنايت کميږي.
- د هغو ناپوهانو ازادول سخت دي، چې د خپلو ځنځيرونو لمانځنه کوي.
- اوږده موده مخالفت دا معنا، چې دواړه طرفونه خطا دي.
- پرېږدئ ولولو، پرېږدئ وناځو دا دوه شيان هيڅکله نورو ته ضرر نه رسوي.
- موږ ټول د زيږېدو له ورځې برابر پيدا شوي يو، خو د امتياز توپير مو په ريښتنولۍ او سپېڅلتيا کې دی.
- که پر بېوزلو غوسه شې، نو ځواکمن نه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د فسادونو وروستۍ درجه د ظالمانو په توګه د قوانینو تطبیق کول دي.
- د څو مچانو نېښونه هیڅکله نشي کولای چې د ګړندي اس د منډې مخه ونیسي.
- هغه کس چې هیله لري د کال څلور واړه فصلونه دي پسرلی وي، نه ځان پېژني، نه طبیعت او نه هم ژوند.
- هر څوک دوه ځلې مري: لومړی هغه مهال چې له زړه یې مینه لاړه شي، دویم هغه مهال چې ژوند ته پکې سپکي- سپوري وایي، خو د ژوند مرګ د مینې د مرګ پر وړاندې ناڅیزه دی.
- زما په لاس کې چې تل د ادب قلم وي نو د پاچاهۍ د تاج پروا نه لرم.
- رښتینې مینه لیریوالی، خو څه ان له مرګ سره هم نه پخلا کېږي.
- مینه تر واده خوږه ده لکه ناول چې تر تاریخ خوږ دی.
- که چیري کوم عمل مو وکاره نو عادت به وربېځ. که مو عادت وکاره نو اخلاق به وریبې او که اخلاق مو وکاره، نو برخلیک به وریبې.
- دوستي د روح واده دی په هغه کې د بېلېدو او طلاق اجازه نشته.
- د ژوندانه د لوبې په پیل کې انسان تېروتونکی او په پای کې یې تېر ایستونکی دی، یا په بله وینا د وري په څېر زیږي او د ګیدړ غوندې مري.
- کتابونه په نړۍ کې یا لږ تر لږه په هغو قامونو چې لیک او لوست یې زده وي واکمني کوي نور قامونه یې ارزښت نه لري.
- د ښځو یوه دنده دا ده، چې د نارینه وو اخلاق وروزي.
- یو پاک زړه د نړۍ تر ټولو ښکلیو جوماتونو او معبدونو ښکلی دی.
- چې خبره د پیسو شي نو بیا ټول یو دین مني.
- دوه لاملونه هیواد ویجاړوي: لومړی چې پوهان ونه لري، دویم چې د چارو واګې د پوهانو په لاس کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بدیـو وروسـتی پړاو، د تېري او ظلم پـه لاره کې د قـانـون کـارول دي.
- انسان هماغـه شېبـه چي د خپلـواک کېـدو پـرېـکـړه کوي خپـلـواک دی.
- د دوو مینو یو ځای کېدل او بیرته جلا کېدل د ژوندانه دوې ارزښتمنـي شېبې دي.
- مینـه پیاوړی اور دی چې پـه یوه شېبـه کې زړه او ماغزه تر بـرید لاندې راولي.
- د میني پیـونـد پـه بېلتـانـه څه، چې پـه مرګ هم نـه بـېـلـیـږي.
- تـاریخ د بـشـر د جـنـایـتونـو او بـدبختـیـو انځـور دی.
- د ښځې کاته تر قوانینو زورور او اوښکې یې تر شرعي ځواکونو اغېزناکې دي.
- زما د ژونـدانـه ټولې بریـاوې، هڅې، پوهه او ویاړونه له ښځې سره پـه یـوه شېبه مینه نـه ارزي.
- هنرونـه ټـول سره ورونـه دي هر یو پـر بـل وړانـګې اچـوي.
- د دې لپـاره چې ښـه ولیکو، نـو یـوه خپـلـواک هیواد تـه اړتـیا لرو.
- څوک چې لـه مرګـه وېریـږي، لـه ژونـده هم وېـریـږي.
- څوک چې غواړي خپلواکي یې خوندي پاتې شي نو باید ځان په سادګۍ او بې برخیتـوب روږدی کـړي.
- ټول خلک خپلواکي خوښوي خو په ګڼو لارو- چارو یې په له منځـه وړلـو کې بوخت دي.
- موږ ټول یو ګډ فکر او خیـال لرو او هغـه د مال او شتو ټولـول دي.
- نـېکمرغي هغه جامې دي چې طبیـعت هغـه پـه ډېـره ګرانـه بـیـه پر موږ پلوري.
- دوسـت د چـترۍ پـه شـان دی چې په بـاران کې نـه پـیدا کـیـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ځانګړې توګه سیاست یعني د هیواد لرلو علم، خو په عام ډول د سیاست هر یو کار ځان ته خاصیت لري.
- د سړي وجدان لکه د هغه خپل ساعت داسې دی، هرسړی دا وایي، چې زما ساعت ښه او سم کار کوي.
- نېکمرغي هغه جامې دي چې طبیعت هغه په ډېره ګرانه بیه پر موږ پلوري.
- انسان هیڅکله بد عمله او خبیث نه وي زیړېدلی بد عملي او خباثت ساري ناروغي ده.
- مور د ژوند سمبول، مینه او محبت دی.
- ژوند د ماشوم په څېر دی، تر څو ستر شوی نه وي باید ځانګو ته یې ټالی ورکړو.
- د هر قوم ژوندون د جنایتونو، مصیبتونو او خلکو د لېونتوب یوه سلسله ده.
- د خدای ج نعمتونه بې شمېره دي، خو هر څوک د خپل قسمت په کچه له هغې څخه برخمن کیږي.
- د دوو مینانو دیدن او بېلتون دوه ارزښتمن وختونه ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسدالله غضنفر



استاد اسدالله غضنفر د غزلستوري اروابناد استاد محمد صدیق پسرلي زوی دی. د کندز په چهار درې ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. اوسنی استوګنځی ئې کابل دی.

ښاغلی غضنفر اوسني وخت کې د پښتو ژبې او ادب ویاړ دی. مشهوره ادبي او فرهنګي څېره، نوموتی لیکوال، تکړه ژباړن، خوږ ژبی ویاند او نامتو کره کتونکی دی. نوموړی د خوږې، ساده او اسانه لیکنۍ ژبې خاوند دی.

په لیکنو کې ادبي، فرهنګي، ګرامري، تاریخي او د کره کتنې بحثونه په ډېره اسانه ژبه بیانوي. همدا ساده والی د ده د لیکنۍ ژبې او د ده د لیکوالۍ کمال او له خپلو لوستونکو سره د ده د مینې ثبوت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د استاد غضنفر له ویکیپیډیا.

**«زده کړې**

دولسم ټولګی یې د کندز ښار په شېرخان لېسه کې لوستی او وروسته یې د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځی لوستی دی. ښاغلي غضنفر د پېښور له پوهنتونه په پښتو ادبیاتو کې د ماسټرۍ سند اخیستی او خپل لومړنی رسمي کار یې د ایران په تهران رادیو کې ترسره کړی دی.

**لیکوالي**

اسدالله غضنفر په پېښور کې د میاشتنۍ سپېدې مجلې د چاپ په برخه کې له مرستو خپل ادبي او فرهنګي کار پیل کړ. ګڼ شمېر لنډې کیسې یې ولیکلې او وروسته وروسته یې د لنډو کیسو پر فني اړخ ډېر کار وکړ.

نوموړي پر ۱۹۹۹ ز کال د داستانونه دوه میاشتنۍ مجله له پېښوره چاپ کړه. دا د پښتو ژبې په ادبیاتو کې لومړنۍ مجله وه چې یوازې لنډو کیسو ته ځانګړې شوې وه، خو تر دوه نیم کلن خپرندویي فعالیت وروسته داستانونه بنده شوه. له تېر کال څخه یو وار بیا داستانونه پیل شوې چې له کابله خپرېږي.

**دندې**

ښاغلی غضنفر د ازادۍ له راډیو سره همکاري لري خو د دوی ډېر کار لا هم د داستان لیکنې پر فني او کره کتونکي اړخ راڅرخي.

اسدالله غضنفر د ۱۳۹۳ ل کال په لیندۍ میاشت کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د فرمان پر بنسټ د هېوادمشر ډاکتر محمد اشرف غني د فرهنګي چارو د سلاکار په توګه په دنده وګومارل شو.

**چاپ شوي اثار یې**

سېمبول په ادب کې. ساړه بادونه (لنډې کیسې).د تاریخ ننداره (ژباړه) د ۱۳۸۸ ل کال چاپ.د نثر لیکلو هنر د ۱۳۹۲ ل کال چاپ. د یو تېر اور ابرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(لنډې کيسې.کولتور او ټولنه.جادوگر هنر. د تاريخ سبقونه (ژباړه) د ۲۰۱۳ ز کال چاپ. د زرو هېندارو کور (ژباړه). څراغ د ۱۳۹٦ ل کال چاپ»**

اسدالله غضنفر ويکيپېډيا

- **ستا رقيب ستا پرون دی که تر پرون نن بهتره وې نو رقيب ته دې ماته ورکړې ده.**
- **په شوره ځمکه کې گل نه غوړېږي او په شگو کې محل نه جوړېږي.**
- **واقعي وده دا نه ده چې تر بل چا مې رتبه لوړه شي واقعي وده دا ده چې وړتيا مې زياته شي څکه رتبه بل راکوي او بل به يې اخلي خو وړتيا پخپل مټ احساسوم او ساتل يې زما په لاس کې دي.**
- **يو ذوق چې ونه پالل شي مړاوی کېږي او يو شي ته چې توجه ونه کړو هغه که اهميت هم ولري اهميت يې زموږ په ژوند کې کميږي.**
- **کلمې به د پيسو غوندي په احتياط لگوو.**
- **هيڅوک نه غواړي چې له لاسه يې پياله ولوېږي او ماته شي مگر هره ورځ ډېري پيالې ماتيږي.**
- **په مينه کې يو بنيادم په دوو بنيادمانو بدل شي په دې معنا چې خپل ژوند او شخصيت له بل چا سره شريک کړي د يو بل چا غم يې خپل غم شي او د هغه خوشحالي يې خپله خوشحالي شي.**
- **د نورو په کار کې کار لرل او د نورو په کاميابۍ باندي زړه خوړل په ژوند کې د ماتې او ناکامۍ سبب گرځي.**
- **هر واقعي ليکوال ځينې ارزښتونه لري چې د هغو وړاندې کول يې ليکوالي ته روح ورکوي. په دغو ارزښتونو باندې سودا به ليکوال ته پيسې، منصب يا شهرت ورکړي خو د ليکوال په حيث يې د پرمختگ مخه نيسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر پرانیستي دروازې دي بنده دروازه د یوه کور منځ ته ډېر وربولي.
- بخت د هر چا د کور دروازه ټکوي خو دا نه ورته وایي چې دروازې ته څوک ولاړ دی.
- هغه فرصتونه چې زموږ په ژوند کې نه وو دومره دردوونکي نه دي لکه هغه فرصتونه چې زموږ ژوند ته راغلل او و مو نه پېژندل.
- ټولې ورځې یو شان دي خو دا زړه دی چې فرق پکې راولي.
- چې په خوند پسې وګرځې، خوند پیدا کېږي.
- ابتکار هغه وخت واقعي وي چې له پوهې او بصیرته راټوکېدلی وي.
- سبک لکه شخصیت ورو ـ ورو وده کوي.
- هنر او ادبیات مو له یوازیتوبه راباسي، ژوند ته مو معنا ورکوي... او د انسان په حیث ژوند کول راته اسانوي.
- د معرفت واقعي لاروی د ازاد ذهن څښتن وي. هغه څوک چې ذهن یې غلام وي له کتاب سره د بحث کولو جرأت نه لري.
- له بل سره مینه او بل ته احترام د هغه چا په زړه کې ښه ځائېدلای شي چې له ځان سره مینه او ځان ته احترام ولري.
- زموږ اصلي سرمایه ژوند دی او ژوند د یو څه وخت مجموعه ده. په دې وخت کې یو مقصد پکار دی او مقصد ته رسېدل پلان او پروګرام غواړي.
- په هره هغه ټولنه کې چې فردي ازادي ته احترام کم وي د دوه مخو کسانو شمېر زیاتیږي.
- له وګړیو عالي اخلاق غواړو، خو د ټولنې د حالت د بهترۍ لپاره زحمت نه باسو.
- بې ابتکاره خلک هر نوي شي ته د شک په سترګه ګوري.
- فلسفه په دې ارزي چې ولوستل شي، ځکه دا به بې انصافي وي چې ژوند کوو، خو غور ورباندې نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما په نظر ژوند نه ښکلی دی، نه بدرنګ. ژوند سپین کاغذ دی. د دغه کاغذ ښکلا یا بدرنګي له هغه څه سره تعلق لري چې ورباندې لیکو یې او رسموو یې.
- هغه څوک چې د خپلو مفکورو د دفاع لپاره د قهر، اخطار او انتقام خبرې کوي که څه هم په جسمي لحاظ د انټرنیټ په زمانه کې اوسي، خو په ذهني لحاظ یې له اوسنۍ زمانې ډېر لري د لرغوني وخت په کومه وچه شپله کې خېمه وهلې ده.
- ښه لاره دا ده چې ذهن غیر عادي کړو او له عادته یې راوباسو چې نالیدلي ولیدلای شو او وصال ومومو.
- نا معمول حالت مو حواس بیداروي، کله چې حواس بیدار شي بیا ممکن هغه څه ووینو چې تر اوسه مو نه دي لیدلي.
- د عواطفو ساحه د فکر له ژورتیا او پراختیا سره اړه لري او فکر له مطالعې سره ښه غوړېږي.
- د هنر اندازه کول د کیفیت اندازه کول دي او کیفیت تله نه لري چې یو من غنم دي پکې بل وخت هم یو من غنم شي.
- د ډېرې ښې شاعرۍ او لیکوالۍ لپاره صادق اوسېدل ، پر ځان باور کول او جرأت لرل ضروري توکونه دي.
- موږ ادبیات د دې لپاره لولو چې د ژوند په هغو شېبو کې شریک شو چې په موږ نه دي تېرې شوې او یا خو برسېرن ورباندې تېر شوي یو.
- هغه مینه چې له جسم او ظاهري ښکلا سره کېږي نسبي او موقتي وي.
- یو عاشق ته د اشنا بېلتون ډېر شدید غم دی او د هغه دیدن بې حده خوشحالي ده.
- عشق کېدای شي انسان سرلوړی کړي، په انسان باندې جنتي خوند وڅکي او انسان د غم په اور کې وسوځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مینه د خواخوږۍ، وسواس، کینې، رخې، بدګومانۍ، ویرې، سرلوړۍ قهر، وفا، پښېمانۍ، سربښندنې، نهیلۍ، ذلت، غم، خوشحالۍ او نورو متضادو روحي کیفیتونو مجموعه ده.
- هغه پوهه او بصیرت چې په کاغذ باندې د یو څه له لیکلو، د خپلې لیکنې له خوند اخیستلو، پر خپله لیکنه باندې له خوند اخیستلو، د کاغذ له څیري کولو دوباره لیکلو او د یوه همېشني اظطراب له لرلو حاصلېږي د ادب هیڅ استاد یې نشي راکولای.
- په هره ټولنه کې چې خبرې وي، خو خبرې اترې نه وي، نظریه وي، خو د مخالفې نظریې د اورېدلو اجازه نه وي هلته فکر وده نه کوي.
- د فکر ازادي ان د هغو په ګټه هم ده، چې جفا ورسره کوي.
- د فکر د ازادۍ په برکت انسان له ناخبرۍ راوتلی او خپلو ستونزو ته د حل لاره لټولی شي.
- د واقعي فکر ځانګړنه دا ده، چې د ژوند په څېر شېبه په شېبه نورېږي غوړېږي، مړاوی کېږي او ځای نویو فکرونو ته ورکوي.
- خپلو نظرونو ته د شک په نظر کتل او د نورو په خبرو اول ځان پوهول او بیا یې را اخیستل له موږ سره مرسته کوي، چې د کلیشه شویو او قالبي فکرونو له سلطې راووځو.
- د نن بدلول په ریښتیا ممکن دي، خو د پرون بدلول د هیچا د وس خبره نه ده.
- هغو قامونو چې د لټون ځای خطا کړی دی او په فطرت کې نه بلکې د یو بل په شخصي ژوند کې تجسس کوي ښه ورځ نه ده لیدلې.
- د هنري ژبې لوی مقصد دا دی، چې عواطف وپاروي.
- که غواړو چې تاریخ زموږ خلکو ته خیر ورسوي د لیکلو پر وخت یې باید خپلې ملي، نظریاتي، منطقوي یا نوري خواخوږۍ هیرې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاکید او تکرار د شاعرانه ژبې خصوصیت دی.
- د یوې لیکنې د سبک پېژندنه د هغې په بیا بیا لوستلو او د هغې روح ته د ننوتلو له لارې ممکنه ده.
- په هر اثر کې سبک یو پټ راز دی، چې د لیکنې د مختلفو تمایلاتو ځانګړنو او انحرافونو د پرتله کولو له لارې ور رسېدلی شو.
- هنري ژبه پارندویه ده او عادي ژبه ښووندویه. هنري ژبه که د پوهونې تکل هم وکړي د پارونې له لارې به یې کوي.
- ځینې لیکوال په ځان مین وي او ځینې نور له لوستونکي سره خواخوږي لري. موږ د دغه دوه ډوله لیکوالو اخلاقي دریځ او روحیه د دوی له لیکنو پېژندلای شو.
- لیکوال په خپل کار کې د واقعي پرمختګ لپاره او یا په بله ژبه له ځان سره د واقعاً ښه لیکلو لپاره دې ته اړ دی، چې له لوستونکو سره مینه ولري.
- کامیاب هنرمن د ځان او مخاطب تر منځ روغې جوړې ته اهمیت ورکوي او په دې پوهیږي، چې څنګه هم مخاطب وساتي او هم خپل فردیت.
- لکه د رڼو اوبو په تل کې چې سیندني کاڼي وینو دغسې به د واضحې لیکنې په کرښو کې د معنا تل ته رسیږو.
- پټه خوله پاتېدل عیب نه دی، خو بې مورده ږغېدل عیب حسابیږي.
- د معنا او موسیقۍ غاړه غړۍ کېدل د ښې شاعرۍ اصلي غوښتنه او د تلپاتې شاعرۍ همېشنۍ ځانګړنه ده.
- د وخت په تېرېدلو سره د یوې کلمې معنا بدلیږي، پراخیږي، محدودیږي، مثبت اړخ مومي یا منفي اړخ پیدا کوي.
- سلاست د لیکنې د ښکلا یو شرط دی.
- د هره ورځ لیکلو په برکت به د قلم څښتن په رواني لحاظ د قلم له کار سره وصل پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څرنګه چې شعر د احساساتو او عواطفو د بيان ژبه ده، نو د کلمو تکرار په شعر کې ممکن بې خوندي نه بلکې خوند پيدا کړي، خو په نثري ليکنو کې د يوې کلمې بيا بيا راوړل معمولاً د بې خوندۍ سبب کيږي.
- د ژوند مشکلات، اړتياوي او واقيعتونه د قلم پر څښتن د قلم کار هېرولی شي، خو که دی په شواروز کې لس دقيقې هم ليکلو ته ورکړي دغه کانه به نه ورسره کېږي.
- ليکوال که د نن احساس نن قلمبند نه کړي بل وخت ممکن په ګوتو ورنشي دا د هره ورځ ليکلو بله ګټه ده.
- هغه ليکوال چې په ځان بې باوره شي او تکيه يې د زمانې په موډونو باندې وي مهم اثار نشي ليکلای.
- ادب د هنر برخه ده او په هنري اثر کې خوند او ښکلا وي.
- حسي کلمې د شعر او داستان او هر هغه نثر لپاره آب حيات وګڼه، چې له معنا سره ښکلا ملګرې کوي.
- ښه نثر د ښې ښيښې غوندې دی. ښه نثر د رڼو اوبو غوندې دی، چې د سيند د تل کاڼي پکې داسې ښکاري لکه زموږ او کاڼو تر منځ چې بل شی نه وي.
- د ښه نثر د لوستلو پر وخت احساس کوو، چې له مطلب سره وصل شوي يو. زما او لوستونکي او مفهوم تر منځ د نثر وسيله نشته.
- واقعي ليکوالي واقعي مينه غواړي.
- ليکونکي ته پکار ده، چې تر وسه وسه د ليکنې موضوع ته وفاداره وي.
- خپل سبک ورو ورو وده کوي او پخيږي.
- سبک جامه نه ده، چې ويې باسو او نوري واغوندو.
- سبک د شخصيت غوندې دی. بشپړيږي او ترميميږي، خو له سره نه متولد کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خپلو افکارو، اقدارو او ذوق ته درناوی هغه څراغ دی، چې لیکوال ته د خپل سبک د پیدا کولو لاره وربښيي.
- لوی لیکوال د بل هر ډګر د بریالي کس غوندې هغه څوک دی، چې د وخت په قدر پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژان پل سارتر



ژان پل سارتر د فرانسې د شلمې میلادي پېړۍ یو نامتو فیلسوف، د نوبل د ادبي جایزې ګټونکی لیکوال، سوله غوښتونکی سیاستوال، ادبي کره کتونکی او د اګزیستېنسیالېزم د فلسفي مکتب په پلویانو کې یو مهم او مخکښ شخصیت شمېرل کېږي. څېړونکي وایي که څه هم د وجودي فلسفې «اګزیستېنسیالېزم» بنسټ د نورو فیلسوفانو له خوا ایښودل شوی دی، خو دا «سارتر» ؤ، چې دغې فلسفې ته یې نړیوال شهرت ورکړ. (٦، ١٠مخ)

سارتر په ۱۹۰۵ م کال د فرانسې په پلازمینه پاریس کې نړۍ ته راغلی دی. سارتر د ۱۵ میاشتو ؤ، چې پلار یې د ژېړي تبې له امله مړ شو او مور یې د خپل پلار «شارل شوایترز» کره ولاړه. (٦، ١١مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارتر درې کلن ؤ، چې ښۍ سترګه یې ناروغه شوه او ورو ورو یې خپل ځیر له لاسه ورکړ، همدا لامل ؤ، چې ده د خپل ژوند تر پایه پورې عینکي په سترګو کولې او خپلې یوازنۍ چپې سترګې ته یې زیاته پاملرنه کوله. د سارتر نیکه «شارل شوایترز» په خپل کور کې د خپل ځان لپاره یو شخصي کتابتون درلورد، د دغه کتابتون الماری په آلماني او فرانسوي ژبو باندې له بېلابېلو علمي او فرهنګي کتابونو ډکه ډکې وې. سارتر به هر وخت د خپل نیکه په کتابونو کې د خپل ذوق کتابونه لټول. سارتر لا ښوونځي ته نه ؤ تللی، چې خپلې مور یې لیکل او لوستل وروښودل. سارتر به د ورځې زیاته برخه د خپل نیکه په کتابتون کې د کتابونو په لوستلو باندې تېروله. کله به یې لوستل او کله به یې له هغو څخه لیک لیکه، په دې اساس نوموړی یو کورناستی هلک ؤ او له خپلو همزولو سره یې ډېره کمه ناسته ولاړه درلوده. (٦، ١٣-١۴مخ)

د سارتر عمر د ۷ کلو په شاوخوا کې ؤ، چې مور او نیکه یې د «څلورم هانري» ښوونځي ته واستاوه. سارتر چې کله ۱۲ کلنی ته ورسېد، مور یې له یوه سړي سره چې «ژوطف مانسي» نومېد او د سارتر د پلار پخوانی ملګری ؤ واده وکړ او نور یې له دغه نوي خاوند سره د «لاروشل» ښار ته کډه وکړه. که څه هم سارتر له خپلې مور سره ولاړ، خو د خپلې مور له دغې پرېکړې څخه ناراضه ؤ. سارتر د «لاروشل» د ښار په یوه ښوونځي کې خپلې زده کړې ته ادامه ورکړه. نوموړی تر ۱۵ کلنی پورې همدغلته په زده کړه بوخت ؤ، خو په دغه ښوونځي کې د زده کوونکو ناوړه حالت او ناسم روزنیز چاپېریال د ده د زړه تنګی لامل شوی ؤ، همغه وو، چې په ۱۹۲۰م کال پلازمېنې پاریس ته واستول شو او دلته د شپې په یوه لېسه کې په زده کړه بوخت شو. په دغه لېسه کې ده له خپل یوه ټولګیوال سره چې «پل نیزان» نومېدو ملګرتیا ټینګه کړه. سارتر په ۱۹۲۲م کال چې عمر یې ۱۷کلونو ته رسېده، له یادې لېسې څخه د فراغت بریلیک تر لاسه کړ. تر فراغت وروسته ده له خپل ملګري نیزان سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه وکړه، چې د پاریس په پوهنتون کې لوړې زده کړې وکړي. دوی په همدغه هوډ، په ۱۹۲۴م کال نوموړي پوهنتون ته لاره پیدا کړه او هلته یې په ګډه سره د یوې مجلې چې «بې نومه کوچینۍ مجله» نومېده په خپرولو باندې پیل وکړ. په ۱۹۲۹م کال سارتر په لومړۍ درجه د دغه پوهنتون د فلسفي علومو له څانګې څخه د خپل فراغت بریلیک تر لاسه کړ. د «سیمون دوبورا» په نوم یوه ښځه په دوهمه درجه او «نیزان» په څلورمه درجه کې راغلل. سارتر د پوهنتون په وروستي یعنې په ۱۹۲۹م کال له خپلې ټولګیوالې «سیمون دوبورا» سره واده وکړ. (٦، ۱۵-۱٦مخونه)

سارتر چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو، د «لوهاورو» او «لیون» په کالجونو کې د فلسفې په تدریس بوخت شو. (٦، ۱۷مخ)

سارتر په المان کې ؤ، چې دوهمې نړیوالې جګړې زور واخیست. په همدې اساس بېرته فرانسې ته راغی، خو څرنګه چې نوموړی تر دغو شېبو پورې له سیاست څخه لیرې سړی ؤ، مګر تر دې وروسته د فرانسې د ژغورنې په فکر کې شو. دی په عین نظامې توب کې، پرته له هېڅ ډول وېرې د جنګ لیکو ته ننووت او د نقشې اخیستونکې په دنده یې پکې پیل وکړ. سارتر د دې کار تر څنګ له فرصتونو څخه په ګټه اخیستو د ۹ میاشتو په اوږدو کې ۲۰۰۰ مخونه لیکنې وکړې، چې وروسته د هغو یوه برخه «د جنګ د ناپوهۍ دفترونه» په نوم چاپ شوه. سارتر د جګړې په لیکو کې په ۱۹۴۰م کال ونیول شو، په ۱۹۴۱م کال له زندانه راخوشي شو.

(٦،۱۷-۱۸مخونه)

د ځینو اثارو نومونه ئې دا دي:

ادبیات څه شي دي؟، دېوال، په دوربین کې، خیرن لاسونه،کلمات، تخیل هستي او نیستي، بې کفنه سړي، په روح کې مړینه،بنده کوټه، نېکمرغه کورنۍ، لوبغاړی او قرباني او داسي نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹٦۴م کال سارتر د نوبل ادبي جایزې مستحق وګڼل شو، خو ده دغه جایزه ونه منله او ویې ویل، چې دغه جایزه د بورژوازي د ایډیالوژۍ په خدمت کې ده. (٦، ۲۲مخ)

په پای کې د سولې، آزادۍ او هستۍ دغه ستر فیلسوف په ۱۹۸۰م کال د ۷۵کلنۍ په عمر د تل لپاره له نړۍ څخه رخصت واخیست، خو نوم یې د تاریخ د یوه ستر شخصیت په توګه نړۍ ته پاتې شو، د نوموړي د خښولو په مراسمو کې چې په پاریس کې تر سره کېدل «۵۰۰۰۰» پنځوس زرو کسانو ګډون کړی ؤ. د سارتر له مړیني څخه درې کاله وروسته مېرمن سیمون دوبورا د «خدای په امانۍ مراسم» په نوم یو کتاب د دغه فیلسوف د ژوند او مړیني په هکله خپور کړ. سیمون دوبورا شپږ ٦ کاله وروسته یعني په ۱۹۸٦م کال د ۷۸ کلو په عمر له ژوند سره مخه ښه وکړه او جسد یې د سارتر د قبر تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

(٦، ۲۵مخ)

- ♣ انسان د انسان دوږخ دی.
- ♣ له ټولو سره مې وفا وکړه او له هیچا مې د وفا تمه ونه کړه، په دې ډول ډېر ارام وم.
- ♣ نړۍ د بې عدالتۍ سیمه ده، که چیرې یې منې، په جرم کې ورسره شریکېږې او که چیرې غواړې بدله یې کړې، په جلاد باندې بدلېږې.
- ♣ هغه ایمان چې یوازې په یوه وسوسه او یوه زمزمه ضعیف شي، ایمان نه بلکې یو خیال او سراب دی.
- ♣ خبره دا نه ده، چې یو شی له منځه ځي، کوم څه چې له منځه ځي، د هغو یاد هم له منځه ځي.
- ♣ هغه څه چې بشر ته د ژوند کولو امکان وربښي، عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بشر د ارزښتونو منځته راوړونکی دی.
- انسان د خپل ځان په ساتلو او پاللو باندې مجبور دی.
- ادبیات ښایي ونه شي کولی، د جنګ او وینو تویولو مخه ونیسي، ښایي یو ماشوم هم له مرګه ونه شي ژغورلی، مګر داسې څه کولی شي، چې نړۍ ورباندې فکر وکړي.
- هغه څه چې له سړي څخه یو سست عنصره انسان جوړوي، له عمل څخه تېښته او تسلیمېدل دي.
- هېڅکله په هغه لار مه ځه، چې پای یې درته څرګند نه وي.
- کله چې د انسان کومه اړتیا رفعه شي، بیا نو داسې فکر کوي، لکه هغه اړتیا چې نور هېڅ مفهوم نه لري.
- د ژوند د جګړې پر وړاندې، ماشومان او سپین ږیري په یوه لیکه کې ولاړ وي.
- انسان هغه مهال له خپله ځانه د رضایت احساس کوي، چې کله کوم ښه کار تر سره کوي.
- موږ باید تل اخلاق جوړ کړو او ارزښتونه وپنځوو.
- رقابت پر خپل ځای او رفاقت پر خپل ځای؛ دا دواړه یو د بل مانع نه دي.
- له اسمانه ځمکې ته را اوربدل، عجیبه نه دي، له ځمکې څخه اسمان ته اوربدل عجیبه دي.
- هر څومره چې ژوند سختیږي هغومره اسانیږي.
- بشر باید هره لحظه خپل ځان جوړ کړي.
- هغه څوک چې ډېره بېړه لري، ښایي ژر ورسیږي، خو له ستومانۍ سره.
- قلم چې هر ډول وغواړې خوځي. اصلي خبره دا ده، چې څنګه، د چا لپاره او څه ډول یې خوځوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که چېرې هڅه او کوشش نه وای، بشر به د خپل تمدن څرک هم نه وای لیدلی.
- انسان نه شي کولی، همېشه نرم ووسي، کله نا کله د شخۍ او تندۍ شېبه هم لري.
- زموږ ارزښت په دې کې دی، چې په ژوند کې څه ډول انتخاب کوو.
- په نړۍ کې بشپړه نېکمرغي وجود نه لري، خو ځینې وخت یې نښې نښانې رامعلومېږي.
- فلسفه د پوهېدلو وړ شی ده، نه د یادولو.
- هېڅوک نړۍ ته قهرمان نه راځي.
- ستاسې فکرونه تر هغه وخته پورې حقیقت نه بلل کېږي، تر څو مو په عمل باندې لاس نه وي پورې کړی.
- انسان هغه څه دی، چې دی یې له خپله ځانه جوړوي.
- تاسې آزاد یئ، د آزادۍ لار ځانته په خپله راجوړه کړئ.
- کله چې زموږ مینه له حیواناتو او ماشومانو سره تر حد واوړي، غیر انساني بڼه غوره کوي.
- کله چې بډایان جګړه جوړوي، دا فقیران دي، چې ژوند پکې له لاسه ورکوي.
- په عشق کې یو جمع یو، بېرته یو کېږي.
- خیرنتیاوې په اوبو کې د لاندې لوېږي.
- ژوند له ګډوډۍ او هرج و مرج پرته بل هېڅ شی نه دی.
- ډېر وخت کېږي، چې موږ مړه شوي یو، فقط له هماغه وخته، چې نور د چا په درد نه خورو.
- هیڅ شی، تر زړه اسانه نه ماتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا په ما يو مجبوريت دی، کله چې خپله آزادي غواړم، نو بايد د نورو آزادي هم وغواړم.
- د هستۍ او نېستۍ تر منځ يوه مرموزه رابطه شتون لري.
- انسان همېشه بايلونکی دی، يوازې ناپوهان فکر کوي، چې بايلونکی نه دی.
- ناروغي کله نا کله کوم ژر تېرېدونکی بحران نه وي، پخپله زما د وجود يوه برخه شي او پخپله «زه» شي.
- امن، عدل، آزادي او مساوات د يوې ټولنې د پرمختګ ضامن دي.
- کله چې انسان  هېڅ کار نه کوي، نو داسې فکر کوي، لکه ټول کارونه چې دی کوي.
- مور چې داسې ناراحته او غم لړلي يو، نور له هېڅ شي نه، يوازې له خپله لاسه يو.
- د ژوند چينه د مرګ په خوا بهيږي.
- مړينه کافي نه ده، بايد پر ځای ومرو.
- له تا سره مينه بل څه نه دي، پرته له دې چې تا وادار کړم، چې له ما سره مينه وکړې.
- يوازې په غوښتلو او اراده کولو باندې سړی نه شي کولی، قهرمان شي؛ د قهرمان کېدلو لپاره قهرمانه عمل پکار دی.
- هېڅوک نه پوهيږي، چې د ستونزو او بحران په وخت کې وفادار خلک کومې خوا ته مخ اړوي.
- د خلکو له تصميم پرته، د سبا تاريخ نه شو اټکولی.
- کله چې انسان مړ شي، بيا نو په نړۍ کې ورته «سبا» او «راتلونکی» ارزښت نه لري.
- زما ټول کتابونه د يوه وړي ماشوم لپاره هېڅ ارزښت  نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هېڅ شی په نړۍ کې بې سببه نه دي پیدا شوي، ټولو موجوداتو هغه که لوی دي او که واړه، په دې نړۍ کې یې ځانګړی ځای نیولی دی.
- هر څه پر خپل وخت تر سره کېږي، موږ باید مخکې له مخکې له یوه کار څخه د پایلې تمه ونه لرو.
- لیکل یعنې عمل کول، یعنې تعهد او له خپلې آزادۍ څخه استفاده، مګر باید خبر ووسې، چې له آزادۍ څخه غلطه ګټه وانخلې.
- د عمر له تېرېدو څخه چټک شی په ژوند کې نشته، خو څوک دې ته پام نه کوي.
- په ژوند کې داسې شیان شته، که چیرې مو یو ځل له لاسه ورکړل، بیا به یې هېڅکله تر لاسه نه کړو.
- د انسان په ضمیر کې مخکې له مخکې د ښه والي او بدوالي فطري میل نشته، ښه والی او بدوالی انسان په ژوند کې زده کوي او وروسته خپل ځان ورسره جوړوي.
- هېڅوک نه شي کولی، تر هغو وخته آزاد ووسي، تر څو چې د نورو انسانانو آزادیو ته احترام ونه لري.
- هېڅکله هغه ور مه ډبوه، چې نه پوهېږې، شاته یې څه تېرېږي.
- ډاکټران، چارواکي، قاضیان او مذهبي مشران، نورو انسانانو ته په داسې نظر ګوري، لکه دوی چې پیدا کړي وي.
- تر ټولو زیات غمګین کسان هغه دي، چې تر ټولو زیات خاندي.
- مه پرېږدئ چې بچیان مو وژاړي، ځکه باران هم غنچې له منځه وړي.
- موږ ته د خپل ځان کشفونه، د نورو انسانانو د کشفونې او پېژندنې لامل هم کېږي.
- هغه څوک چې زیاتې خبرې کوي، کم کار یې له لاسه کېږي.
- موږ باید د خپلې آزادۍ لپاره، د ټولو انسانانو آزادي په نظر کې ونیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه شی چې زموږ لپاره ښه دي، د نورو لپاره هم ښه دي.
- ولې یو سړی ډارن او بې کفایته دی، دا ځکه چې هغه پخپله د ځان لپاره د ډار او بې کفایتۍ تصمیم نیولی دی.
- ټول وخت بډایان له بېوزلانو سره پېغور وزمه همدردي ښيي.
- هر څوک کولی شي ووایي، غواړم یو اوچت لوبغاړی، لوی عالم او یا لوی عاشق جوړ شم، خو له بده مرغه، دا هر څه یوازې په الفاظو کې وي.
- په دغه نړۍ کې د انسان مسؤلیت تر دې زیات دی، لکه څنګه چې دی فکر کوي.
- زه تل کولی شم، په خپلواکه توګه انتخاب وکړم، خو باید پوه وم، که چیرې هېڅ انتخاب هم ونه کړم، نو په واقعیت زما دغه نه انتخاب هم یو انتخاب دی.
- دومره جرئت پکار دی، چې وکولی شې، هر څه له لاسه ورکړې، ځکه یوه ورځ نه یوه ورځ هغه څه انسان له لاسه ورکوي، چې د ټول عمر په هڅه او تلاش یې لاسته راوړي دي.
- په ژوند کې زیات تصمیمونه شته، خو موږ باید ټول تصمیمونه ونه نیسو.
- ځینې وخت یوه وړه بې صبري او ټنبلي د دې سبب کېږي، چې ټول هغه څه له لاسه ورکړو، چې د زرګونو هلو ځلو پر اساس مو لاسته راوړي دي.
- که غواړې په ښه ډول ژوندی پاتې شې، نو په خپل ځان کې ځینې هیلې او غوښتنې ووژنه.
- ارزښتونه زموږ له اعمالو څخه را الوزي، هماغه ډول لکه کوم وخت چې په باغ کې قدم وهو او زموږ په راتګ سره مرغان له ونو الوزي.
- استعداد ذاتي او غریزي دی، مګر د ژوندانه په اوږدو کې د هغو په اندازه باندې زیاتونه کېدلی شي.
- حقیقت نه شته، مګر په عمل کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- هېڅوک نه شي ويلی، چې د نقاشۍ د هنر راتلونکی به څه ډول وي او په هېڅ هغه تابلو باندې قضاوت نه شي کېدای، چې تر اوسه لا انځور شوې نه وي.
- زه هېڅ پوه نه شوم، چې ځواني څه ده؟ زه له ماشومتوبه نېغ بوډا شوم.
- يو انسان د نورو انسانانو ثمره ده او په همغه اندازه ارزښت لري لکه نور انسانان چې يې لري.
- بشر هېڅ نه دی، مگر هغه څه چې له ځانه يې جوړوي.
- زما په اند، د ژوند په اړه چې پر هر څه پوهېږم، له کتابونو مې زده کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهاتما گـانـدي



مهنداس کرم چــند گــاندهــې د هــند او ختیـز د شلمې پیړۍ له نومیالیو لاربښوونکو ازادۍ غوښتونکو او سمونوالو څخه و.

مهنداس کرم چند گــانـدي د ۱۸٦۹کال د اکتوبر په (۲) د پور بندر په ښارگوټي کې وزیږید، پور بندر د لویدیز هند د گجـرات ایـالـت اړونـد ښـار دی چې عـربــي سمندرگي تــه ورڅېرمــه پروت دی، د پـلار نوم کرم چند او د مور نوم یې پوتلوبایي (د کرم چند څلورمه میــرمن، چې نــوري یې مــړې شــوې وي، هندو مذهب کله هم لــه یــوې مــېرمنې د زیاتــو سپــارښتـنه نه کوي.) مهنداس یا موهن د خپل پلار په ماشومانو کې تر ټولو کوچنی و. (۱۱،۵مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



گـاندي چې پـه کوم ښـــوونځي کې زده کړه کوله، هغه په انګریزي سیستم جوړ شوی ښوونځی و، تر کومـه ځایه چې اسناد ښي او یا دی په خپله په خپلو اثارو کې اشاره ورته کوي، ګاندي خورا چوپه خولـه زده کـوونکی و، ده په خپلو یادښتونو کې دغه ټکی بیان کړې چې ګواکی دومره غـلی زده کوونکی و چې له خپلو همزولو او هم ټولګیوالو سره یې هم خبرې نه کولې کـله بـه چـې له درسه خلاص شو، نو بیا یـوازی خپـل کور ته روان و، دی یو ځای لیکي چې کله به یې ښوونځی رخصت شو، له خپلو کتابو سره به اخــته و او له هغو به یې سر نه پورته کیده او تل به د هغو په لوستلو بوخت و، په دوولس کلنۍ کې یې لومړنی دوره زده کړې پای ته ورسولې او منځنی دوره یې په راجکوټ کې پیل کړه، همداسی یـې خپـلي زده کـړي په الفرید ښوونځي کې وکړی.

په ۱۸۸۳کال کې یې په خاصو هندي مـراسمــو لـه کستربا نومې ښایسته نجلۍ سره چې دواړه دیارلس کلن و، واده وکړ.(۵، ۱۳مخ)

پـه ۱۸۸۸ کــال د زده کـړه لپاره انګلستان ته ولاړ. ګاندي په ۱۸۹۱کال خپلي ازمویني تر سره کړې، د دغــو دریو کالو په ترڅ کې یې زیات شیان زده کړل، دا باید ووایو چې کله ده ځان او ښکېلاک دواړه وپــېژنــدل، بیا په دغه اړه له ټولو زده کړیو تجربو او بریاوو سره د خپل هیواد په لور راستون شو. (۵،۱٦-۱۷)

- دا په یـاد ولرئ چې علم پرتـه لـه شخصیـتـه او سوداګري پـرتـه لـه اخلاقـو امکـان نـه لـري.
- څوک چې وایي مذهب له سیاست سره کار نه لري هغوی پـه مذهب نـه پوهیږي.
- کـه نشـو کولای چې ازاد ژونـد وکړو بـیـا مـرګ بـهـتـره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اصلي شتمني پيسې، طلا او نقره نـه ده بلکي اصلي شتمني روغ صحت دی.
- هـغه ملت چي د خپل هيواد د پرمختگ په خاطر ئې قربـاني ورکـړې هغه اوس د نړۍ لـه لويـو قدرتونو لرونکو هيوادونـو څخـه دي.
- د سولي لپـاره جنـگ داسي دی لکـه د عدالـت لپـاره جرم کـول.
- څومره چي لـه دين او مذهب سره مينـه لرم هغومره لـه خپـل هيـواد سـره لرم.
- نــه دومره بـېوزلـه چي نـورو تـه احتيـاج شې او نـه دومـره شتـمن چي د کـبر او غـرور نـمونـه شـې.
- داسي ژونـد وکړه لکـه سبا چي مرې او داسي زده کړه وکړه لکه تر ابـده چي پرې ژونـدی يـې.
- ازادي د ازادۍ ارزښـت نـه لري کـه چيري د غلطيو او سهوو زېږونـکې وي.
- سړی پـه ريښتيا هـم خپلـو خلکو تـه د خدمت له کچي سره د لوړتيا او اوچتـتيا وړ کـيـږي.
- کمزوری کـلـه هم ښښـونکی نـه وي بلکي ښښـنـه تـل د پيـاوړي ځانـگړنـه وي.
- کـه مــوږ د دې تـر منځ توپير وکړای شـو چي موږ څه کوو او يـا د څـه کولو تـوان لرو پـه دې توگـه کېدای شـي چي د نړۍ ستونزي پـه يوه خوا او حـل شي.
- پـه مېړاني سـره ښتينی زغـم ان د تيـرو زړونـه هم سوځوي هم ئې ويلي کوي.
- تر هر څه لومړنی زغم او تحمل د فکر زغم او تحمـل دی.
- هــيوادنۍ مـــينه زما د ديـن او مـذهـب اوچــت پړاو دی.
- د بـيـان او قـلـم ازادي د خپـلواکـۍ بـنـسـټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زړورتیا واک تـه رسېدل، اتـلولي او پر دې سربېره ځان تېرېدنـه هغه ورتـیاوې دي چې زموږ لارښـوونکي ئې بـایـد ولـري.
- پیاوړتـیا لـه فـزیـکي وړتیا څخه نـه رامنځـته کیږي بلکي هغه د پیاوړي ارادې بریا ده.
- خپلواکي د ویښـو او بیـدارو خلکو لپـاره ده نـه د خوبـولیـو او بې پرواوو لپـاره.
- هغـه اتـلولي چې پـه تشـــدد سره تـر لاسـه شـي د هغـې پـایـلـه ماتـه او لنـډ مـدتـې ده.
- عدم خشونت بـه هـغـه وخت وي چې موږ لـه هغو کسانو سره مینه وکړو چې لـه موږ کرکه کوي پوهیږو چې د میني پـه دې ستر قانون باندي عمل کول ستونـزمن کار دی مګر د سترو کارونو سرته رسول ستــونــزمن نـه دي.
- لـه نورو نــه ملا تـړ وکړئ د مور او پلار پـه څــېر مینه ورسره وکړئ.
- کـه ونـه کړای شـو چي ازاد واوسـیـږو غـوره ده چې مرګ تـه پـه خلاصه غـېـږه هرکـلـی ووایـو.
- کـه کومـه ورځ ئې وګوابښلې نـو پـوه شـه چي ستـا پـر وړانـدي کـمـزوری دی.
- پـه هر شي کي نوی وتـهـاکئ امـا پـه ملـګرو کي زاړه.
- چا چي بـدي درسره کړې، ښښـل ئې پـخوا نـه بلکي راتـلونکی تغیـروي.
- کـه د ناحقو خبرو د مخالفت جرأت نـه لرې نو چکچکي خو مـه ورتـه کوه.
- مـیـنـه هغه ځـواکمن قدرت دی چې نړۍ ئې پـه واک کي دی او پـه عین حال کي ډېر سـاده ځـواک دی چي پـه اړه ئې تـصـور کـولای شئ.
- زه تر دې بله هیڅ ســتره ګنـاه نـه پېژنم چي بې ګنـاه خلک د خدای پـه نوم تـر فشـار لاندي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مخکي تر دې چي نور قرباني کړو ښه ده چي ځان قرباني کړو.
- له گناه کرکه وکړئ نه له گنهکارانو.
- کېدای شي ته کله هم ونه پېژني چي ستا د کار نتیجه به څه وي مگر که ته هیڅ نه کوې نو بیا خو هیڅ نتیجه مخ ته نه راځي.
- له یوې دروغ خبري سره ډېر دروغ تړل لازم دي.
- ښځه کمزورې گڼل په حقیقت کي د هغې سپکاوی دی.
- د ازادۍ او استقلال لپاره جنگ کول هم جهاد دی.
- انسانیت پخپله یو ځانگړی دین دی چي چندان پیروان نه لري.
- هر بدلون او تغیر چي د نړۍ لپاره ئې هیله لرې لومړی په ځان کي ورغاوه.
- ته باید هغه بدلون واوسې چي ټوله نړۍ یې وگوري.
- څنگه چي جسم ویني ته اړتیا لري، روح هم غښتلي ایمان ته اړتیا لري.
- د ژوند خوشحالي همدا ده چي په اووه میلیارده خلکو کي یو کس درسره له زړه مینه ولري.
- قاتلان که هر څومره هم واک او ځواک ولري په پایله کي د ذلت، بدبختۍ نابودۍ او ناکامۍ سره مخ کیږي.
- تاسي ما په زنځیرونو تړلای، شکنجه کولای او وژلای شئ، خو زما فکر نشي بندي کولای.
- بریا هغه نه ده، چي هیڅکله ماتې ونه خورې، بلکي هغه ده، چي له هري ماتي وروسته بیرته په پښو ودرېږې.
- زما ژوند یو څرگند پېغام دی.
- د عقیدې اختلاف باید دښمنۍ ته وا نه وړي. که نه نو زه او ښځه به مي له ټولو ستر دښمنان د خلکو وای.
- نړۍ د انسانانو له خپلمنځي دښمنۍ او کرکي تنگه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- زه کوښښ کوم، چې خلکو ته د خدمت له لارې خدای ووینم، ځکه پوهېږم خدای نه په جنت او نه په دوږخ کې دی، بلکې له ټولو انسانانو سره دی.
- ډېر داسې خلک شته، چې د یوې نېکمرغۍ لپاره زرګونه بدمرغۍ زغمي.
- نړۍ د مار په څېر ده، چې لاس پر راتېر کړې، نرم او پوست وي، خو زهر ئې وژونکي دي.
- د محمد صلی الله علیه وسلم خبرې یوازې د مسلمانانو خزانه نه ده، بلکې په ټول بشریت پورې تړاو لرې.
- په یاد ولره، زه هغسې باید ونه اوسم، چې ته ئې غواړې. ما پخپله خپل ځان جوړ کړی دی.
- هیڅ څیز د دې مخه نشي نیولای، چې خپلو ګاونډیانو ته له پولو ها خوا خدمت وکړو. دا پولې هیڅکله خدای نه دي رامنځته کړي.
- هماغه بدلون واوسه، چې غواړې په نړۍ کې ئې ووینــې.
- موږ باید خپل عقل نورو ته ونه سپارو او په غړېدلو سترګو خپله موخه وټاکو. د زور او جبر اطاعت ته په ټېټو سترګو تسلیمېدل ډېر زیانمن ختلي تر زور او ظلم لاندې یوه محکوم د خلاصون هیله شته، خو د هغه چا ژغورنه ناشونې ده چې په زړه کې ئې له غلامۍ سره مینه راټوکېدلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارسطو



«ارستو (۳۸۴ مخزېږد ـ ۳۲۲ مخزېږد) یو یوناني فیلسوف او ټولپوهاند یا علامه و. د اپلاتون زده کوونکی او د مقدوني سکندر استاد وو. د ارستو لیکنې په پراخه بوب ساینسي او ټولنیزو اړخونو باندې په دغو ښکالوګانو باندې راڅرخي، ښکلاپوهنه، شاعري، تیاتر، موسیقي، دلیل او منطق رتوریک، ژبپوهنه، سیاست، حکومت، اخلاق، ژونپوهنه، او ژوپوهنې سکالویو ګانې دي. د افلاطون او سقراط ترڅنګه ارستو د غرب د فلسفې مخکښانو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم چې د نیوټن پنځپوهنیزه لړۍ د بریده ډېر مالومات رامنځه کړي و خو د ارستو آندونو د ساینس په پنځپوهنیز ډګر کې د منځینیو پېړیو نوي پوهنیز ډګر کې نویو بدلونونو ته مخه کړه چې دغو نویو آندونو پر له پسې نویو مالوماتي بدلونونو (رنایسنس) ته لار پرانیسته. د ارستو آند د منطق په تګلاریزو زده کړو کې بوخت و. دغو آندونو د ۱۹مې زېږدي پېړۍ په پای کلونو کې د نوي پیر په رسمي منطق تر اصطلاح مالومات رابرسېره کړه.»

ارسطو ویکپیډیا

« ارسطو اتلس کلن و، چې اتن ته ولاړ او د اپلاتون په اکاډمۍ کې شامل شو. شل کاله د هغه شاګرد و او د اپلاتون تر مرګه هلته پاتي شو. د اپلاتون تر مړیني وروسته یې لېسه جوړه کړه. په دې لېسه کې به شاګردانو ته حکمت فلسفه، ریاضي او نجوم ورزده کېدل.

سکندر پخپله وایي: ژوند مې راته پلار راکړی او د ژوندانه فن راته ارسطو زده کړی دی.»

- څوک چي د علم په زده کړه کي مشکلات نشي زغملای، هغه دي د ټول عمر د جهالت مشکلاتو ته تیاری ونیسي.
- یوازي د علم په زده کړه شرف نه حاصلیږي، بلکي عمل هم ضروري دی.
- د عالمانو له مجلس او د کتابونو له مطالعې څخه روښانه او خوشحاله زندګي په لاس راځي.
- وخت د دنیا روح ده.
- څوک چي وخت ضایع کړي پوه شئ، چي وخت به هغه ضایع کړي.
- وخت د الله ج امانت دی د هغه ضایع کول خیانت او بربادي ده.
- د دنیا سره او سپین زر د وخت پر وړاندي هیڅ ارزښت نه لري.
- پر تېر شوي وخت افسوس او پښېماني کول هیڅ ګټه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تېر شوی وخت هیڅکله هم په لاس نه راځي.
- په زړه کي له داسي شي سره رغبت او مینه مه ساته چي ستا د وخت ضایع کېدو لامل وګرځي.
- حکیم او عاقل هغه څوک دی چي خپل غمونه او دردونه لږ کړي نه دا چي په ډیرو لذتونو پسي هڅه وکړي.
- هر څومره چي د خواهشاتو تله سپکه وي انسان هغومره سعادت ته نژدې وي.
- هر څومره چي د یوه سړي فکري او عقلي پانګه زیاتیږي هغومره ئې تعلق له دنیا او د دنیا له خلکو کمیږي.
- د انسانیت تهداب په نېکو اخلاقو ولاړ دی او د اخلاقو تهداب په حوصله رحمې او شفقت ولاړ دی.
- صورت ماسوا له اخلاقو د هغه ګل په څېر دی چي هیڅ خوشبویي نه لري.
- له دوستانو سره داسي اخلاق وکړئ چي په لږ تغیر زوال نه قبلوي.
- د انسان د ادب ښایست دا دی چي له ناوړه کارونو ځان وساتي.
- له ټولو نه ګټور او اسانه کار چوپتیا ده.
- خپل صلاحیتونه رابرسېره کول او هغه په صحیح او مناسب ډول استعمالول انسان ته تلپاتي خوشحالي وربخښي.
- د هر چا پېژندګلوي د هغه له خبرو کیږي.
- ډیري خبري که سمي هم وي د لېونتوب نښه ده.
- که څوک درسره بدي وکړي او یا تاسو له چا سره نېکي وکړئ، دواړه هېر کړئ.
- په ژوند کي لویه فتح او بری دا دی چي پر خپل نفس غالب او کامیاب اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غصه له ناپوهۍ پيل کيږي او په پښېمانۍ ختميږي.
- د بل چا بد او خپل نېکي دواړه هېره کړئ.
- د سړي د همت په اندازه د هغه کارونه هم وي.
- بخيل که دولتمن هم وي ذليل دی.
- د ښځي زړه د سمندر په شان دی په ظاهر خاموش، په باطن کي د توپانونو خاوند دی.
- د ښځي په بريا او ناکامي کي د قوم او ملت بريا او ناکامي ده.
- دوست هغه دی چي د دوست خير غواړي او خير ور ورسوي.
- دوستي يوازي يو ضروري امر نه دی بلکي يوه ډېره شريفه او عزتمنه عاطفه هم ده.
- هغه خلک چي د خير خاوندان دي او د بل خير غواړي مينه ئې رښتينې او حقيقي ده.
- ډېر بې زړه انسان هغه دی، چي له مرگ څخه وېريږي.
- له قناعت څخه ماسېوا مال او دولت څوک نشي مستغني کولای.
- په دوستۍ کې رېښتيا له افلاطون او سقراط څخه هم غوره دي.
- خوشحالي د لوړو صفتونو او عادتونو په روزنه او پالنه کې ده.
- خپلې غوښتنې د دوه ځواکمنو دېوالونو لکه: اراده او عقل تر منځ بندي کړئ.
- د مال او پيسو په گټلو کې منځلاري کوه. ريښتني دوستان پيدا کړه. د خيال پالنه کوه او ذهن ته پراختيا ورکړه.
- انسان بايد پخپلې نېکمرغۍ او يا بدمرغۍ په پوره مېړانه ومني او د نورو په خوشحالۍ دومره خوشحاله شي لکه پخپله خوښۍ چي خوشحاليږي.
- په اصولو کې منځلاري او برابري انسان د کمال بريد ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوستي هغه مينه ده چي له دوست ښخه بيرته انعکاس کوي، له يوې خوا نه وي يعني له دواړو خواوو ښخه وي.
- هغه خلک چي د خير خاوندان دي او د بل خير غواړي مينه ئې يو له بله ذاتي او حــقيقي ده.
- د ميني سترګي عيبــونه نـه ويني.
- مينه له يوې خوا پيدا کېداى شي مګر دوستي له يوه طرفه هيڅکله نه وي.
- مينه او ښځه لازم او ملزوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اجـمـل ښـکـلـی



اجمل ښکلی پر ۱۳۶۲ل کال د ننګرهار ولایت په کامې ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. پر ۱۳۶۵ل کال ئې کورنۍ له جګړو د پښتونخوا سوابۍ ته کډه شوه او هلته ئې د افغان کډوالو په یوه کیمپ کې واړول.
دلته له لږ لږ زده کړو وروسته پر ۱۹۹۲کال د پېښور پر چارسده سړک باندي پرته واحد کړۍ کلي ته راغلي او په یوه پاکستاني مکتب کې داخل شوی و. دلته د مهاجرت د ژوند له کړاو ګاللو او له اقتصادي مجبوریتونو لاهور ته ولاړل. هلته ئې په یوه شخصي اردو مکتب کې زده کړه کوله. اردو او پنجابي ژبې ئې زده کړې. په ۱۹۹۶ کال ئې کډه بیرته پېښور ته راغله. دا هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، چي په افغانستان کي کورنۍ جګړې رواني وې. دلته له دوه کاله زده کړو وروسته له ښوونځي اول نمره فارغ او د سید جمال الدین افغان په شخصي لېسه کي په اووم ټولګي کي داخل شو. خپله د استاد ښکلي په خبره:

«پر همدې کال مي په ښار کې د سید جمال الدین افغان په شخصي لېسه کې ځان داخل کړ او په څلورو میاشتو کې له اوومه ووتم. په سید جمال الدین لېسه کې به په اوړي کې رخصت نه و او په څلورو میاشتو کې به دې یو ټولګی وایه، نو زه په درو کلو کې دولسم ته ورسېدم او چې دولسم ته شوم؛ نو لاړم شهادتنامه مې ترې واخیسته. په پېښور کې مې په افغان قونسلګرۍ کې ټاپه کړه او سیده جلال اباد ته راغلم. د پوهنې په ریاست کې مې د ارزونې امتحان ورکړ او د ننګرهار لېسې په دولسم ټولګي کې کېناستم.»

پر افغانستان  د امریکا د بمبارۍ له پیل سره د لېسې د بندېدو وروسته کامې او بیا لاهور ته ولاړ. بیرته وطن ته له راتګ وروسته په ۱۳۸۱ل کال له دولسم ټولګي فارغ او پر همدې کال د کانکور ازموینې وروسته کامیاب او د کابل پوهنتون پښتو ادبیات ئې ولوستل.

پر ۱۳۸۵ل کال له فراغت وروسته ئې کابل  پوهنتون کي هم ماسټري وکړه او هم پکي استاد و. استاد اجمل ښکلي اوس په کابل کي دوکتورا هم وکړه او په کابل پوهنتون کي د پښتو ادبیاتو استاد دی.

استاد ښکلی نرم او خوږ انسان، پیاوړی لیکوال، خوږ ژبی شاعر او تکړه ژباړن دی. ژباړلي اثار ئې دا دي:

(په بېلابیلو ادیانو کې د الله ج تصور)، (کره کتنه)، (خوشحال خټک/ ژوند و هنر)، (اروپا ته د اعلیحضرت امان الله سفر) او نور...

د استاد ښکلي خپل منظوم او منثور اثار دا دي:

څو انتخابه، سبکپوهه، تصوف او ادب، ترې اوبه. ارمانښار، اوبه خلک، د ژباړې اصول، ادبي زاویې، ادبستان او ځیني نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد ښکلی وخت په وخت د ټولني، ادب او ژبي له غوښتني سره سمي ليکني کوي او تر ادب مينه والو ئې رسوي.

★ ادبيات له موږ سره د ژوند په پېژندلو کې مرسته کوي. کيسې، ناولونه او شاعري راته هغه تجربې بيانوي، چې موږ ورسره نه يو مخ شوي او که ورسره مخ شو؛ نو څنگه چلن ورسره وکړو.
★ ادبيات موږ د دې لپاره لولو؛ چې هغه کارونه پکې وکړو، چې د امکاناتو د نشت له امله يې نه شو کولی.
★ موږ په هنر کې د خپلو واقعي رنځونو علاج هم مومو او ارام هم او دا دواړه پکې داسې غاړه غړې وي، چې توپير يې اسان نه وي.
★ تخيل راته هغه دنيا جوړوي، چې موږ يې غواړو. مطلب دا چې په هنر کې د بشري خواهشونو زبردسته ننداره کولای شو.
★ هنر د هغې گولۍ غوندې دی، چې نشه او درملنه پکې دواړه موجود وي.
★ شاعري ازاد مرغه دی، چې په ونه کې پخپله خوښه راشي، کېني، درته وچکيږي او پخپله مخه لاړ شي.
★ ليکوالي د فکر د انتقال وسيله ده.
★ يو ليکوال چې له خپل هنر سره ربښتينی نه وي، موثره ليکوالي نشي کولای.
★ فرهنگونه هله پرمختگ کوي، چې مثبت متضاد اړخونه پکې وزېږي او پياوړي شي او په افرادو کې د مخالفت او برداشت وړتيا پيدا شي.
★ د خپل پخواني فرهنگ او ادب مطالعه راسره د اوسني فرهنگ او ادب په پېژندلو او پرمختيا کې مرسته کوي.
★ شاعر نړۍ د تعقل نه، د تخييل له زاويې گوري.
★ نوی فکر دی، چې ټولنې، علومو او هنرونو ته نوې لارې پرانيزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ له کوم حسن سره چې د نېکۍ تصور نه وي تړلی د ترخې مڼې غوندې دی.

★ ادبي ژانرونه د ښخو سړکونو غوندې دي چې ښځګر ته د ادب ښځول اسانوي.

★ هنر د ځان تفسیر او د فکرونو ایجاد دی.

★ کوم ملتونه چې عالي هنر نه لري د نړۍ په اړه یې تصور نیمګړی او مبهم وي.

★ عالي ادب راسره د خپل ځان او نړۍ په پېژندلو کې او د ژوند د موخو په ټاکلو کې مرسته کوي.

★ په ټوله کې د هنر موخه د ابهام ایجاد دی او د علم موخه د صراحت.

★ ښه لیکوال هغه دی، چې شتو حقایقو ته له نوې زاویې وګوري او زړو خبرو کې نوي اړخونه پیدا کړي.

★ په کومه ټولنه کې چې د نوي فکر څراغونه بل نه شي، هلته څوک د بدلانه په تپه تیاره لار د پرمختګ پل نه شي اخیستای.

★ د ژوند فیصلې په احساساتو نه کیږي. عقل ته پکې دخالت پکار دی. عقل سړی وېروي نه، معقوله لار ورته ښيي.

★ لیکوالي د سړي فکر منظموي.

★ هنر لکه ماشوم په ناز ناز غټول غواړي او که زور ورسره وشي، غټ به شي خو لوی به نه شي.

★ له خپل هنر سره مینه وکړئ او ورسره رښتیني اوسئ.

★ لیکوالي د ارام سیند غوندي ده، چې په خپل ټاکلي لوري روان وي؛ خو شاعري د توند سېلاب غوندې ده، چې راشي، مخې ته نه ګوري. هر څه په مخه کوي، نو که څوک له سېلابه د سیند د ارامۍ تمه کوي سادګي کوي.

★ نوښت د هر هنر غوندې د لیکوالۍ اساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ څرنګه چې له هنره د یو هنرمن هیله وي، دغسې له شاعره د شاعرۍ او له لیکواله د لیکوالۍ غوښتنې دي.

★ ستا د هنر اصلي غوښتنه دا ده، چې زور به ورسره نه کوې.

★ د لوی لیکوال لیکنه چې لولو، یواځې خپل فکر او معلومات نه پراخوو، د لیکلو لپاره ترې هم ډېر څه اخیستای شو.

★ که نوښت ونه کړو، د ټولنې د ذهني کچې په لوړاوي کې نقش نه شو لوبولای او فرهنګي اضافه نه شو کولای؛ خو نوښت هله کولای شو، چې انکار وکړو او جرأت ولرو.

★ لیکوالي لکه د بل هر هنر غوندې پر له پسې ریاضت غواړي. ریاضت د لیکوالۍ بهرنۍ شرط دی. که ریاضت نه وي د لیکوالۍ پر له پسې وده ټکنۍ شي.

★ لیکوالي مخاطب ته د فکر د انتقال لیکنۍ بڼه ده. د لیکوالۍ څلور کوټیز د مخاطب، فکر و انتقال او لیکنۍ بڼې له مجموعې نه جوړیږي.

★ د ښې لیکوالۍ او شاعرۍ یو صفت حساسیت دی. هینداره چې څومره نازکه وي، هغومره پکې شیان راڼه ښکاري؛ خو د واړه کاڼي په ګوزار هم ماتیږي.

★ کله چې لیکوال، لیکوال او شاعر، شاعر؛ نو پخپله د سبک خاوند شي.

★ د خپلې لیکوالۍ او شاعرۍ پر پرمختګ فکر پکار دی.

★ شعري ارزښتونه هم لکه ویټامینونه ټوله په یوه مېوه کې نه راټولیږي بلکې یو شعر یو راز هنري ارزښت لري، بل بل راز.

★ د انسان ذهن لکه مقناطیس، که زړه دي وي، که نه اغېز به اخلې، نو ښه دا ده، چې سړی د مخالفانو دلایل او د خپل ذهنیت مخالف اثار هم ولولي هله به نو حقیقت ته د ورسېدو لار ومومي.

★ په ادب کې د دروغو او رښتیاوو سکه نه چلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ اغېز داسې دی، لکه له سنځلو سره چې تېر شې او خوږ بوی یې درپورې ونښلي یا لکه څوک درسره خوا کې تېر شي او د لوپټې خوږبویه پیڅکه دې په مخ راکاږي او احساس یې تر څه ساعته ستا پر مخ پاتې وي یا لکه د رنګ دېوال په خوا کې لاړ شې او رنګ یې درپورې شي؛ خو غلا یا سرقت داسې دی، لکه له سنځلې چې ټوله غونچه راوشکوې یا لکه چا چې ټول زړوکی راکاږې یا لکه په رنګېدلي دېوال پورې چې ځان ومښې.

★ که سړی فکر وکړي له هر لیکوال او شاعر نه د سیپۍ غوندې یو خول تاو وي او لیکوال یا شاعر د مرغلرې غوندې د همدې خول په دننه موندای شي. د دې شپاله دېوالونه د فکر له ختې او د ژبې له اوبو جوړ دي، چې وروسته وروسته یې فکر په پخو خښتو او ژبه په سیمټو اوړي.

★ علم او هنر هغه فردي ښېګڼه ده، چې یو کس یې د فرد په توګه له ټولنې سره کوي.

★ هر لیکوال ته پکار دي، چې د خپلو لیکنو تر منځ فکري تسلسل وساتي او چې نوې لیکنه کوي، پر زړو لیکنو فکر وکړي، چې خپله کومه پخوانۍ خبره خو بیرته ردوي نه. دا پر ځان پورې خندا ده او داسې لیکوال له فکري تسلسله برخمن نه وي.

★ تخییل د ژبې هغه تېو تیارو غارونو ته ګوتې ورننباسي، چې علم یې نه شي ورننه ایستای.

★ که څوک له لیکوال نه د کنګرېټ خبرو تمه کوي، سادتوب کوي. د لیکوال کار له ناثابتو حقایقو سره وي.

★ د هنر یو نوم بغاوت دی او هنر د ټولنې هېنداره ده.

★ څرنګه چې د یوه شاعر لپاره حساسیت اړین دی، د لیکوال لپاره هم دی.

★ ښه شاعري او لیکوالي د وخت د شرایطو پر وړاندې حساسه وي او له واره نارامه کېږي، چې بیا مزاحمت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ وخت، وسایل او غوښتنې په ټولنه کې بدلون راولي او د ټولنې له بدلانه سره په هنر کې بدلون راځي. د هر وخت هنر خپل بازار وي. دا بازار د هنر له بدلون سره بدلېږي او هنر په نویو مینه والو پسې ګرځي.

★ که هنرمن له جامد ټولنیز نظامه بغاوت ونه کړي او د عادي کسانو غوندې ورسره روان شي، په ټولنه کې به د پرمختګ مشالونه څنګه بل شي؟

★ ټولنه د لوی هنرمن پر وړاندې د ماشوم غوندې وي، چې که له هنرمنه هر څومره کرکه کوي، خو هنرمن ترې کرکه نه، مینه ورسره کوي او له ګوتې یې نیسي او له ځان سره یې روانوي.

★ بریالۍ شاعري هغه ده، چې خیال او عاطفه پکې غاړه غړۍ وي او د یوه بل له ختمولو نه، پیاوړي کولو سره مرسته وکړي.

★ که د ربښتیني پرمختګ لارې وپېژنو، هیڅوک زموږ د پرمختګ مخه نه شي ډب کولای.

★ څرنګه چې یو کور بې ښځې کور نه دی، داسې یوه ټولنه هم بې ښځې ټولنه نه ده. کور وړه ټولنه ده او ټولنه لوی کور دی.

★ په ژوند کې یو لوی با مانا کار کول چې د انسان پرمختګ او د ټولنې ګټه ورسره تړلې وي؛ د انسان د خوښۍ سبب کېږي او خوښي انسان د ژوند په اړه هیله من کوي او له ژور خپګان او نهیلۍ یې ساتي.

★ د ژور خپګان ښه درملنه دا ده چې ځان بوخت وساتې.

★ زموږ پرمختګ زموږ په خپل لاس کې دی.

★ ژوند لکه د زیارت د منجاور پیوندي جامې، په یوه کمیس کې شل رنګه وي.

★ ځیني یاران له شاتو هم خواږه وي او د وفا په لاره کې له مینه دوه ګامه مخکې وي.

★ مینه اړه ده چې په خپله خوا کې د ځان د اثبات لپاره کرکه هم وزیږوي خو عموماً له مینې نه زموږ شعور مثبت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ مینه انسان ته جهان تعریف کړي.

★ مینه لکه رڼا چې په سترګو کې دي پیدا شوه نړۍ درته رڼا شي د نړۍ هغه حقایق چې پخوا درنه پټ وو اوس درته ښکاره کړي.

★ یـار په مینه کې په مرکز او رقیب په حاشــیه کې.

★ حسن هله حسن شي، چې مینه پرې د تائید مهر ووهي.


★ د مینې کمال دا دی، چې عاطفه د عقل له منګولو باسي او کچ یې لوړوي.

★ مینه داسې یو څیز دی، چې د محبوب ټولې خامۍ مو له سترګو پټوي. یواځې خامۍ نه پټوي، بلکې فزیکي او اخلاقي ښېګڼې یې هم لویوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالـغـفـور لـېـوال



ښاغلی څېړنوال عبدالغفور لېوال د مولوي علي محمد خان حسين خيل زوی دی. په ۱۳۵۲ هـ.ش کال د کابل د جنتي فضا په موسهي ولسوالۍ کي زیږېدلی دی.

استاد لېوال په ۱۹۹۳م کال د اعتبار خان عالي لېسې څخه عمومي اولنمره فارغ شوی دی. په ۲۰۰۰م کال د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه لومړی درجه لیسانس فارغ، په ۲۰۰۸م کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي څانګي کي ماسټري او په ۲۰۱۹م کال د علامه طباطبايي پوهنتون د ادبیاتو دوکتورا کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی لېوال تکړه لیکوال، شاعر، سیاسي، ملي، ادبي او فرهنگي څېره ده. په ژبه، ادب (منثوره او منظومه برخه) او فرهنگ کي ئې نوم ځلوونکي کارونه کړي دي. پخپلو دغو فعالیتونو ئې گڼې مسلکي، هنري او ادبي تصدیقلیکونه ستاینلیکونه او لوحې گټلي دي.

لېوال صاحب په بېلابیلو کلونو کي بېلابیلي دندي تر سره کړي دي. لکه: ویندوی، په سرحدونو او قبایلو کي د ولسمشر ارشد سلاکار، د افغانستان د سیمه ایزو مطالعاتو د مرکز رئیس، د چارو د ادارې په لوی ریاست کي د فرهنگي چارو رئیس او مطبوعاتي سلاکار، د افغانستان لپاره د مرستو د بشري حقونو څېړونکی او نور... همداسي نوري ډېري فرهنگي، ادبي او سیاسي دندي او چاري ئې تر سره کړي دي. په بهر کي ئې په ډېرو کنفرانسونو، سیمینارونو او سمپوزیمونو کي وخت په وخت گډون کړی دی.

استاد لېوال په پښتو، دري او انگلیسي ژبو پوهېږي. اوس هم په ایران کي د افغانستان د لوی سفیر او فوق العاده استازي دنده لري.

تر ۲۰۰ زیاتي سیاسي، ټولنیزي، ادبي، ژورنالیستیکي، ارواپوهنیزي او علمي مقالې ئې په ملي او نړیوالو کتابونو، خپرونو او ویبپاڼو کي خپرې شوي دي.

استاد په ډېره ښکلي او هنري ژبه تاریخي او حماسي منظومې هم لیکلي دي. څېړني او ژباړي ئې هم کړي دي. له ډېرو اثارو ئې ځیني د نمونې په ډول:

منثور:

ادبي یاداښتونه، ادبي لیدلوري، د وربښمو تول، شعري سیمبولونه، دربیمه لار، افغانیزم، ویښتیا، روښانتیا او بدلون، د ژبښووني ارونه، په ادبیاتو کي د اسطورې څېړنه...

شعري ټولگي: کله چي ته خپه شې، ژړا، اور او مینه، نه ته مي هېره نه وې، تا د اوبو په حافظه کي وینم، ته زما ټوله شاعري یې، گلغوټۍ ته اووم سرود...

منظومې: ارشاک او اوشاس، هوسۍ، کک او زرینه، لام او ایلینو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هيڅ جګړه مار د ټولو لپاره اتل نه دی.
- د انساني ژوند د شرايطو د ښېګڼې لپاره هر څاند د ټولو اتل دی، ان د دوښمنانو لپاره يې هم.
- بشر به مجبور وي يا مختار، خو قطعاً د (بل) په وړاندې د خپل چلند مسؤل دی.
- د لرغونيو خرافاتي باورونو پر وړاندې پاڅون، د ټولنو د معنوي پرمختګ راز دی.
- سياست هغه منسجم، متشکل، برنامه شوی فکر و عمل دی، چې په ټولنيز کچ د وګړيو د انساني ژوند شرايط ښه کړي.
- شخړه او سوله د سياسي منطق او جهالت د مخامختيا دوه حالتونه دي. سوله د سياسي تعقل بريا ده او جګړه د جهالت.
- په روښانه ټولنو کې د عامه امنيت لويه برخه د ټولنيزو اخلاقو بنسټ ساتي.
- څومره چې ټولنيز اخلاق پراخيږي، هماغومره د فردي او کورني حريم ساتنې لپاره تاوتريخجن حساسيت کميږي.
- د بشريت تاريخ له عجايبو ډک دی.
- هر څوک چې د يوه ارزښت پاتېدا د هغه تر راخپلولو غوره ګڼي تر نورو زيات ورته ګران دی.
- سياست د منطق سيالي ده.
- بشري تمدن د ټولو انساني پرګنو ګډ مېراث دی او هر چا په خپل وار يو څه وربښلي دي، چې هېڅ قوم يې د ورځانګړي کولو رښته نه لري.
- چې د انسانانو د اعتقادي دعوو او عملي کړنو تر منځ توپير و تضاد ته ځير شې، ريښتينولي او صداقت به درته د بشريت ورکه ښکاره شي.
- مدنيتونه زيږي، عمر کوي او زړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ريښتينی ښوونکی هغه دی چې ستاسو شخصيت ته دومره وړتيا دروبښي چې چاپېريال مو د انسان په ګټه بدل کړلای شي.
- تر هغو مو، چې د نيمو قاتلان د نيمو نورو اتلان وي، سوله به په سترګو ونه وينئ.
- شخصيت وژنه تر شخص وژنې ستر جنايت دی.
- له درده مړ شه، خو هغه درمل مه خوره، چې د سر دوښمن يې دروښيي.
- پياوړې ټولنه، پر ژوند خپل سياسي مشران ځاري او ښلارۍ ته يې نه پرېږدي. کمزورې ټولنه په ړندو سترګو ورپسې وي او تر مړينې وروسته يې په اړه قضاوت کوي.
- چې پرمختګ ته مو ځورېږي، شخړه مه ورسره کوئ، بس د لا نور پرمختګ هڅه وکړئ، چې ومري.
- سوله ګټونکی او بايلونکی نه لري! د سولې دواړه لوري ګټونکي وي.
- فساد تر هغو نه ورکېږي، چې موږ مفسدين مقدس ګڼو.
- تاريخ په اعمالو او د اعمالو پر پايلو قضاوت کوي، نه پر نېتونو او دعوو.
- ريښتيني اتلان هغه دي، چې فکر و عمل يې د انسانانو د ژغورنې او د انساني ژوند د شرايطو د ښه والي لپاره وي.
- خپل ريښتيني دوستان هغوی وټاکئ، چې په لويو ارمانونو او ارزښتونو کې درسره شريک وي.
- د متمدن انسان نښه دا ده، چې د انساني ژوند ارزښت پېژني او د دغه ارزښت د ټوليز کېدو لپاره هڅه کوي.
- ملتونه له ډوډۍ، اوبو او هوا پرته ژوندي پاتېدلای شي، خو که اخلاق يې له لاسه ورکړل، نو پر معنوي مرګ يې مړه وبولئ.
- هغه ملتونه، چې د خپلو هويتي ارزښتونو پر وړاندي حساس شي، دا يې د ويښتابه لومړنۍ نښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې دوښمن دي ترې ویرېږي، پوه شه چې ستا په کي ګټه ده، هغې بلا ته ورغاړه وتل په کار دي.
- خرافات په وچو نصیحتونو له منځه نه ځي، د عقلاني ځایناستو په زور پیکه کېدلای شي.
- چې د انسانوژنې په مټ واک غواړي، پاچا به شي، خو د هدیرو!
- هغه ملتونه پرمختګ او بدلون ته رسیږي، چې د خپلو بدو عادتونو په اړه د منښت، ځیرني، پرې پوهېدنې او سمونې اراده او زغم ولري.
- که ټولنیز چاپېریال ککړ شو، بیا نو یوازې همدومره هڅه بویه، چې شخصیتي حریم له ککړتیا څخه وساتې. دا بیا دوهم ګام دی، چې که دلته دې دریځ پیاوړی کړ، بیرته ورو ورو د چاپېریال پاکولو ته پیل وکړې.
- که د نورو له وهلو یا وژلو پرې راګرځي، پرېږدئ، چې ځان ووهي یا ځان ووژني. نېکمرغي ده، چې سادیستان (بل ځوروونکی) په ماسوخیستانو (ځان ځورونکیو) بدل شي.
- د ولولو ځوښ د عقلي پرېکړو د بریا لپاره وکاروئ! هیڅکله عقل د ولولو پښتو ته مه حلالوئ.
- عقل استخدام کړئ، چې ستاسو عواطف او انساني ارزښتونه ستاسو د شخصیت د ودې او لوړتیا لپاره وکارولای شي.
- عقل و فکر موږ ژوند کولو ته رابولي او د ښه ژوند کولو لپاره د وسایلو رامنځته کولو ته مو هڅوي.
- د ژوند تر پایه هر (انسان) خپل تر ټولو نژدې کس وګڼئ او ورته موسک شئ کرکه هېره کړئ او عاطفه و خواخوږي مو عادت وګرځوئ.
- د واک لپاره د عقیدوي ماهیت بدلول، عقیده له منځه وړي.
- مثبت اوسئ او د وطن و ټولنې د ژغورلو لپاره مثبته فضا پیاوړې کړئ. دا زموږ و ستاسو هر یوه اخلاقي مسؤلیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ګڼو خرافاتي وګړيو ټولګه خرافاتي ټولنه او د ګڼو عقلاني هغو عقلاني ټولنه جوړوي.
- تر څو چې ټولنه هوسا نه وي، وګړی (فرد) هوسا کېدلای نه شي.
- تر هغو چې د يوې ژبې ويونکي ځواکمن نه شي، ژبه ځواکمنېدای نه شي.
- ريښتينې پوهه ژوند دی.
- فکري ابتذال دا دی، چې خبرې ډيرې کېږي، خو نوي فکرونه نه لېږدوي او د ټولنې پر پوهېدنې څه نه ورزياتوي. په سختۍ مو له يو څه خبروي خو پوهوي مو نه.
- فکري اختناق دا دی، چې د نوي فکر او د بل پوهولو د صلاحيت خاوند ځکه خوله پټه نيولې وي، چې ټولنه يې يا په خبرو نه پوهيږي او يا نه غواړي پرې پوه شي.
- غوره (نخبه) شخصيتونه مثبت افکار توليدوي، عالي شخصيتونه توليد شوي افکار مصرفوي، پريوتي کسان، چې دواړه پورتني استعدادونه نه لري، په نورو پسې خبري کوي. د بشريت بدمرغي دا ده، چې دريېمه ډله اکثريت دي.
- مورنۍ ژبې ته تر ټولو لوی کار دا دی، چې انسان ته د ګټې او خير رسولو پوهه او ادبيات په کې ډېر شي.
- که مينه نه وای، شاعري به نه وه او هنر به چا نه پېژاند.
- مينې ته هم يو و بل تعبير و تفسير مه لټوئ، سمه سپېڅلې ئې ووايئ، مينه يعنې د شاعر/ شاعرې له معشوقې/ معشوق سره مينه، بس خلاص.
- هنر ښکلا او ادبيات افکار رامنځته کوي.
- ادبيات د ژبې هنري بڼه ده او هنر مخامخ له ښکلا او خوند سره اړيکې لري.
- شعر او هنر يوازې يوه موخه (غايه، هدف) لري او بس، ښکلا.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- ښه و خوندوره مطالعه هغه ده، چې هم پوښتنې راپنځوي او هم يې ځوابونه.
- زده کړه پخپله يو ارزښت دی، خو تر شا يې يو بل لوی ارزښت هم شته، په نوي څه د پوهېدلو خوند او له دې خوند سره روږدي کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیف تولستوی



د لیف تولستوی پوره نوم لیف نیکولایوویچ تولستوی دی. د ۱۸۲۸م کال د سپټمبر پر ۹ نېټه د مسکو په ۱۶۰ کېلو مترۍ کې د تولاد ښار ګوټي د «یاسنیا پلینا» سیمه کې زیږېدلی دی.

روس لیکوال، متفکر، پر خپل هیواد سربښندونکی سرتېری، ګراف لیف نیکولایوویچ تولستوی، پلار یې نیکولای تولستوی او مور یې ماریا ولکونسکي نومېدل. تر ټولو پېژندل شوی روس لیکوال، متفکر، د روسیې د سواستوپول د جګړو سپاهي، روښان اندی، مقاله لیکونکی، مذهبي مشر، د داسې مذهبي مقالو او نظریو لیکوال و، چې په دودیزو افکارو کې د نوې لاره خاوند بلل شوی دی. (۸، ۲۴م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیف نیکولایو ویچ تولستوی، لا د دوو کلو و، چې مور یې مړه شوه. د نهه کلو و، چې پلار یې مړ شو. هغه وخت د بډایانو ماشومان، بهرنیو روزونکو چې زیاتره هغه یې فرانسوي وو، روزل. تولستوی هم د خپلوانو او بهرنیو روزونکو تر څارنې لاندې وروزل شو. د هغه مور و پلار پنځه ماشومان درلودل. دی د کورنۍ څلورم ماشوم و. ده درې ورونه، چې ټول تر ده نه مشران وو او یوه خور چې تر ده نه کشره وه درلوده، لکه څنګه چې مو وویل، د ده مور او پلار د دوی په ماشومتوب کې مړ شول. د دوی روزنه خورا لرو خپلوانو کوله. (۸، ۲۹مخ)

د تولستوی لومړنی ښوونکې، یوه فرانسوۍ وه. د هغې ترور ، فرانسوۍ روزونکې او د ښوونځیو ځینو نورو ښوونکو هغه ته بشپړې زده کړې ورکړې. لکه چې یادونه وشوه، د ۱۸۴۴ کال د اکتوبر په میاشت کې تولستوی د کازان د پوهنتون د ختیځو ادبیاتو په څانګې کي لوړې زده کړي پیل کړې... . په نوبتي ازموینو کې د دغه ځوان د روسیې د تاریخ، د مضمون نتایج د قناعت وړ نه و، هغه ته د دغه مضمون د تکرار سپارښتنه وشوه، نو هغه و، چې ده ځان د حقوقو پوهنځي ته بدل کړ. هلته هم دی په دې مضمون کې پاتې راغي. هغه و، چې پر ۱۸۴۷ کال یې پوهنتون پرېښود. تولستوی، د پوهنتون تر پرېښودلو وروسته، پر ۱۸۴۷کال، خپلې پلارنۍ سیمې ته لاړ او هلته میشت شو. دغه ځوان لیکوال، له خپلو بزګرانو او نورو مزدورانو سره د حاکم او بادار پر ځای نوي اړیکي پیل کړل. او له دې سره یې هممهاله د ژان ژاک روسو د آثارو مطالعې ته دوام ورکړ او کرار کرار یې له تمدن سره تربګنې پیل شوه. له دې سره هممهاله هغه د موسیقۍ زده کړې، انګریزي ژبې او د حقوقو لوستلو ته دوام ورکړ. د ده خاطرات او یونلیک ښیي، چې ده خیریه کارونه هم کول او پر ۱۸۴۹ کال کې د خوارو بزګرانو ماشومانو لپاره یو ښوونځی هم جوړ کړ. هغه ښه پیانو غږوله او کلاسیکه موسیقي یې ډېره خوښېده.

(۸، ۳۰-۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولستوی، څلور دېرش کلن و، خو پېغله صوفیا [د ده مېرمن] لا د ۱۸ کالو وه. دوی چې پر ۱۸٦۲کال واده سره وکړ، لیف تر ښځې ١٦ کاله مشر و. هغوی تر ډېره پورې خورا ښه او نیکمرغه ژوند درلود. صوفیا، نه یوازې د هغه خورا ښه ملګرې، باوفا ښځه بلکې ده ته په کار او ادبیاتو کې ښه مرستندویه هم وه. له واده سره د لیکوال نیکمرغي پیل شوه. د دغې ښځې د پوهې علمي شتمنۍ او هنري ذوق له برکته، لیف تولستوی لومړی په روسیه او بیا په نړۍ کې ستر شهرت او ویاړ تر لاسه کړ... د غې نیکمرغي جوړې، تر ډېرو کالو ګډ ژونده وروسته، څکه ونه شو کولای خواږه ژوند ته دوام ورکړي، چې تولستوی د خپل ژوند بڼه او هیلې بدلې کړې، خو سره له دې هم دوی ۱۳ ماشومان درلودل. (۸، ۳۴مخ)

لیف تولستوی د ۱۹۱۰ م کال د نومبر پر ۲۰مه نېټه مړ او د یاسنیا پلینا په سیمه کې ښخ شو. اثار ئې دا دي: جګړه او سوله، زلمیتوب، سپېڅلی اختر، ابلیس، قزاقان، د مرګ سرود، ارباب او نوکر، هنر څه ته وایي؟ شیطان او پیسې، بې پایه مینه...

- ایمان د ژوند رښتینې معنا او له هغه نه خبرتیا ده.
- د خدای قدرت ستاسو په زړه کې نغښتی دی.
- خلکو ته زه د اپلتو له امله ګران یم. د جګړې او سولې او نورو داسې اپلتو له امله، هغوی ته دا اپلتې خورا غوره برېښي.
- یوازې د خپلې خاورې بچیان خپله خاوره ژغورلای شي.
- هر هغه ملت چې ځان له غاصب واکمن نه وژغوري، بېشکه چې د قانوني ټولواک په پناه کې به ژوند کوي.
- که ټولې جګړې د عقیدو لپاره وای، اصلاً به جګړې نه کېدې.
- مینه، نه ځمکنی بلکې یو اسماني احساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې کله د ښځو ربښتينې خبره برلاسې شي، له ځانغوښتنې، ځانستاينې او بربادۍ پرته هلته بل څه نشته.
- آن په خورا نژدې او ساده دوستانه اړيکو کې لږه خوږ ژبې او ستاينې په کار دي. لکه هغه غوړ، چې د کوم څرخ د ښې خوځېدا لپاره په کار وي.
- دا مهمه نه ده، چې څه کار، مهمه دا ده چې هر څه او هر چېري وي، چې ته هلته او په هغه کې خوښ اوسې.
- هر څوک ځانته يو راز لري.
- د جګړې په ډګر کې هم خدای مهربانه دی.
- څه چې خدای کوي، هغه به کېږي. که د خپل کور په بړستن کې هم پروت وې، د مرګ نه هېريږي.
- نظم د کړو اصلي جرړه ده.
- د انسان د ټولو نيمګړتياوو سرچينې يوازې دوې دي؛ بېکاري او په خرافاتو باور. او د انساني ښېګڼو سرچينې هم دوې دي. يو کار بل عقل.
- تر غرمې وروسته خوب سپين زر او تر هغې مخکې سره زر دي.
- کله کله د حالاتو جبر تر انساني هيلو پياوړی وي.
- انسان بايد کله کله ځان د نورو په تصور کړي. په دې ټولو شيانو چې پوه شي، بيا ښښل ګران نه وي.
- هاغه شان موسکا چې د ځينو کسانو د خبرو د اورېدو په وخت کې؛ ګومان کوو، چې د هغو سپېڅلی ګوګل په غوره توګه وينو.
- وزګاري سړی ستړی کوي.
- تر هغه چې مين شوي نه يو، ويده يو. د اديرې خاورې ايرې يو. خو کله چې مين شو اسماني روح په موږ کې ننوزي، ساه رابښي، د ازل د سپېدو په څېر سپېڅلي کيږو.
- هر هغه څوک چې برخه يې وي، خپله يې پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که انسان په دې پوهېدای، چې له مرگه وروسته پر ده څه راځي، نو هيڅکله به له مرگه نه ډارېدی.
- هره چاره يو پای لري.
- د ډار شوي څېرې حالت او د اندام ناښکلاوالی هغه څه نه دي، چې ښکلي کړی شي.
- که هر څومره د قاب اډانه او شاوخوا ښکلې شي، بيا يې هم منځپانگه هماغه وي، چې وي.
- [کله کله] ټينگار بې گټې او آن د بې رحمۍ نښه وي.
- داسې ژوند کوه، چې د هري پيښې زغم ته چمتو و اوسئ.
- د خدای له ارادې پرته يو وېښته هم د انسان په سر کې نه بې ځايه کېږي.
- ساده هغه څوک دی، چې پر هر څه پسې ژاړي.
- جگړيز عمليات هم د ساعت د منځني جوړښت د خوځېدا په بڼه دي. جگړيز عمليات هم لکه د ساعت په شان، همدا چې لومړۍ خوځېدا پيل شوه، له هر دليله پرته تر وروستۍ پايلې دوام پيدا کوي.
- په جگړه کې د ځوانانو لېوالتيا او مېړانه د زړو تر تجربو زياته لاړښوونکې ده.
- څومره به ښه وای، که انسان پوهېدای، په دې نړۍ کې د مرستې او خواخوږۍ لپاره چېرته او چا ته ورودانگي او له مرگ وروسته د خاورو په زړه کې څه ته سترگې په لاره و اوسي.
- وياله چې هر څومره پاکه وي، کله نا کله په کې مردارې اوبه راځي، څوک دی، چې په ژوند کې يې يوه ، نيمه تېروتنه نه وي کړې.
- موږ يوازې په دې پوهېدای شو، پوه شو، چې په هيڅ نه پوهيږو. دا د انساني پوهې تر ټولو لوړه پوله ده.
- يوازې خدای دی، چې مرستندوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرگ، چې هر څه پای ته رسوي، غواړې که نه غواړي. نن یا سبا رارسېدونکی دی، په ځنډ او که ژر، خو زموږ ژوند، د ابدیت په وړاندې له یوې شېبې زیات بل څه نه دی.
- اسماني حکمت او حقیقت لکه رڼې اوبه داسې دي، چې موږ غواړو، خپله تنده پرې ماته کړو.
- هغه معبد، چې د خدای د ستاینې او لمانځنې وړتیا پیدا کوي، خښته په خښته لوړېږي او ودانیږي.
- د نېکمرغۍ سرچینې د باندې، نه، بلکې په خپل ځان کې دي.
- هر بې لارې ته، چې هر څوک دی، لارښوونه کوه او هر لوېدلي ته لاس ورکوه.
- تل خواخوږی او مهربان اوسه. په هر زړه کې د مینې او صفایي ډېوه بلوه.
- په خپلو نېکمرغیو کې دي، خپل خپلوان او ورونه شریک گڼه او هیڅکله د دغه سپېڅلوالي خوند په رخه او کرکه مه لړه.
- دښمنان دي بخښه او له خواخوږۍ نه پرته، په بله وسیله له هغه غچ مه اخله.
- که موږ غواړو د هر څه په اړه قضاوت او خبرې وکړو، هیڅ غوره او سپېڅلی شی به پاتې نه شي.
- د ښو ملگرو پیدا کول ډېر لوی نعمت دی.
- د احساساتو په سیند کې لاهو او برمته شوي انسانان باید د پوهې په رڼا وگاڼل شي.
- حکومتونه باید خپلې ورځنۍ چارې تر سره او له هر ډول اغېزو نه خپلواک وي.
- کله کله تش خیالونه د انسان ذهن ته ورځي.
- نېکمرغه هغه څوک دی چې په خپل کور کې نېکمرغه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د غوره نظام بنسټ باید پر هغه څه ودریږي، چې په هغه کې انسانان ارادتمند، سپېڅل اندي او عقاید یې د یووالي له مینې ډک وي.
- عقل زور زیاتي ته اړتیا نه لري.
- د ریښتیني حقیقت د خورېدو او د پوهې د رڼا د بري لپاره باید انسانان له ناولتیا پاک او د هغو د روح د بهیر قوانین د زمانې د روح له غوښتنو سره برابر او هر پلو خواره کړو.
- وختونه درومي، خو ویل شوې خبرې همداسې پاتېږي.
- ټولې نیکمرغې کورنۍ یو بل ته ورته دی، خو هر بدمرغه کورنۍ په خپل ډول بدمرغه ده.
- هر هغه اصلاحات، چې د زور له لارې تر سره شي، هغه د درناوي وړ نه دي.
- د پوهې او علم زده کړې او منلو لپاره، انسان باید خپل زړه له هر ډول ناولتیا نه سپېڅلی کړي. هغه نوی کړي او د دې کار لپاره تر پوهې نه مخکې باید ایمان ولرو او د هغه د کمال هڅه وکړو. دغه ارمان ته د رسېدو لپاره، باید د خدای ځلا، چې موږ یې وجدان نوموو په ځان کې ځای او ونغاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماخذونـه:**


۱ـ ځيني ويبپاڼې.

۲ـ صفا، مصطفی. نړيوال ادبيات. ۱۳۹٦ل گودر خپرندويه ټولنه جلال اباد

۳ـ احمد، ډاکټر احمد جان. د شرق ستوری افغان سيد جمال الدين ۱۳۸۸ل عنايت خپروندويـه ټولنه

۴ـ صابر، سيد احمد. د پوهانو خبري.۱۳۸۸ل کال. سنځر خپرندويه ټولنـه کندهار

۵ــ رشيد، عبدالخالق مهاتما گاندي ـ ژوند، فکر او مبارزه ۲۰۱۵/۱۳۹۴ د افغانستان ملي تحريک

٦ــ صفا، مصطفی. ژان پل سارتر(د سارتر ژوند، فلسفه او ويناوې) **pdf .ketabtoon.com**

۷ـ اشفاق، ملک.د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه.ژباړن، زاهد خليلي.**pdf .ketabtoon.com**

۸ ـ تولستوی، جگړه او سوله. ژباړه. بهاند، اصف. ۱او ۲ ټوک **pdf .ketabtoon.com**

۹ـ يون، محمد اسماعيل.د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته يوه کتنه.**pdf .ketabtoon.com**

۱۰ـ مياخېل، عطامحمد. زرتار.۲۰۱۹کال. سروش کتاب پلورنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکوال نور اثار:

ستا یادونه زما دردونه/ شاعري

یوه پېړۍ انتظار/ منثوري ټوټې

نیم لېونتوب/ منثوري ټوټې

د مجنون پر پلونو/ راټولونه

ویاړلي څېرې/ همدا اثر

پسرلی ادبي بهیر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**